د کتاب نوم: د سیاست له علم سره اشنایي.

لړلیست

لومړۍ برخه

لیکوال: عقیل پورکیوان

ژباړن: لاهورخان منګل

تاریخ د ژباړې د پیل: ۲۳ اپریل ۲۰۱۶

لومړۍ برخه:

سیاسي مکاتب:

## د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه

دا هغه اعلامیه ده چې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې په کال ۱۹۴۸ د ډسمبر په ۱۰ مه نیټه تصویب کړه او ټولو غړو دولتونو ته یې ددې متن د نشر بلنه ورکړه.همدارنګه له هغو غوښتنه وشوه څو دد ې اعلامیې موجبات او تفسیر پوهنیزه مرکزونو ته ورسوي. ددې اعلامیې اساس د فرانسې د ۱۷۹۱ کال په اساسي قانون کې د بشر حقوقو په اړه راغلې مقدمې څخه اخستل شوی دی. د بشر دحقوقو نړیواله اعلامیه یوه مقدمه او دیرش مادې لري چې په لاندې ډول ذکر شوي دي.

## سیریزه

دا چې د یوې انساني ټولنې د ټولو غړو ذاتي حیثیت او حقوق یو ډول دي او دا اصل بدلیدونکی نه دی په دې اساس دا اصل د خپلواکۍ، عدالت او نړیوالې سولې اساس ګڼل کیږي. دا چې د بشرد حقوقو څخه بې خبري او د هغو تحقیر په وحشي عمل پیژندل شوی او د بشریت روح یې د ګنا لوري ته ګرځولی دی، د یوې داسې نړۍ چې په هغه کې افراد خپلې عقیدې په ازادانه توګه څرګندې کړي، دبیان ازادي تجربه کړي او د ویرې او بې وزلۍ څخه په امن کې وي، د بشر ترټولو لوړه غوښتنه او عامه اړتیا ګڼل شوې ده.

ددې لپاره چې بشر د ظلم او فساد په وړاندې انسانان د وروستي پاڅون په توګه پرې نه ښودل شي، انساني حقوق باید د قانون  په اجرا او حاکمیت سره خوندي وساتل شي. له دې کبله اړینه ده چې د دولتونو ترمینځ  دوستانه اړیکو ته پراختیا ورکړل شي.  په داسې حال کې چې  ملګري ملتونو د بشر په اساسي حقونو او همدارنګه  د وګړي/انسان د مقام احترام  او د ښځې او نر په مساوي حقوقو یې په خپل نوي منشور کې اعلان  او  کلک هوډ یې کړی څو ټولنیز ژوند پرمختګ او همدارنګه د ژوند لپاره  ازاد چاپیریال رامینځ ته کړي.

د ملګرو ملتونو غړو دولتونو ژمنه کړې ده چې د نړیوال احترام او د بشر حقوقو لپاره ربښتینی احترام او اساسي خپلواکي  د ډاډ او دهغې څخه د ځار لپاره به د ملګرو ملتونو له سازمان سره  لاسنیوی او همکاري کوي.

له دې کبله ددې حقونو او ازادي پیژندنه ددې ژمنې د عملي کولو لپاره خورا ارزښت لري. نو ددې لپاره د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي/غونډې د بشر حقوقو د نړیوالې اعلامیې اعلان د ټولو خلکو او دولتونو ګډه هیله  ده څو د ټولنې ټول غړي او ارګانونه دا اعلامیه د تل لپاره په نظر کې وساتي او زیار وباسي څو دغه حقوق نورو ته وروښودل شي او همدارنګه پراختیا وومومي او د تدریجي تدبیر په نیولو سره په ملي او نړیواله کچه  د ملګرو ملتونو او همدارنګه د هغه ملتونو ترمینځ چې شریکې پولې لري و پیژندل شي او په ورته وخت کې ترې نظارت وکړلای شي.

۱: ټول انسانان ازاد پیدا شوي دي او د حیثیت او حقوقو په لحاظ سره  برابر دي.

۲:  ټول حقوق چې په دې اعلامیه کې ذکر شوي دي، هرڅوک کولای شي پرته له دې چې نژاد، رنګ، جنس، ژبه، دین، عقیده، ملیت، ټولنیز وضعیت، ثروت، پیدایښت ،جغرافیاوي موقعیت،، یا د پیدایښت ځرنګوالی،  ګټه ترې اخستلای شي او مستحق یې دي. له دوی سره له دې امله چې د حکومت سیاسي وضع یې څه ډول وي، یا داچې ددې حکومت چې وګړی پرې تړاو لري  نړیوال وضیعت څه ډول وي، هغه که حکومت خپلواکه وي او یا هم په هر شکل د حکومت حاکمیت محدود وي، تبعیض نه شي کیدلای.

۳: هرڅوک د ازاد ژوند کولو او د ځان د امنیت حق لري.

۴:  هیڅوک نه شي کولای چې څوک  په مریتوب او یا هم غلامي ونیسي. دمریتوب نیول چې په هر شکل وي، ممنوع دي.

۵: هیڅوک نه شي کولای چې چاته شکنجه ورکړي او یا هم داسې چلند وکړي چې هغه ظالمانه  او د انسانیت خلاف وي.

۶:  د قانون په وړاندې، هرڅوک حق لري چې حقوقي شخصیت ته یې په هرځای کې د انسان په توګه احترام قایل شي.

۷: ټول انسانان د قانون په وړاندې مساوي دي او حق لري چې پرته له تبعیضه د قانوني ساتنې څخه برخمن شي. هرڅوک حق لري چې د اعلامیې د هرې مادې څخه د سرغړونې له کبله د تبعیض سره مخ شي او یا هم هر عمل چې د دا ډول تبعیض لپاره  ترسره کیږي، د قانون د ملاتړ څخه په مساوي توګه برخمن شي.

۸:د هغه اعمالو په وړاندې چې د وګړي په اساسي حقوقو یې تجاوز او تیری کړی وي او دا حقوق ورته اساسي قانون او یا هم کوم بل قانون  ورکړي وي، وګړی کولای شي چې  ملي محاکمو ته د حقوقو د ددفاع  په موخه رجوع وکړي.

۹:  هیڅوک نه شي کولای چې کوم وګړی په خپل سر توقیف، حبس او یا هم تبعید کړي.

۱۰: هروګړی حق لري چې په  محکمه کې یې دعوا په ،منصفانه ، بې پرې ، علني توګه و څیړل شي او همدا محکمه د وګړي په اړه د هرډول الزام او جزایي تور لپاره پریکړه ونیسي.

۱۱: هر تورن ترهغې بې ګناه شمېرل کیږي څو چې ددعوا په بهیر کې دمحکمې په وړاندې ورته ددفاع لپاره  لازم تضمین ورکړل شوی نه وي او د قانون له لوري مجرم پیژندل شوی نه وي. همدارنګه هیڅوک پر ګنا باندې دداسې عمل په ترسره کولو او یا هم  پریښودلو باندې مجرم نه پیژندل کیږي څو چې هغه عمل د ملي او یا هم نړیوال قانون په رڼا کې د هغه د اجرا او یا پریښولو په وخت کې جرم نه وي پیژندل شوی.

۱۲:  د یو چا په شخصي ژوند، کورنیو چارو، د اوسیدلو په ځای او یا هم  دې ته ورته  ملکیت کې باید مداخله ونه کړی شي او یا هم باید د هغوی نوم، شهرت او عزت ته توهین ونه شي. هرڅوک حق لري چې ددې ډول لاس وهنې په وړاندې ترې قانوني ملاتړ او له فاع څخه برخمن شي.

۱۳:  هرڅوک حق لري چې د هر هېواد د پولې دننه ازادنه  تګ او راتګ وکړي.

۲: هرڅوک حق لري چې د هر هېواد( د خپل هېواد په ګډون) پریږدي، سفر وکړي او یا بیا ځلې خپل هېواد ته ستون شي.

۱۴:  هرڅوک حق لري چې د ځار، شکنجې او ازار څخه د خونديتوب په موخه د پنا غوښتونکی شي او بل هېواد ته د پنا لپاره ولاړ شي(۲) دا حق په هغه وخت کې وګړي ته نه ورکول کيږي چې د قانون په رڼا کې د غير سياسي جرم  پرته د ملګرو ملتونو د اصولو او موخو  سره په تناقض کې واقع وي.

۱۵: (۱) هرڅوک حق لري چې د تابيعت څښتن وي (۲)  هيڅوک نه شي کولای چې په خپل سر څوک د تابيعت او ياد تابيعت د بدلون د حق څخه محروم کړي.

۱۶:  د بالغ عمر درلودونکی نارينه او ښځينه کولای شي چې د  مذهب، مليت، تابيعت او نژاد د محدوديت پرته په خپلو کې سره واده وکړي او کورنۍ تشکيل کړي.(۲) واده بايد يوازې ددواړو (مېړه او ښځې) په پوره رضايت سره رامينځ ته شوی وي. (۳) کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او حق لري څو د حکومت او د ټولنې له مرستې برخمنه شي.

۱۷:  هرکس په فردي او ياهم  په ګډه حق لري چې د جايداد څښتن شي. (۲) هيڅوک د خپل حق څخه څوک نه شي محرومولای.

۱۸: هرڅوک حق لري چې د فکر ، وجدان او مذهبي ازادۍ څخه برخمن شي. دې قانون کې د مذهب، عقيدې  او همدارنګه د مذهب او عقيدې د اظهارولو او د مذهبي تعليماتو ، د ديني مراسمو د اجراکولو خپلواکي هم شامله ده.هرڅوک کولای شي ددې حق څخه يا په فردي ډول او يا هم په ټوليزه توګه خصوصي او يا هم په عامه توګه برخمن شي.

۱۹: هر وګړی بيان د ازادۍ د حق څخه مستحق يانې هر وګړی د خپل نظر د څرګندولو او همدارنګه د مالوماتو د پيدا کولو، راټولولو سره  کولای شي چې د هرډول رسنيو ، هغه که کورنۍ او بهرنۍ وي، څرګند کړي.

۲۰: هرڅوک حق لري چې سوله ييزه ټولنې او اتحاديې رامينځ ته کړي (۲) هيڅوک په زوره نه شي اړ کولای چې د ټولنې غړيتوب يې واخلي (۳)  هرڅوک کولای شي چې د حکومت په عمومي ادارو کې يا نيغ په نيغه او يا هم د ټاکل شويو نماينده ګانو له لارې  برخه واخلي. (۳) هرڅوک حق لري چې د عمومي چوپړتياوو څخه په مساوي توګه برخمن شي. اساس او سرچينه د حکومتي قدرت د خلکو اراده تشکيلوي.  دا اراده بايد د داسې ټولټاکنو له لارې څرګنده شي چې رڼې او په مهالي توګه ترسره کيږي. ټولټاکنې بايد عمومي وي او مساوات بايد پکې مراعات شي چې يا هم د پټې رايې په اچولو سره او يا

هم  دداسې لارې ترسره شي چې د نظارت په پایله کې یې د رای ورکوونکي دازادۍ حق خوندي شوی وي.

۲۲: د ټولنې د یوه غړي په توګه هرڅوک د ټولنیز امنیت حق لري او مجاز دی چې د زیار له لارې د نړیواله همکارۍ، اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي حقوقو په رڼا کې چې د خپل شخصییت خپلواکه خوښه یې ده، د تشکیلاتو په مراعاتولو سره کولای شي د هر هېواد منابع لاس ته راوړي.

۲۳: هرڅوک د کار کولو حق لري او همدارنګه حق لري د کار کولو لپاره مناسب شرایط خوښ کړي او د بې کارۍ په وړاندې ترې ملاتړ وشي. ۲) هرڅوک  پرته له کومه تبعیضه د کار په تناسب د مساوي مزد حق لري(۳)هرڅوک د کار په مقابل کې د لازم مزد مستحق دی چې وکولای شي خپله او کورنۍ یې د انساني ژوند د حیثیت پرې وساتي او که لازمه وي د ټولنیزه مرستې له لارې یې ملاتړ وشي. (۴) هرڅوک حق لري چې د ځان څخه ددفاع لپاره اتحادیه جوړه کړي او یا په نورو اتحادیو کې ګډون وکړي.

۲۴: هرڅوک د تفریح کولو حق لري ، د کاري وخت د ساعتونو په مینځ کې هم د استراحت حق لري  او باید معقوله ساعتونو د کار څخه وروسته ورته د مزد سره سره د مهالي تفریح حق ورکړل شي.

۲۵: هرڅو ک حق لري چې د اوسیدلو لپاره  د ټاکل شوي معیار  په رڼا کې د اوسیدلو، خوراک او د لازمه طبي چوپړتیاوو څخه برخمن شي او همدارنګه حق لري چې د بې کاري ، ناروغي، د کورنۍ د غړو د لاسه ورکولو، د عمر د زیاتوالي ، د کونډتوب او همدارنګه د ټولو هغه مواردو په مهال چې  دانسان د ارادې څخه بهر وي د خوندیتوب او د عزت د ژوند د ملاتړ حق لري.(۲)میندې او ماشومان حق لري چې د ځانګړې مرستې او پاملرنې څخه برخمن شي. ماشومان چې د نکاح او پرته له نکاح پیدا شوي وي، ټول یې د یو ډول ټولنیزه ملاتړ حق لري.

۲۶: هر کس حق لري چې د زده کړې څخه برخمن شي. زده کړې باید مجاني وي او یا هم لږ ترلږه لومړنۍ زده کړې باید وړیا وي. لومړنۍ زده کړې جبري دي. مسلکي او حرفوي زده کړې ټولو ته باید په مساوي ډول شتون ولري. لوړې زده کړې باید د وړتیا په اساس د ټولو په واک کې ورکړل شي څو ټول د وړتیا او استعداد په اساس ترې برخمن شي.(۲) زده کړې او تعلیم باید په داسې ډول تدریس شي چې  هرکس  دې پرمختګ کچه ترووروستۍ هغې ورسیږي چې  انساني شخصیت بشپړ شي او د بشر حقوقو او ازادي احترام

وپیژني.(۳) روزنه باید داسې وشي څو د وګړو ترمینځ پوهاوی او د مخالفو عقایدو لپاره احترام فضارامینځ ته کړي او د مخلتفو ملتونو ترمینځ دوستي ته ارتقا ورکړي. همدارنګه وتوانیږي څو د ملګرو ملتونو د مبارزې په لاره کې د سولې د ساتلو لپاره د فعالیتونو د پراختیا سبب وګرځي.(۴) مور او پلار د اولاد لپاره د زده کړو په خوښونه/انتخاب کې د نورو په پرتله د لومړیتوب لري.

۲۷: هرڅوک حق لري چې د ټولنې په فرهنګي ژوند کې ګډون ولري. کولای شي چې د هنر له ښکلا څخه خوند واخلي او همدارنګه علمي پرمختګونه او ګټې یې د نورو سره شریکې کړي.

(۲)هرڅوک حق لري چې د خپلو اثارو د معنوي ، فرهنګي او هنري ملاتړ څخه برخمن شي.

۲۸: هرڅوک د ټولنیز او نړیوال نظم ، د ټولنیز ه او نړیوالو حقوقو او ازادي څخه چې په دې اعلامیه کې ذکر شوي دي، مستحق دی او کولای شي چې عملي یې کړي.

۲۹: (۱) هرڅوک د ټولنې په وړاندې دنده لري چې د خپل شخصیت کې د پرمختګ به راوستلو سره د خپلې راتلونکې مسیر وټاکي.(۲) هرڅوک د حقوقو په لاسته راوړلو او د ازادۍ څخه په ګټې اخستنې سره یوازې د نورو حقوقو او ازادۍ ته د احترام په چوکاټ کې د محدودیتونو تابع دی او همدرانګه په یوه ډیموکراټیکه ټولنه کې د عمومي نظم ، رفاع او اخلاقي قضایاتو ته د احترام مسولیت لري. (۳) دا حقوق او خپلواکي په هیڅ وخت کې باید ملګرو ملتونو د موخو او اصولو څخه په سرغړونه او مخالفت کې پلي نه شي.

۳۰: په دې اعلامیه کې ذکر شوي هیڅ ماده باید داسې تعبیر او تفسیر نه شي چې دولت، ټولنې او یا فرد ته داسې حق ورکړل شي چې له مخې یې خپلواکي او حقوق له مینځه لاړ شي او یا یې هم مخه ډب شي.

الحاق

د یوې داسې ځمکې چې بې ځښتنه وي او یا هم د دولت حق وي د بل دولت له لوري د ملکیت نیول او دعوا کولو ته الحاق ویل کیږي. الحاق یوه اړخیزه پریکړه وي او یا هم د بل دولت د رضایت پرته هغه یې هم د الحاق د شکلونو څخه شمېرل کیږي. د الحاق په عملي کولو سره د حاکمیت حق ټول لاسته راوړل کیږي او د الحاق شوې خاورې خلک د ملحق حکومت اتباع یا وګړي بلل کیږي.د الحاق نامتو بېلګې د دوهمې نړیوالې جګړې

وروسته د اتریش الحاق او د سودت سیمې د المان په واک کې لویدل یې مشهوره بیلګه بلل کیږي.

## امپریالیزم

دا کلمه په شلمه پیړۍ کې د هغه اروپایي هېوادونو لپاره وکارول شوه چې د ۱۸۸۰ او ۱۹۰۰ ترمینځ یې په اسیایي او افریقایي هېوادونو باندې تسلط رامینځ ته او امپراتورۍ یې جوړې کړلې. امپریالیزم اساسآ دا ډول فعالیتونه د اقتصادي خوځښتونو په نوم پیژني. ددې کلمې وروستی کارول د هغه ډول تعمیم مانا لري چې د یوه هېواد له لوري په بل هېواد باندې بشپړ تسلط ولري د بېلګې په توګه د روسیې له لوري په ختیځه اروپا باندې واک ته روسی امپریالیزم او د چین له لوري په تبت باندې تسلط ته چینایي امپریالیزم ویل کیږي).

## ایتلاف

پارلماني او ټاکنیزه موخو ته درسیدا لپاره د احزابو او سیاسي ډلو ترمینځ لنډمهاله یوځای کیدل یا سازش ته ایتلاف ویل کیږي. ایتلاف عموما په څو حزبه پارلماني نظامونو کې چې هیڅ ګوند په یواځې توګه نه شي کولای واک انحصار کړي، رامینځ ته کیږي. ایتلاف د یوه ځانګړي حکومت د ساتلو او یا هم دهغې د تشکیل لپاره رامینځ ته کیږي. په داسې وخت کې معمولا لوی حزب د یو یا څو کوچنیو حزبونو سره یوځای کیږي او هغوی ته په حکومت کې سهم ورکوي. ایتلاف ښایي چې د منفي موخې لپاره هم سره رامینځ ته شي. یانې د حکومت د راپرځولو لپاره ایتلاف رامینځ ته کیږي د بیلګې په توګه په فرانسه کې چې ددوهمې نړیوالې جګړې وروسته چې ښی لاسي او سخت دریزه کمونستانو ایتلاف څو ځلې د حکومت د راپرځولو سبب شوی دی. په ټاکنیزه ایتلاف کې دوه یا څو حزبونه د سیاسي هوکړې په شتون کې د یوه او بل په ګټه رای ورکوي او حوزې د قدرت په تناسب سره ویشي.

## اپارتایډ( بېلتون)

دا کلمه د جنوبي افریقا د نژادي تبعیض سیاست لپاره چې په ۱۹۴۸ کې یې عملي بڼه پیدا کړې وه، و کارول شوه. په جنوبي افریقا کې چې د ۱۷مې پیړۍ له نیمایي راپدیخوا چې اروپایانو ورته لاس رسی پیدا کړ، نژادي تبعیض شتون درلود او ملي حزب چې په کال

۱۹۴۸م کې واک ته ورسید، د تور پوستو لپاره یې داسې قانون وضع کړ چې د هغوی د ژوند ټولې برخې یې تراغیز لاندې راوستلې. دا قانون یوازې د سپین پوستو د نژاد د ساتنې اوهغوی ته د غوراوي موقف ورکولو لپاره وضع شو او ظاهرا دې قانون ته داسې نوم ورکړل شو چې ګواکې د نژادونو بیلوالی د نژادونو ترمینځ د حقوقو او فرصتونو د برابروالي لپاره وضع شوی دی.د ملي حزب مقرارات د تور پوستو لپاره محدود سیاسي حقوق، د ځای د اوسیدنې انتخاب، مالکیت، د دندې خوښونه او کژدن( واده) کول یې هم د سپین نژاد پرته نورو ټولو نژادونو ته حد ټاکلای و او سپین نژاد ته ورکړل شوي حقوق تور پوستو ته په زیان تعبیر کیده.

اپورتونیزم opportunism

دا کلمه په فرانسوي ژبه کې د فرصت په مانا ده. ( دا کلمه په انګلیسي ژبه کې هم د فرصت په مانا ده. ژباړن) فرصت طلبي، یا چې په عربي ژبه کې ورته ابن الوقتی وایي د شخصي ګټو په موخه د حالاتو د بدلیدا په مهال د لوري( جهت) بدلولو ته ویل کیږي.په سیاست کې اپورټونیست هغه خلکو ته ویل کیږي چې د وخت حاکم سره تړلی وي خو د اصولو پابند نه وي او د فرصت په راتګ سره اصول قرباني کوي.

Autokrateiaاتوکراسي(مطلقه واک/قدرت

دا کلمه چې په یوناني ژبه کې ورته اتوکراسیه وایي داسې واک ته وایي چې لاندینۍ ځانګړنې ولري.

۱: د مراتبو په سلسله کې د فرد ښکاره او یواځینۍ هوکړه.

۲: دداسې قانون او اصولو نشتوالی چې د رهبر د کړنو په ځرانګوالي باندې څارنه وکړي.

۳: د مشر/رهبر په قدرت او واک کې د کچې او محدودیت نشتوالی . داټوکراسۍ نظام ښایي چې د اتباعو لپاره د وفادارۍ او یا هم د هغوی له ویرې رامینځ ته شي.

(ARISTOCRATIE) اریټوکراسي

د خلکو د ګډون په پایله کې د حکومت بڼه

ددې کلمې اصلي مانا په اخلاقو هم توجیه کیدلای شي. دا ډول حکومت ته د نورو له خوا رهبران ټاکل کیږي خو ټاکنې د میراث او وینې په اساس وي نو په دې اساس کیدلای

شي چې دا ډول حکومت ته اشرافي حکومت هم وويل شي. دا ډول حکومت کې قدرت يوازې د يوې ممتازې طبقې په لاس کې وي او هغې ډلې حاکميت د د وراثت او ډلو/طبقو د ځانګړو امتيازاتو په پايله کې لاسته راوړي وي او نورې ټولې طبقې د هغوی مخې ته نه ورځي.

## يهودي اژانس

دا هغه سازمان دی چې د اسرايلو دولت په نړۍ کې دنورو ټولو يهوديانو سره نښلوي. د يو شمېر نورو شرايوطو سره ملګرو ملتونو دا سازمان د فلسطين د ساتنې لپاره انګليس دولت ته وليږه او هغوی ته يې وليکل( د يهودو يو ځانګړی اژانس چې د فلسطين له د ادراي چارو سره د اقتصادي، ټولنيزه او نور اړوند امور چې خپل هېواد ته د يهودو لېږدونه او ځای پرځای کولو کې مرسته کوي، اړينه ده چې په رسميت وپيژندل شي. د يهودو ننی اژانس يو نړيوال سازمان دی. د اسرايلو پارلمان دا اژانس ته د پولو څخه بهر د حقوقو د ساتلو لپاره قانون تصويب کړ او هغه يې د صهيونيزم د اجرايي خوځښت/حرکت په توګه وپيژاند. د يهودي اژانس مهمو دندو څخه يې د هېواد څخه بهر يهودو هڅونه ده څو هغوی اسرايلو ته مهاجرت وکړي، د مهاجرينو جذب، فرهنګي او ټولنيز چوپړتياوې او د نړيواله صهيونيستي سازمانونو سره د هغوی اړيکي نيول او ساتل دي چې غواړي د هېواد په جوړولو کې مرسته وکړي.

## استبداد Absolutism

د استبداد څخه د هغه سياسي جوړښت موخه ده چې لاندې ځانګړنې په کې رانغوښتي وي.

۱: دولتي واک يا قدرت ته دداسې بريد او حد نه شتون چې د اړتيا په اساس يې کابو کړي.

۲: داسې واک ته پراخيتا ورکول چې هروخت ترې کار اخستل کيږي او ددې کار لپاره متمرکزه اداري سيستم پکار وي.

استبداد، اټوکراسي او ډسپوټيزم ګډمفهوم لري خو ديوه او بل سره توپير لري او په يو او بل کې نه سره يو ځای کيږي.

## د مجرمینو  تسلیمول

دیوه دولت له لوري بل دولت ته چې د تسلیم کوونکي هېواد په خاوره کې یې جرم ترسره کړی وي،د مجرم  او یا هم چې د ګناه تور پرې لګیدلی وي بیرته سپارلو ته د مجرمینو استرداد وایي. له دې کبله چې په دې برخه کې کوم نړیوال قانون شتون نه لري، دولتونه د یوه او بل سره په دې اړه تړونونه رامینځ ته کوي او د استرداد یاد مجرم د سپارنې ځانګړنې پکې ټاکي. په دې ډول تړون کې په ګناه باندې متهم او یا محکوم بل دولت ته د سپارنې ځانګړنې پکې ذکر کیږي یوازې سیاسي مجرمین له دې ډول قراردادونو څخه  استثنا وي.

## استعمارColonialism

استعمار په لغت کې د ابادۍ په مانا دی خو منل شوې مانا یې د یوه ځواکمن ملت سیاسي، اقتصادي، او نظامي تسلط په یوه کمزورې ملت او خاوره باندې، ده. هرډول ارضي پراختیا ته استعمار ویل کیږي.

## اعتصاب

اعتصاب د کارګرانو او مامورینو له خوا  د مشر څخه د لانورو امتیازاتو د غوښتنې په موخه په ډله ییزه توګه د کاربندولو ته ویل کیږي. د کارګرانو اعتصاب عموما د تنخا د زیاتیدا، کاري چاپیر یال  د غوره والي او همدارنګه د کاري ساعتونو د راټیټولو په موخه ترسره کیږي. اعتصاب د صنعتي انقلاب/بدلون وروسته پیدا شو. کارګره طبقه چې ددې انقلاب د رامینځ ته کیدا علت و د  مشرانو په وړاندې دخپلو حقوقو څخه ددفاع لپاره یې د سازمان په جوړول لاس پورې کړ  او دا اعتصابي سازمان کارګرانو سره د خپلو غوښتنو په لاسته راوړلو کې ډیره مرسته وکړه.

## انارشیزمAnarchia)

انازشیزم د حکومت د نه شتون  په مانا هم ژباړل کیدلای شي.  انارشیزم  سیاسي نظریه، فلسفي او یاهم  تیوري ده چې سیاسي قدرت چې په هر شکل وي له منځه وړي او په حقیقت کې د انډیوجلیزم سنخت دریزه څانګه ده.  که څه هم چې انارشیزم یوازې ددولت سره د دښمنۍ په مانا پیژندل کیږي ولې په حقیقت کې انارشیزم د هرډول دیني او ټولنیز قدرت او سازمان چې په منظمه توګه خوځښت کوي، مخالف دی.  انارشیزم دولتي قوانین  د ټولنیزه ستونزو  پیل، علت او تعرض بولي او  ددې لحاظه نني هرډول دولتونو

له منځه تللو ملاتړ کوي او پرځای یې د خپلې خوښې یا دوطلبانه همکارۍ باندې تاکید کوي.

## انټي سمیټیزم ( د یهودیت سره ضد)
## ANTI-SEMITIME

په شلمه پیړۍ کې په اروپایانو د یهودیانو سره ضد درلود او دې تعصب او ضد دیني بڼه لرله ،دیني بڼې ته یې نژادي بڼه ورکړله او نازي المان ددې نظریې د ترویج او رامینځ ته کولو مرکز و. د یهودو سره د نژاد په توګه ضد د ۱۹امې پیړۍ په نیمایي کې ناڅاپي ډول پراختیا پیداکړه چې پر نورو اقوامو باندې د اریایي نژاد د غوره والي نظریه راپیدا شوه او ددې نظریې پلویانو ددې نظریې د ساتلو لپاره د علمي بنسټونو د ملاتړ هڅه وکړه خو ددې نظریې د پیدایښت یو عمده دلیل د ددې قوم د اقتصادي پرمختګ په وړاندې د نورو قومونو حسادت و. بل عامل یې د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه راوروسته په اقتصادي او ټولنیزه توګه د المان ماتې او په بحران کې راایساریدل و چې هیټلر او د هغه پلویانو یې لامل یو ځانګړی نژاد یانې یهودیان بلل.

## ISOLITIONEMSE څنډې ته تلل( انزوا)

د انزواګرایي سیاست هغه سیاست دی چې له مخې د خپل هېواد د ګټو ساتل د نورو ملتونو سره نږدې اړیکو په پرې کولو کې ویني او سیاسي او اقتصادي انزوا ته رسیدل که څه هم چې موخه سیاسي وي، ډېر ستونزمن دي. په ۱۹امه پیړۍ کې جاپان یو ځل کاملې انزوا ته ورسید خو د امریکې متحده ایلات او همدارنګه برتانیه چې لا له ډېر وخت یې دا ډول سیاست غوره کړی، هیڅکله هم پوره انزوا ته ونه رسیدل.

## انقلاب

ناڅاپي تحولات یا بدلون چې په سیاسي، اقتصادي، او ټولنیزه حالت کې مینځ ته راځي او د شته حکومت ځای بل حکومت نیسې، انقلاب وایي. دا ډول بدلون د زور، خشونت او د خلکو د سرغړونې په کارولو سره رامینځ ته کیږي. انقلاب غیر سیاسي ناڅاپي بدلون ته هم ویل کیږي د بېلګې په توګه صنعتي بدلون، فرهنګي او علمي او داسې نور. مارکس انقلاب د پرمختګ عمده لامل باله چې د انګیزې د نشتوالي له امله یې رامینځ ته کیدل اړین ګڼل

نوټ: مارکس، انګېلز تاکید او باوري ول چې انقلاب باید سوله ییزه وي. وروسته لینن هم دهمدې تیوري پلوی و( ژباړن)

OLIGARSHIEاولیګارشي

اولیګارشي هغه حالت ته ویل کیږي چې د اکثریت دنظارت پرته پر دولت باندې د یوې کوچنۍ ډلې کابو او انحصار وي. دا ډول حالت کې دولت د یوې کوچنۍ ډلې په شخصي ګټو باندې راڅرخیږي او ناراضه اکثریت ځپل کیږي. اولیګارشي په ورته وخت کې د یوې کوچنۍ ډلې پر نورو سازمانونو او ټولنیزه ګروپونو لکه دیني، د کارګرانو اتحادیه، حزب او داسې نورو باندې د واک د ساتلو شکلونه هم لري. افلاطون اولیګارشي د فاسد حکومت یو ډول تعریف کړی و او دې ډول حالت ته یې د اریستوکراسي زیږنده بلله.

نوټ: اولیګارشي د حکومت هغه بڼې ته هم ویل کیږي چې واکې یې د ګوتو په شمېر خلکو په لاس کې وي( ژباړن).

اوتارکي- خود کفایي یا اقتصادي خپلواکي

AUTARKY

اوتارکي هغه اقتصادي سیاست ته ویل کیږي چې د هېواد اقتصادي حالت په نورو باندې د تکیې پرته خپلواکي ولري ، خود کفا وي او داسې اقتصاد وي چې د بهر څخه پر وارداتو ولاړ نه وي. په المان کې د جګړې وړاندې هڅې وشولې څو دا هېواد اقتصادي خپلواکي( اوتارکي) حالت ته ورسوي څو د اقتصادي محاصرې پر مهال زیان ونه ویني.

اخوان المسلیمن

دا هغه خوځښت دی چې د حسن البان له خوا په کال ۱۹۲۹ کې د مصر په هېواد کې رامینځ ته شو. ددې خوځښت ایډیالوژي د اسلامي قواعدو څخه اخستل کیږي او په سیاسي او ټولنیزه مسایلو کې د لومړیو پیړیو اسلامي حکومت وصولو ته پابند دي. دې خوځښت د مصر دننه او د مصر څخه بهر د مسلمانانو ملاتړ ترلاسه کړ او ددوهمې جګړې په پای کې دې خوځښت دوه ملیونه غړي درلودل چې هرڅلورم غړی یې مصری و. دې خوځښت په عربي دولتونو په ځانګړي توګه په مصري حکومت کې ډېر نفوظ پیدا کړ. په ۱۹۴۸ کې د حکومت له لوري ددې ګوند فعالیتونه ودرول شول نو ددې ګوند له لوري د

لومړي وزیر د وژلو لپاره توطیه جوړه شوله چې په پایله کې ددې ګوند موسس حسن البنا په کې ووژل شو خو حکومت چې د حزب الوفد په لاس کې و اخوان المسلمین ته د فعالیتونو اجازه ورکړه. اخوان المسلین د انقلاب په لومړیو کې د مصر پلوي کوله خو کله چې جنرال نجیب او عبدالناصر  د لویدیځوالو سره اړیکې نږدې کړلې  نو ددوی له خوا ورسره مخالفت وشو او له هغو یې غوښتنه وکړله چې د مصري دولت هره پریکړه باید له وړاندې د خوځښت/ګوند څخه تصویب شي.  د ناصر په وړاندې ددې ګوند مبارزې هغه کچې ته ورسیدلې چې په ۱۹۵۴ کې د ناصر په وړاندې یې د وژلو توطیه په لاره واچوله چې په غبرګون کې ددې ګوند ټول اموال ضبط او ددې ګوند مشران یې اعدام کړل. ددې واقعې وروسته ددې ګوند  مرکز دمشق، سوریې ته ولیږدول شو.

ارتجاع

ارتجاع په لغت کې د بیا ګرځیدلو په مانا دی او هغو وګړو، ډلو او حزبونو ته  کارول کیږي چې د شته اقتصادي، سیاسي، ټولنیزه اړیکو د  هرډول بدلون او پرمختګ سره مخالفت لري او غواړي چې د ځینې تحولاتو او بدلونونو  مخه ډب کړي او ماضي ته  یې وګرځوي. هغوی چې ارتجاعي فکر لري ښي لاسي هغه سخت دریزه افراد دي چې د هغه اقتصادي او ټولنیزه ډلو سره چې د زوال په حالت کې دي، اړیکې لري او د هرډول تحول او بدلون په وړاندې مقاومت کوي. ارتجاع معمولا ددین او دديني ډلو سره اړیکې لري او د هغوی له خوا یې ملاتړ کیږي. د ارتجاعي ډلو نورې ځانګړنې د دموکراټیک حالت په لوري له ټګ سره کلک مخالفت لري.  ارتجاع د ډموکراسي ضد او د حاکمو طبقو څخه محکومو طبقو ته د هرډول قدرت او ثروت د لیږد سره کلکه دښمني لري.  دیکتاتوریکه ، فاشیست او مستبد تکنوکراټ رژیمونه او د هغوی ملاتړي هم د ارتجاعي ډلو څخه شمیرل کیږي.

د بالفور اعلامیه

دا هغه لیک دی چې د انګلستان د وخت بهرنیو چارو وزیر  د برتانیې د صهیونیزم د فدراسیون  مشر لورډ روتسچلید ته ولیږه او په دې اعلامیه کې یې لورډ ته  د فلسطین په خاوره کې د یهودي هېواد د رامینځ ته کولو په اړه خپله  علاقه  څرګنده کړله.  دا لیک د نومبر په دوهمه کال ۱۹۱۷ کې صادر شو . ددوو نړیوالو جګړو ترمینځ له یهودیانو وغوښتل شول چې فلسطیني خاورې د هرکال په تیریدا سره په  ټاکلی شمېر مهاجرت وکړي چې په پایله کې د ۱۹۴۸ کال د می په میاشت کې اسرایل رامینځ ته شول.

نړیوال بانک

دا بانک د ملګرو ملتونو د تخصصي سازمانونو له ډلې څخه دی او په ورته وخت کې یو نړیوال خپلواکه سازمان هم دی. دنړیوال بانک درامینځ ته کیدا موخه د غړو هېوادونو سره د پانګې اچونې د مرستې له لارې اقتصادي مرسته کول دي څو وکولای شي د مالي مرستې له لارې تولیدي موخو، نړیوالې سوداګرۍ ته پراختیا، په خپلو هېوادونو کې دنړیوال بانک په ضمانت سره بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې ته اسانتیا برابرول او همدارنګه په هغه برخو کې چې د تولیدي موخو لپاره سرمایه شتون ونه لري، هغوی ته د قرضونو ورکړل شي.

## د بعث حزب

دا حزب په دمشق کې په کال ۱۹۴۴ م کې د روشنفکره محصلینو د اتحادیې د رامینځ ته کولو وروسته د میشل افلق او صلاح بیطار په مشرۍ رامینځ ته شو. په سوریه باندې د فرانسې له لوري د تسلط له مینځه وړل ددې ګوند د رامینځ ته کیدا موخه وه.د سوریې د خپلواکۍ د اعلان وروسته د ځمکنۍ بشپړتیا لپاره یو معتدله پروګرام عملي شو چې د ځمکې، په سیاسي او اقتصادي توګه د تفوق او لوړوالي/ښه والي او همدارنګه د حلب او دمشق د شتمنو او سوداګرو مخالفت یې څرګند کړ. په کال کې۱۹۶۴ دې حزب د ډېر شمېر موسساتو او فابریکاتو په ملي کولو لاس پورې کړ.د بعث حزب د د اخوان المسلین له ګوند سره مخالفت درلود او په عربي نړۍ کې د ګوندونو په کچه د اسرایلو په وړاندې ترټولو ډېر ضد ګڼل کیږي او د عربو د ؛ ناسیو نالیزم؛ غوښتونکی دی.

## بیوراکراسي

دا کلمه هغه سازمان ته چې پراخ مدیریت ته اړتیا لري ویل کیږي. کله کله د اداري سازمانونو حاکمیت د یوې ځانګړې طبقې له خوا په نورو باندې باندې حاکمیت هم بیوراکراسي ویل کیږي. هغه څه چې د سیاسي مفکرینو پاملرنه یې را اړولې ده هغه ددې طبقې له لورې په ټولنه باندې سیاسي او اقتصادي تسلط دی. ډېر ی نور یې په ټولنه باندې ددې ډلې د حاکمیت خطر د سیاسي او اقتصادي خطر څخه لوړ ګڼي.

نوټ: بیوراکراسي یو اداري او ټولنیز سیستم دی چې د وصولو او قواعدو په یوه مجموعه باندې تکیه کوي څو په اداره کې دندې ویشل شوي وي او په یوه سازمان او یا هم حکومتي اداره باندې یې کنټرول ډاډمن کړی وي. معمولا دولتي، ادارې، د بیمې کمپنۍ او یا هم سترو سازمانونو کې بیوراکراسي شتون لري. قدرت له پورته څخه لاندې

طبقې ته ويشل کيږي، معمولا د يوه کار سرته رسولو لپاره زيات  او پرته له اړتيا پروسيجر په کې طی مراحل کيږي( ژباړن)

بوليشيزم

بوليشزم په روسي ژبه کې  د ؛ لانور ؛  په مانا دی.دا اصطلاح د لنين له خوا په کال ۱۹۰۹ کې وکاريدله. لنين بوليشيزم  د يوه سياسي حزب  په تفکر کې تمايل او ميلان باله.
هغوی چې د بوليشيزم پلوي ول،په نړيوال ډگر کې يې  د مارکسيزم  فکري تمايل او ميلان  غوره باله.  لويديځه ليکوالانو هغه په کال ۱۹۲۰- ۱۹۴۰ پورې  په يوه نوي شکل باندې وپيژاند. بلشويک د منشويک  په وړاندې چې د اقليت په مانا دی، کارول کيده يانې اکثريت د عقليت په مقابل کې.

ناپلوي/بې پلوه

دا کلمه د دوهمې نړيوالې جگړې وروسته مروجه شوه او د هغو دولتونو د سياسي حالت بيانوونکې ده چې د سياسي او ډيپلوماسي  له لحاظه  دهيڅ سوسياليستي او سرمايه داره هېوادونو څخه يې ملاتړ نه کاوه. بې پلوي هغه وخت لاسته راتلله چې د هيڅ غاړې سره د نظامي تړون  شتون نه درلود، له هيڅ غاړې يې نظامي مرسته نه غوښتله او همدارنگه هيڅ غاړې ته يې د بلې غاړې په وړاندې نظامي مرسته او اډې نه ورکولې. د هيڅ تړون نه منل او د هيڅ سياسي تړون ته نه داخليدل د منفي بې طرفي په نوم مشهور و خو په حقيقت کې دا ډول بې طرفي مثبته بې طرفه وه او ددا ډول سياست په غوره کولو سره ددوو ښکېلو غاړه د ستونزې د حل لپاره د منځگړتوب په توگه هم  رول لوبولای شو او همدارنگه د بې طرفی دريځ په نيولو سره هېوادونه د وسلې په مځکه ايښودنې له لارې  نړيوالې سولې د رامينځ ته کولو او ساتلو لپاره اغېزمن ثابيت کيدلای شي.

Parliament ولسي جرگه

هغه ځواک چې په هر هېواد کې چې د قانون د وضعې،تصويب او همدرانگه د قوانينو د اجرا څخه څار او نظارت کوي، پارلمان ويل کيږي.  ولسي جرگه عموما د خلکو په عمومي رای، پټو رايو او يا هم  مستقيمه رای باندې ټاکل کيږي او هغه هېوادونه چې  په اساسي قانون کې يې د قواوو ترمينځ پکې تفکيک شوی وي، هلته ولسي جرگې ته مقننه قوه هم ويل کيږي. په هېواد کې د پارلمان شتون د ولسواکي او د خلکو د حاکميت شتون ثبوت دی او په زيات شمېر هېوادونو کې له دوو مجلسو تشکيل شوی وي.  يو هغه چې خلک

يې مستقيم د راى له لارې پرته له كومه شرطه انتخابوي ( ولسي جرگه). بل هغه مجلس دى چې د راى وركونكي او ټاكل كيدونكي شرايط محدود وي او ځينې وخت زيات شمېر نمايندگان يې انتصابي وي او يا هم  ځينې وخت څوكۍ ميراثي هم كيدلاى شي د بېلگې په توگه( د لوردا ن مجلس په انگلستان كې) اجرايه ځواک د مقننې قوې په وړاندې مسوله ده او د لومړي وزير او د كابينې نورو وزيرانو  انتصاب  د پارلمان په راى رامينځ ته كيږي. كله چې پارلمان د كابينې و زيران څخه د اعتماد رايې سلب / بيا واخستلې نو په همدې سره د هغوى واک له مينځه ځي.

## PACIFISMEصلح دوستى/د سولې پالنه

د ملتونو ترمينځ  داړيکو په بهير کې د نظامي ځواک له کارونې څخه کرکه او پرځاى يې د سولې پاللو ته  پاسيپيزم بلل كيږي. پاسيفيست هغه خلک دي چې چې جگړه د سوله ييزه امكاناتو يانې سوله ييزه سياست لكه منځگړيتوب  له لارې حل غواړي او په سوله باور لري. د امريكې متحده ايلاتو پخوانى ولسمشر ويلسون او په ملگرو ملتونو كې د هغه نماينده  اندسته هم د پاسفيست له ډلې ول.

## پان جرمنيزم

هغه سخت دريزې ناسيوناليستي  نظريې او خوځښتونو ته  ويل كيږي چې موخه يې د المان د خلكو سياسي وحدت او همدارنگه  په نوره نړۍ باندې د المان غوره گڼلو باور ته ويل كيږي. د پان جرمنيزم منفي ريښې د المان هغه فيلسوف ته رسيږي چې المانيانو ته يې لوى سرنوشت ټاكه او ويل به يې چې المانيان روحاني روح لري او لاتيني خلک يې د هغوى په وړانې منحرف او بې لارې گڼل. اډولف هيټلر د اتريش، سودت او په ختيځه اروپا كې د المانيانو د اوسيدلو ټولو سيمو كې پان جرمنيزم ته پراختيا وركړله.

## اوسپنيزه پرده

دا كلمه هغه حصار يا كلا ته  كارول كيدله چې ددوهمې نړيوالې جگړې وروسته  پخواني شوروي اتحاد او  نورو كميونيستي هېوادونو د  لويديځه  اخبار، اطلاعات او نفوظ په وړاندې د خپلو سرحداتو څخه د ساتنې په موخه كاروله او د ختيځ او لويديځ  ترمينځ يې خپلواكه اړيكې پاللې. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره د وينسټن چرچېل له  خوا په كال ۱۹۴۵ كې  په عامه مجلس كې د بهرني سياست د بحث په مهال وكاروله.

نوټ: وینسټن چرچیل دوه ځلې د انګلستان لومړی وزیر ټاکل شوی و، هغه پوځي افسر هم تیر شوی و او په ورته وخت کې لیکوال هم و. د انګلستان په تاریخ کې یو له بانفوظه شخصیتونو څخه ګڼل کیږي. په کال ۱۹۶۵ کې ومړ او جنازه یې د الیزابیت له خوا د شاهي عزت په ځانګړي مراسمو کې ترسره شوله.( ژباړن)

## پرولتاریا

دا کلمه په نوي مانا کې صنعتي کارګرانو طبقې ته کارول کیږي . دې مفهوم ته د مارکسیزم له خوا پراختیا ورکړل شوه او د هغوی په سیاسي تاریخ کې ځانګړی اهمیت درلود. مارکس او انګیلز

په کمیونیستي مانیفېست کې پرولتاریا داسې تشریح کوي. د پرولتاریا څخه موخه هغه نوي مزدور کاران دي چې یوازې مزد اخلي او د هیڅ ډول تولیدي وسایلو څښتن نه دي او کاري ځواک د خپل ژوند د تامینولو لپاره د پیسو په بدل کې خرڅلاو ته وړاندې کوي.

د مارکسیزم له نظره پرولتاریا تاریخي رسالت دادی چې په ټولنه کې د اکثریت په درلودلو سره کولای شي چې سیاسي قدرت په لاس کې ولري او د تولید وسایل ټولنیز/اجتماعي کوي او په دې ترتیب ټولنه کې طبقې له منځه ځي او سوسیالیزم مستقر کیږي.

## ټکنوکراسي

تکنوکراسي یو ډول حکومت دی چې اساس یې دین ټاکي او د حکومت لپاره لازمه وي چې د خدای قوانین پلي کړي او روحانیون چې د حکومت د مشرانو څخه شمېرل کیږي، دوی د مشرانو خبرو ته ځلا ورکوي ( د مذهب له اړخه. ژباړن) او تفسیر کوي یې او همدارنګه دا نمایندګان په قاطع ډول خپلواک وي.د ټکنوکرات حکومت ترټولو غوره بیلګه یې پر بني اسرایلو باندې د موسی (ع) مشرتوب و. همدارنګه ځینې نور اسلامي حکومتونه هم ټکنوکرات ول په ځانګړي ډول پاپي حکومتونو چې په منځنیو پیړیو کې یې حاکمیت کړی هم ټکنوکرات ول.

## تجزیه غوښتنه

تجزیه طلبي یانې یوه ډله یا هم مځکه چې د لویې ډلې یا سازمان څخه د بېلتون غوښتنه وکړي، تجزیه طلبي بلل کیږي. په تجزیه طلبي کې یو عقلیت د یوه لوی واحد څخه د سیاسي خپلواکي غوښتنه کوي او نور هغه خوځښتونه چې ددې ډلې څخه ملاتړ کوي د ؛

د طلب د بیا کتنې ؛ په نوم یادیږي چې معمولآ د یوه هېواد څخه د جلاکیدو غوښتنه کوي
څو له بل هېواد سره یو ځای شي. دا ډول غوښتنې سیاسي جرم کیدلای شي.

## ټروریزم

ترور د ډار او وحشت خپرولو په مانا دی او په سیاست کې د حکومت یا د کومې ډلې هغه عمل ته ویل کیږي چې د قدرت د ساتلو او یا هم د دولت په وړاندې د مبارزې پرمخ بیولو لپاره د ځانګړو عملونو په ترسره کولو سره ویره او وحشت خپروي.

ټروریزم د حکومتونو هغه سلوک او رویې ته ویل کیږي چې د حبس، شکنجې ، اعدام او خشونت او نورو اعمالو په ترسره کولو سره مخالفین ځپي او د خلکو په مینځ کې ویره رامینځ ته کوي او یا هم هغه انقلابي او ارتجاعي سلوک دی چې د حکومت راپرځولو او یا هم ډارولو لپاره د خلکو په وژنه، د خلکو په پټونه او نورو ناوړه کارونو ته لمن وهي.

## ټوټالیټریا Totalitarism

ټوټالیټر د جامع او پراخه په مانا دی. او د هغه خلکو او رژیم ستاینه ده چې دا لاندې ځانګړنې په کې شتون ولري. ټوټالیټر حکومتونه معمولآ د هغه ټولنیزه خوځښتونو څخه رامینځ ته کیږي چې د دموکراټیک نظام ضد وي چې په پیل کې د حزب په شکل په یوه دموکراټیکه چاپیریال کې شکل غوره کوي او قدرت ته په رسیدا سره سم دموکراسي له مینځه وړي. ددې ډول خوځښت ترټولو غوره نمونه یې د المان د نشنل سوسیالېست ګوند و چې د اډولف هټلر په مشرۍ د دموکراټیکه میکنیزم له لارې واک ته ورسید او واک ته تر رسیدا وروسته یې ډموکراسي له مینځه یووړه. ځینې ځانګړنې یې په لاندې ډول دي.

۱: په ټولو اقتصادي او ټولنیزه فعالیتونو باندې ددولت له خوا کلکه څارنه.

۲: د یوه حاکم حزب له لوري د سیاسي واک په پوره توګه انحصار او د هغه دموکراټیکه بنسټونو له مینځه وړل چې د حکومت د فعالیتونو څخه په ډموکراټیکه فضا کې نظارت او څارنه کوي، پرځای یې د زور او تشدد له لارې د مخالفینو د ځپلو پلوي کوي.

۳: د حزب، حکومت او دولت د واک یوازې د یوه کس له لوري انحصار وي.

۴:هڅه کوي څو ټولنه  په ایډیولوژي باندې وروزل شي او کوښښ کیږي چې د ټولنې ټول ځواک  د حزب او ددولت  د موخو لپاره وکارول شي.

۵:  فردي خپلواکي له مینځه وړي.

۶:  د تعلیم او روزنې د کچې مساوات

۷:  د ټولیزه اړیکو نیولو او ټولو تبلیغاتي  وسایلو  کابو کول.

جمهوري

دا هغه ډول حکومت دی چې په هغه کې د ولسمشر  ځای ناستی میراثي نه وي او د ریاست موده محدوده وي. انتخاب د خلکو په مستقیمه او یا هم غیرمستقیمه رای ترسره کیږي. جمهوري د ډموکراسي  په پرتلیز ډول اړینه کلمه ده او دا کلمه په ورته وخت کې د بې سلطنته دیکتاتوري سره هم ورته والی لري. ځینې محافظه کاره امریکایان جمهوریت د مشروطه  حکومت په پرتله  د قانون په لوري د حکومت  مسیر برابرول او همدارنګه د جهموریت لاندې د حکومت قانوني کیدل ګڼي.  په هغه هېوادونو کې چې دموکراسي د جمهوري نظامونو په وسیله  اداره کیږي او د دموکراسي اصل مراعت کوي، د هغه هېوادونو سره چې مشروطه سلطنتي رژیم لري لکه سکاندیناوي د بیلګې په توګه انګلستان، هالنډ او داسې نورو سره  کوم توپیر نه لري.

جنګي جنایتونه

د یوه هېواد د نظامیانو له  خوا ددښمن هېواد له ملکي وګړو سره هغه ډول سلوک  چې د اسارت  په پایله کې  کیږي او د سزا وړ وي.  دا اعمال هغه اعمال  دي چې د جګړې قوانین او قواعد ماتوي . که چیرې د دا ډول سلوک اجازه د لوړپوړو له خوا هم ورکړل شوې وي، د سزا وړ دي.  دا اصل  ددوهمې نړیوالې جګړې (۱۹۴۵) وروسته د نړیوالې محکمې د منشور سره سم د جنایت کارانو د محکمې لپاره وضع شول. هغوی چې د لوړپوړو له خوا د ورته اعمالو د سرته رسولو لپاره  ورته دستور  او امر ورکړل شوی و، محکمې د بیا کتنې په رڼا کې د عدالت پرځای کولو لپاره د سزا موده ورته په پرتلیز ډول راټیټوله. د نړیوالې محکمې د شپږمې مادې په رڼا کې چې د هوکړې په اساس رامینځ ته شوې وه، هغه جنایتونه چې په محکمه کې ذکر شوي ول، په لاندې ډول دي.

۱: د سولې په وړاندې جنايت کول: يانې د داسې نقشې طرح کول يا هم په چالاکۍ سره لومه اچول، مخ په وړاندې تلل يا د تيري کوونکي جګړې په لاره اچول، يا هم داسې جګړه چې د نړيواله هوکړه ليکونو، تړونونو او يا هم تضمينونو په خلاف وي، يا په پورتنۍ نقشه کې ګډون کول او يا هم د پورتنيو ذکر شويو حالاتو د عملي کولو لپار هرډول توطيې په لاره اچولو ته د جنګي جنايتونو د ډولنو څخه شمېرل کيږي.

جګړه ييزه جنايتونه: يانې د جګړې د منل شويو پرنسپونو او سنتونو څخه سرغړونې ته جنګي جنايت ويل کيږي. دا ډول حالات د ملکي وګړو وژل او يا هم د هغوی په وړاندې ناوړه سلوک، هغوی تېښتې ته اړ کول، د زندانيانو وژل، په سيند کې د ملکي وګړو وژل، د يرغمل شويو کسانو وژل، د شخصي او عامه مالونو چور او چپاول خو جګړه ييزه جنايت يوازې د پورته ذکر شويو حالاتو ته نه محدود کيږي. (٥)

(۳) د بشريت په وړاندې جرم/جنايت کول: يانې وژل، په ټوليز ډول د انساني قشر له مينځه وړل، غلامي رامينځه ته کول او نور ټول ورته نظامي اعمال چې يا د جګړې پرمهال او يا هم د جګړې وروسته د ملکي وګړو په وړاندې ترسره کيږي او يا هم د سياسي، نژادي، ديني توپير په اساس وګړي وځورول شي په جنګي جنايت کې شمېرل کيږي. نړيواله محکمه که څه هم دا پورتني اعمال د هغوی په هېواد کې جرم نه وي، د عدالت د تطبيق لپاره د نړيوالو قوانينو په رڼا کې قضاوت کوي. (1)

COSMOPOLITANISMEوطني نړۍ

د ټولې نړۍ سره تړاو درلودل او د ملي اومحلي( ملت او مليت) عقيدې نه لرل او يا هم په ټوليز ډول داسې باور چې نړۍ يوازې د انسانانو لپاره يانې نشنليزم او شوونيزم باندې عقيده نه درلودلو ته کازموپوليټانيزم وايي.

حاکميت

ددولت هغه لوړ قدرت چې کولای شي قوانين پلي کړي او د هغه څخه پورته قانون شتون ونه لري، حاکيمت بلل کيږي. حاکميت د لاندې مفاهيمو څخه جوړ شوی دی.

۱: د قانوني د سیستم  مطابق د قوانینو وضع او سمون رامینځ ته کول
۲: ددولت سیاسي او اخلاقي قدرت عملي کول .
۳: د یوې ټولنې سیاسي او قضایي خپلواکي حاکمیت غالبا د خلکو د کلمې سره یو ځای اړیکه ورکول کیږي.  د خلکو د حاکمیت نظریه د نړۍ په زیات شمېر  سیمو کې منل شوې ده او د هېوادونو اساسي قانون د لومړیو مادې  همدې ټکي ته اشاره کوي او ذکر کوي چې د دولت حاکمیت سرچینه د خلکو څخه پیل کیږي.  حاکمیت هم په دوه ډوله دی. ۱: د کور دننه حاکمیت ۲: بهرنی حاکمیت. په کورني حاکمیت  کې ټول هغه  واک چې له مخې یې دولت په خپلو اتباعو او یا هم هغه بهرنیانوباندې چې د هېواد دننه اوسیږي او همدارنګه ددولت په هغه اتباعو چې په نړیواله اوبو کې په کښتیو کې شتون ولري ، ویل کیږي.
بهرنی  حاکمیت: بهرنی حاکمیت یانې د نورو ددولتونو سره د اړیکو درلودل، د قراردادونو رامینځ ته کول او یا هم د جنګ او جګړې اعلانول . کورنی حاکمیت په سیاسي او قضایي حاکمیت باندې ویشل کیږي. سیاسي قدرت  وروستی او ترټولو لوړ دی چې په هره سیاسي ټولنه کې شتون لري او سیاسي قدرت هغه ځواک دی چې په قضایي نظارت/څار کې  رانغوښتی وي. یو دولت کیدلای شي چې کورنی حاکمیت ولري خو بهرنی حاکمیت ونه لري او د دریم هېواد سره د اړیکو او یا هم د جګړې  د اعلان واک یې  بل دولت ته سپارلی وي. دا ډول دولتونه د ملاتړ/حمایت لاندې وي.

الهي حق

د جمهوري غوښتونکو او ډموکراټیکه خوځښتونو د پیدایښت وړاندې تقریبا په ټوله نړۍ کې د استبدادي حکومتونو خپل مشروعیت د ؛ الهي حق؛ په نوم توجیه کاوه. ددې حق له مخې پادشاهان او امپراتوران د الهي  ارادې سر ه سم د مځکې پرمخ حاکمان ول نه د خلکو د ارادې په اساس او دې نظریه کله کله دومره پراختیا پیدا کوله چې پادشاهان به یې دخدای د ارادې د اجرا کولو عامل بلل(ظل الله) خو په  نوي او عصري زمانه کې د د خپلواکۍ غوښتونکو خوځښتونو د پیدایښت سره سم  دا نظریه په ټولو هغه هېوادونو کې په ځانګړي ډول په هغه هېوادونو کې چې له د سلطنتي مستبد رژیم یې په مشروطه سلطنت بدل شول، له منځه لاړه او پرځای یې دې اصل چې ټاکل شوی حکومت د خلکو په وړاندې مسولیت لري، ځای ونیوه.

خودمختاري

د ملتونو سیاسي خپلواکي ته چې بهرنی اغېز پرې شتون ونه لري، خودمختاري ویل کیږي.
د ملتونو د خپلواکۍ اصل  او پرهغه باندې عمل کړل د نړیوالو اړیکو او حقوقو په رڼا کې د ؛ خودمختاري د هرملت حق دی؛ تر عنوان لاندې پیژندل کیږي.  په اروپا کې د ۱۹امې پیړۍ پر اوږدو کې د ملتونو د خودمختارۍ اصل پراختیا وموندە او دا د همدې اصل اساس دی چې هر ملت حق لري چې خپلواک دولت تشکیل کړي او خپل حکومت په خپله وټاکي.

DESPOTISڊېسپوټیزم

په یوناني ژبه کې ارباب او دیني مشر ته ویل کیږي. ډېسپوټیزم هغه قدرت ته ویل کیږي چې  د واک په عملي کولو کې هیڅ حد او اندازه نه لري او په خپل سر  ترورستۍ کچې هرډول عمل اجرا کوي. ډېسپوټیزم د بې پایه استبداد په مانا دی. همدارنگه ډېسپوټیزم د اټوکراسي، استبداد او دیکتاتوري  مترادف شکل دی.

DIMOGOGISMEدماگوشیزم

دا اصطلاح په اوسني سیاسي ډګر کې د رهبرانو له خوا عامه خلکو د احساساتو او دتعصباتو  څخه د ګټې اخستنې ، عوام ته د فریب او دوکې ورکولو په مانا ده او د سیاست کوونکو هغه سلوک سره سمون لري چې خلکو ته د حقایقو د ښودلو پرځای د هغوی د احساساتو څخه ګټه اخلي.

DMOCRACTIEډموکراسي

د ډموکراسي ترټولو ځانګړې مانا یانې د وګړو لپاره مساوي فرصتونه برابرول څو د ازادۍ او د ټولنیزه ارزښتونوڅخه برخمن شي. د ډموکراسي محدوده مانا یانې د هغو پریکړو نیونې په بهیر کې د وګړو/افرادو ګډون چې د فرد او یا هم د ټولنې پر ژوند باندې اغېز لري. د تاریخ په اوږدو کې د ډموکراسي مانا د محدو څخه تر نامحدوده پراختیا ورسیدله او دا کلمه نن ورځ د سیاسي ډګر څخه بهر د ټولنیزه ډموکراسي  او همدارنګه د اقتصادي ډموکراسي په څېر هم کارول کیږي. سیاسي ډموکراسي په دې مانا چې اکثریت او یا نیم  څخه د یوې ډلې اضافه برخې رایه ده. دموکراسي د سیاسي  فلسفې له نظره خلک په خپلو امورو کې، پردولت باندې څار، د دندې وړ او لایق پیژندل او ددولت بدن د خلکو څخه په جوړیدا باندې باور لري. د ډموکراسي له  مانا څخه دوه پایلې را اخستل کیږي چې په عمل کې د یوې او بلې سره متضادې واقع کیږي.  یوا داچې د اکثریت اراده په مطلق ډول تطبیق کول او د هغه تحمیل په ټولو باندې چې دلته د پرولتاریا دیکتاتوري ته ورته نظام سره سمون خوري او بل دا چې دارادې د څرګندولو لپاره د افرادو ازادي چې د لږګکیو/عقلیت په

اکثریت باندې د بدلولو امکان زیات وي. لویدیځه ډموکراسي د قانون په وړاندې خپلو اتباعو برابروالی، د اکثریت په وړاندې ددولت مسولیت، د اکثریت د ارادې په اساس د قوانینو په منلو ته د خلکو اړ کول/اجبار او د پټې او ازادې رای ورکولو حق، ازادې ټول ټاکنې، د څو حزبونو شتون، د بیان ازادي ، د مطبوعاتو، دین، مذهب او همدارنګه د ډیر شمېر نورو ازادیو څخه تشکیل شوې ده. نوې ډموکراسي بیلا بیلو برخو کې لکه د نژاد، نسب، ثروت، دین، موقیعت او داسې نور و برخو کې د تبعیض په ورکولو کې پراخه پاملرنه کوي.
سیاسي ډموکراسي په دوه ډولونو کې پلې کیږي. لومړی مستقیم( ازاده او عمومي مراجعه، ټولټاکنې) او غیر مستقیم ( د خلکو څخه نمایندګي په توګه). مستقیمه ډموکراسي اوس هم د سویس هېواد کې د عمومي رایو په ورکولو عملي کیږي . داسې ویل کیږي چې پارلماني ډموکراسي په لویدیځه اروپا کې ددیني سمون پر مهال چې ملي دولتونه رامینځ ته شول، شکل واخست. د فرانسې لوی انقلاب د ډموکراسي په بریا کې تربل هروخت ستر رول لوبولای دی. ورورولي، ازادي، برابروالی ددې انقلاب اساسي شعارونه اعلان کړل چې د هغه وروسته دا اصلونه د نړۍ په کچه وکارول شول.

## ازاد دولت

هغه دولت دی چې یو ملیون نفوس یې په بل ځای کې په کارباندې مشغول وي، د خپل اصلي هېواد څخه بهر غواړي چې یو لنډمهاله دولت رامینځ ته کړي او اصلي دنده یې د هغه هېواد پریښودل وي. ازاد دولتونه هغه مهال مینځ ته راځي چې یو څو هېوادونه یې په رسمیت وپیژني او د هغوی د اصلي هېواد د اوسیدونکو نماینده ګي ته قایل وي. که څه هم چې دا دول دولتونه د عادي دولتونو په څېر د وزارتونو عادي تشکیل لري خو عملا نه شي کولای په سیاست کې د یوه دولت په څېر دندې اجرا او عملي کړي. دا ډول دولت بېلګه د ازادې فرانسې دولت و چې د جنرال دوګل په مشرۍ ددوهمې نړیوالې جګړې وروسته په لندن کې رامینځ ته شو.

## کامله الوداد دولت

دا هغه اصطلاح ده چې په نړیواله سوداګریزه تړونونو کې کارول کیږي. په ځینې قراردادونو کې داسې ماده ذکر کیږي چې دواړه خواوې د امتیاز د اخستلو واجد ( دولت کامل الوداد ) بلل کیږي.

په دې مانا که چیرې  ددواړه خواوو څخه یو یې دریم دولت ته کوم امتیازات( ګمرک څخه معافیت) او یا هم نور سوداګریزه امتیازات ورکړي نو مقابل لورى خود به خود دهغه امتیاز و اجد د شرایط ګرځي.

دیالیکټیک

د ډیالیکټیک مانا یانې د مباحثې له لارې  د حقیقت پیدا کول دي. همدارنګه  منطقي مباحثه د پوښتنې او ځواب ویلو له لارې چې لومړى ځل زنون رامینځ ته کړه او وروسته افلاطون  پراختیا ورکړه. هګل دا کلمه په نوې طریقه وکاروله او د جامعي فلسفې په ډول یې راځرګنده کړله. د هیګل فلسفه داسې ده چې وایي  هرڅه د یوه او بله سره تړاو لري او هرڅه هروخت په خوځښت کې دي او دا خوځښت د معینو قوانینو په رڼا کې خوځښت کوي او او په دې قوانینو  د تضاد قانون هم اړین رول لوبوي. بدلون د تضاد سره د ټکر له امله رامینځ ته کیږي خو د بدلون پرمهال تضادونه د یو او بل سره یو ځاى کیږي او دې اصل ته د تضادونو یووالى ویل کیږي. په واقعیت کې په هره مبارزه کې وحدت او یووالي په لوړه پوړو پوړې اړه لري. له بلې خوا د تضاد لازمه اندازه د پرمختګ سبب کیدلاى شي او ټول شته/موجودات د تضاد  نطفه په خپل ذات کې لري. ددې دپاره ډیالیکت مدعى دى او زیاتوي کله چې تضادونه دیو او بل سره واقع کیدلو وروسته یوې ځانګړې مرحلې ته رسیږي چې له دې ځانګړې مرحلې سره سم یو ناڅاپی ټکان یا جټکه رامینځ ته کیږي چې له دې ناڅاپي جټکې څخه یو نوى شى رامینځ ته کیږي چې ځانګړى کیفیت او جوهر درلودونکى وي.مارکس د هیګلي دا دیالکیتک د مادې د تفاوت لپاره پکار واچوه او د هیګل په وړاندې یې خپلې فلسفې ته ماټریالیزم دیالیکټیک ونوم ورکړ.

دیپلوماسي

دیپلوماسي د ډیپلوماټ له کلمې څخه راوتلى او د یوه هېواد له لوري بل هېواد لپاره سیاسي نماینده ته ډیپلوماټ ویل کیږي ډیپلوماسي په په عامه اصطلاح او د سیاست په علم کې  درى ډوله مانا لري.

۱: د ډیپلوماسي ترټولو پراخه مانا ددولتونو ترمینځ اړیکې کیدلاى شي.

۲: ډیپلوماسي په نړیوال سیاست کې  د ځان ګډولو او برابرولو هنر دى چې د خپلوګټو او د ملي امنیت د خطر سره د مخامخ کیدلو پرځاى ترې ګټه اخستل کیږي.

۳: ډیپلوماسي  د نړیوالو اړیکو د میکانیزم  او همدارنګه د هغه کسانو ځانګړنو کنترول چې دهمدې میکنیزم غړي دي،  هم بلل کیږي.  د ډیپلوماسۍ په تعریف کې یوه مهمه مسله ډیپلوماټیک اړیکې او جګړه ده نو په دې اساس کولای شو ووایو چې د ډیپلوماسي چې د بهرني سیاست په لړ کې د جګړې پرځای د توفق او هوکړې له لارې خپلو موخو ته ورسیږي او په دې اساس د جګړې پیل د ډیپلوماسي ماتې بلل کیږي.  ځینې په دې باور دي چې  د جګړې پر مهال هم ډیپلوماسي کیدلای شي چې دوام ولري ، په هرحال، د قدرت درلودل د ډیپلوماسۍ د شتون عامل دی.  ډیپلوماسي د منل شوې سنت چې ددولتونو له خوا ډیپلوماټان یو او بل ته ورپیژندل کیږي، د هغوی له خوا پر مخ بیول کیږي او د تېر پر خلاف چې عموما ډیپلوماسي پټه پرمخ بیول کیدله، اوس  یې لږه برخه  د هغې ډیپلوماسي ښکاره کړې ده او د عمومي افکارو په وړاندې عملي کیږي.

دیکتاتوري

د دیکتاتوري څخه د هغه ډول حکومت موخه ده چې لاندې ځانګړنې ولري.

۱: دداسې قوانینو او رواجونو نه شتون چې له مخې یې  مشر د وضع کولو په مهال کابو وي.

۲: د قدرت پراخه شتون او نه محدودیت.

۳:  د لازیات قدرت د لاس ته راوړلو لپاره د پخوانیو قوانینو نقض کول

۴: د ځایناستي لپاره د منظمو قوانینو نه شتون.

۵:  د وړې ډلې د ګټو د خوندي ساتلو لپاره د قدرت کارول

۶: د هېواد خلکو اطاعت یوازې د زور د ویرې څخه

۷:  د قدرت تمرکز یوازې د یوه کس او یا هم کله د څو کسانو په لاس کې وي.

۸:  دو حشت او ویرې رامینځ ته کول

ددیکتاتور کلمه د هرډول  مطلقه حکومت مشرانو ته کارول کیږي. ددیکتاتوري حکومتونه د اټوکراسي، استبدادي، ټوټالیټر او ډسپوټیزم څخه  سرچینه اخلي.

د محکمې  نړیوال دیوان

د عدالت غوښتنې نړیوال دیوان د ملګرو ملتونو د قضایي سازمان یو رکن دی. دا دیوان په کال ۱۹۴۶ اپریل کې د هالنډ په پلازمېنه هاله کې رامینځ ته شو. ددې دیوان اساسنامه د ملګرو ملتونو د منشور یوه برخه ده.

ددیوادن د اساسنامې په اساس دقاضیانو له پنځلس کسانو څخه تشکلیږي چې د هریوه غړیتوب او خوښونه د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې او د امینت شورا د هوکړې په پایله کې رامینځ ته کیږي. کله چې کوم دولت د دې دیوان اساسنامه مني نو لاندې شرایط یې د پلي کیدو وړ او جبري دي.

۱: د تړونونو تفسیر

۲: هره مسله چې د نړیوالو حقوقو څخه اخستل شوې وي.

۳: د هرواقیعت اثبات چې د نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه بلل کیږي.

۴: د نړیوالو قوانینو څخه د سرغړونې په صورت کې د جریمې څومره والی/کچه او څرنګوالی به په نظر کې نیول کیږي. د عدالت غوښتنې نړیوال دیوان په نړیواله کچه نامتو بیلګې یې د ایران ددولت د تیلو د انګلیسي شرکت سره چې د سهېل برخې د تېلو تصدۍ یې ملي کړي. دا موضع نړیوال دیوان ته راجع شوه چې په پایله کې نړیوال دیوان د ایران په ګټه رای ورکړه.

## راډیکلیزم

## Radicalism

هر عمل او سیاسي نظر چې په ټولنه کې د ناڅاپي بدلون غوښتونکي وی، د هغوی همدې عمل ته راډیکلیزم کلمه کارول کیږي.راډیکل غالبا د افراطیانو او سخت دریزه غورځنګونو او یا کیڼ اړخه غورځنګونو کې وي او هغې وروسته لیبرالان وي چې په پرتلیز ډول ارام دي. د هغې وروسته محافظه کاران دي چې د سیاسي بدلونونو سره مخالفت لري. له هغې وروسته ښې اړخه سخت دریزه او یا هم ارتجاعي دي چې ماضي ته د تګ غوښتونکي دي نو ددې دپاره ویلای شو چې راډیکلان په ټولنیزه بنسټونو کې د فوري او پریکنده بدلون غوښتونکي دي.

لېبرالان: د ارام بدلون غوښتونکي دي.

محافظه کاران: د هر سیاسي تحول مخالف دي.

سخت دریزه ښي اړخه: دا ډله غواړي چې ماضي ته وګرځي او په مرتجیعینو کې شمېرل کیږي.

ریسزم – نژاد پالنه

هغه نظریه چې د د فرهنګي او نژاد له اړخه باور لري چې ځینې نژاد په خپل ذات کې په بل نژاد باندې غوره او لوړوالی لري، ریسزم یا نژاد پالنه وایي. لنډه د اچې رسیزم باور لري چې ځینې نژادونه د طبیعت له مخې باید په حقارت محکوم وي او ځینې نور یې په میراثي توګه غوره دي. ریسزم - ملي، قومي، او فرهنګي ځانګړنې په نژاد پورې تړلي بولي. د یوې خوا تحقیر،سپکاوی، او وروسته پاتې والی د بلې خوا د پرمختګونو علت ځانګړی نژاد ګڼي. ریسزم معمولا د د خپلو نظریاتو د توجیه کولو لپاره میټا فزیک(۱) او تقدیر سره ښښلوي او نابرابري یا د یوې ډلې غوره والی پر بله باندې مطلق او بې شرطه ګڼي. د نازیانو سلوک له یهودو سره د ریسزم د نظرېې یوه بېلګه ده.

میتا فزیک: دا د فلسفې عنعنوي برخه ده چې د موجوداتو او ترې چاپیره طبیعت او نړۍ څخه بحث کوي. که څه هم چې ددې کلمې لپاره ځانګړی تعریف نشته خو په عموم کې دوه پوښتنې تر بحث لاندې نیسي.۱: په پای کې ترهرڅه وروسته څه شتون لري؟ (۲) هغه څه ډول دي، څه ډول به وي؟ ( ژباړن)

Referendumعمومي رای اخستنه

د یوه سازمان او یا هم د یوه هېواد د خلکو څخه د یوه هېواد د سیاست د رد او یا هم د یوه قانون د تصویب لپاره د هر فرد څخه مستقیمه رایې اخستنې ته ریفرنډیم ویل کیږي. د ریفرنډم په ترسره کولو سره یوه ټولنه او یاهم یو هېواد د زیان رسونکي قانون او یا هم تېل شوي قانون څخه ژغورل کیږي. ریفرنډم په څو ډوله دی. ۱: اختیاري رفرنډم ۲: جبري ریفرنډم

۱: اختیاري رفرنډم کې دولسي جرګې غړي د قاطع اکثریت سره کولای شي چې موضوع د تصویب یا رد لپاره د رای صندوق کیږدي، یا داسې هم شونې ده چې دولت د جرګې په نه شتون او یا هم د جرګې په نه هوکړه کې کولای شي چې موضوع د پریکړې لپاره د عمومی رای په خاطر ریفرنډم ترسره کړي. په جبري رفرنډم کې د هېواد اساسي قانون ( بدلون رابدلون) خلکو له خوا د تصویب لپاره اخستل کیږي. د رفرنډم بله بڼه داده چې

ښايي عمومي رفرنډم د خلکو په غوښتنه رامينځ ته شي يانې هغه خلک چې د خلکو ځخه نمايندګي کوي کولای شي چې رفرنډم د ترسره کولو لپاره پريکړه ونيسي څو موضوع د پريکړې لپاره عمومی رای واخستل شي البته په دې اړه د هېوادونو ترمينځ قوانين توپير کوي.

د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو او زراعت بنسټ FAO

دا سازمان د ملګرو ملتونو د متخصص سازمانونو له ډلې ځخه دی.

ددې سازمان دندې او مسوليتونه په لاندې ډول دي.

۱: د غړو هېواودنو د زراعت او خوراکي توکو ځخه څارنه او د غذايي موادو، زراعت، ځنګل، ماهي نيونې، او همدارنګه د زراعتي محصولاتو د ځرنګوالي په اړه هغوی ته رپوټ ورکول دي.

۲: د زراعتي محصولاتو بازار ته وړاندې کول، توزيع، ذخيره او هغوی ته پراخيتا ورکولو لپاره د ملي او نړيوالو لازمو ګامونو د ترسره کولو وړانديزونه وړاندې کول.

۳: د زراعت لپاره تازه ځمکې پيدا کول، د محصولاتو د کچې پورته بېول، په توليد باندې د لګښت د کچې راټيټول، د ژوند د سطحې د کچې لوړول او غړو ته لازم قرضونه او اعتبار ورکول. هردوه کاله ورسته د ؛ فايف؛ په نوم کنفرانس داير کيري او د هر غړي هېواد نماينده پکې شتون لري.

# د نفت توليدونکو هېوادونو سازمان – OPEC

دا سازمان په کال ۱۹۶۰ د سپټمبر په مياشت کې د بغداد په کنفرانس کې چې د کويټ، عراق، سعودي،ايران او وينزويلا غړي ول، رامينځ ته شو. دې سازمان ته وروسته بيا متحده عرب امارات، الجيريه، قطر، ايکواډور، اندونيزيا او نايجريا هم غړيتوب واخست. د اوپک غړو هېوادونو د لاندې شرايطو په نظر کې نيولو سره پريکړه ونيوله.

۱: له شرکتونو بايد وغوښتل شي چې نرخ ثابت وساتي څو د غړو هېوادونو اقتصادي پرمختګ ته زيان ونه رسيږي.

۲: د توليد لپاره د منظم سيستم په رامينځ ته کولو سره نرخونه بايد ثابت وساتل شي.

۳: که چیرې کوم شرکت وغواړي چې د اوپک د قوانینو د سرغړو لپاره غړي هېواد ته سزا ورکړي، بل هېواد حق لري چې د نورو امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره صادرات او یا هم نرخونه پورته کړي. د اوپک د غړو د مرکز د سپټمبر په لومړی نیټه د اتریش پلازمینې وین ته ولېږدول شو.

نوټ: لیکوال داوپک د مرکز جینوا لیکلی، او د رامینځ ته کیدا نیټه یې په تېروتنې سره ۱۹۶ لیکلی و چې ما له اړوند ویبسایټ څخه دقیق مالومات چڼ کړل( ژباړن).

د ملګرو ملتونو سازمان

دنړیوالې ټولنې چې پنځوس غړي هېوادونه یې درلودل په کال ۱۹۴۵ کې سره راټول شول څو د ملګرو ملتونو لپاره رسمي سند او منشور باندې هوکړه لیک لاسلیک کړي. د ملګرو ملتونو منشور د پنځوسو غړو له خوا د جون په ۲۴مه ۱۹۴۵ کې لاسلیک شو. د پولنډ هېواد وروسته امضا کړ او یوپنځوسم غړی یې شو. همدارنګه ملګري ملتونه رسمي سازمان په توګه د ۲۴م اکتوبر ۱۹۴۵ کې هغه وخت مینځ ته راغلی چې چین، روسیې، برتانیې او همدارنګه د امریکې متحده ایلاتو له خوا یې منشور تصویب شو.

ملګري ملتونه د شپږو اساسي رکنونو څخه تشکیل شوی دی.

۱: عمومي غونډه ۲: د امنیت شورا ۳: اقتصادي او اجتماعي شورا ۴: دقیمومیت شورا ۵: د نړیوالې محکمې دیوان ۶: سکرتر جنرال .

د ملګرو ملتونو د منشور په متن کې د غړو هېوادونو له خواد د سازمان موخې په لاندې ډول تشریح شوې دي.

موږ د ملګرو ملتونو خلک د جګړې له بلا څخه راتلونکي نسل د ساتلو په موخه چې د یوه نسل په عمر کې یې دوه ځله یې بشر له ناوړه مصیبتونوسره مخ کړ، اساسي حقوقو د ساتلو، د انساني حیثیت د ساتلو ، دنارینه او ښځینه مساوات په پام کې نیولو، همدارنګه د ملتونو ترمینځ د حقوقو ساتل، د کوچنیو او لویو عمومي حقوق او د عدالت د ساتلو لپاره لازم ګامونو اوچتول، او نړیوالو تعهداتو ته چې په ټول کې د بین المللي حقوقو او ګټو څخه برخمن دي احترام او د ټولنیزه ژوند د پرمختګ لپاره لازمه مبارزه، د نورې ازادۍ د رامینځ ته کولو لپاره دوام داره هڅې او دې موخې ته د رسیدا لپاره به په خپل مینځ کې لازمه همکاري ترسره کیږي.

د ملګرو ملتونو موخې په لاندې ډول دي:

۱: د نړیوال سولې او امنیت ساتل

۲: د ملتونو ترمینځ دوستانه اړیکو ته پراختیا ورکول

۳: د اقتصادي ، فرهنګي، ټولنیزه مسایلو د حل او همدارنګه بشري حقوقو او اساسي ازادي لپاره د احترام پراختیا لپاره هڅې ترسره کول

ملګري ملتونه د نړۍ پر مخ د ډیرو خلکو لپاره د نړیوالو مناقشو د حل او داسې لکه یو نړیوال دولت په څېر موقف لري خو اوس مهال د ډېر شمېر بحرانونو سره مخ دی. دکمزورتیا لویه برخه یې په نړیواله کچه ددې سازمان د پریکړو په اجرا کې د ضمانت نه شتون دی. له دې سره سره دا سازمان توانیدلی دی چې د ځینو جنجالونو او د سیمه ییزه جګړو په مخنیوي کې یې اړین رول لوبولی دی چې له دې جملې یې د عرب- اسرایلو جګړه، د هندوستان او پاکستان ترمینځ جګړه او د سیویس کانال جګړې یې بېلګې یادولای شو.

سانسو ر

د قدرت په کارولو سره د هرې عقیدې مخه ډبول چې له مخې یې قدرت او یا هم سیاسي نظم ته خطر پېښیدلای شي. په شپاړسمه میلادي پیړۍ کې کاتوکلیک او پروټسټانو د دیني سمون دورې پر مهال له سانسور څخه ګټه اخستله. زموږ په زمانه کې سانسور په دوه ډوله اعمال کیږي. ۱: مماعنت کوونکی سانسور ۲: سزا ورکونکی سانسور . لومړی ممانعت کوونکی سانسور د موضوع د خپریدا وړاندې عملي کیږي او سزا ورکوونکی سانسور د موضوع د خپریدا وروسته عملي کیږي. سانسور کیدلای شي چې د هوکړې کیدا وروسته رامینځ ته شي د بېلګې په توګه ځینې خپرونکي/ناشران د ملي امنیت اړوند مسایلو پر سر یو له بل سره هوکړه کوي او ځانګړي مسایل چې په ملي امنیت اړه لري، نه نشروي. سانسور نه تنها په استدادیي او یا ټوټالیټر نظامونو کې رامینځ ته کیږي بلکې په ډموکراټیکه نظامونو کې هم عملي کیږي. سانسور په ځانګړي توګه د جګړې د اعلان پر مهال او یا هم د فوق العاده حالت د اعلان پر مهال شدیده توګه عملي کیږي.

پنځمه ستن( ستون پنجم)

پنځمه ستن  هغه ډلې یا ګروپ ته ویل کیږي چې هڅه یې یوې لویې ډلې/ګروپ ته زیان رسول وي. دا کیدلای شي چې د یوه دولت جاسوس په بل دولت کې او یا هم ددولت په مخالفه ډله کې شتون ولري.  د پنځمې ستنې فعالیتونه کیدلای شي چې پټ او یا په جوته وي.  ستون پنجم په عمومي توګه په پټه سره ځواکونه/فکرونه راټولوي څو په نظام باندې د بهرني برید لپاره ترې کار واخستل شي.  دا کلمه لومړی ځل په کال ۱۹۳۶ کې  د هسپانیې دکورنۍ جګړې پرمهال  د هسپانوي جنرال  ایمولوی ملا له لوري  ژورنالست ته د مالوماتو د ورکولو پر مهال وکاروله. هغه وویل چې زما څلو ستنې/مټې برید ته چمتو دي او پنځمه  ستن/مټه به زما له ځواکونه سره د ښار له مینځه له ما سره مرسته کوي.

## سوسیالیزم

سوسیالیزم هغه تیوري یا سیاست دی چې  د تولید د وسایلو ملکیت او یا د تولید پر وسایلو باندې  څارنه کوي چې  عبارت دي له سرمایې، مځکې، اموال  او داسې نور  د فرد پرځای د ټولنې پر  لاس کې او د ټولنې په ګټه بولي.   که څه هم چې د سوسیالیزم د عقایدو په اړه پراخ اختلاف نظر شتون لري خو په ټول کې یو مشترک باور  عنصر لري چې هغه عبارت دی  د فرد په وړاندې د ټولنې لومړیتوب او د ټولیزو ګټو لوړوالی/غوره والی په فردي ګټو باندې.

### اقتصادي او ټولنیزه شورا

دا د ملګرو ملتونو د شپږو ارکانو څخه یوه ده چې د عمومي غونډې له خوا  مسولیت او صلاحیت ورکړل شوی څو  اقتصادي، ټولنیزه، فرهنګي، روغتیایي  برخې پرمخ بوځي او د بشر حقوقو اساسي ازادیو څخه هم څارنه وکړي. دا شورا له ۱۸ غړو څخه جوړیږي چې غړي یې د ملګرو ملتونو  عمومي غونډې له خوا ټاکل کیږي. د شورا دغړیتوب موده دری کاله ده. د ملګرو ملتونو د منشور له خوا چې پراخه اقتصادي، ټولنیزه، او روغتیایي مسولیتونه لري  وړاندوینه کوي او  اقتصادي او ټولنیزه شورا ته دنده سپاري څو په اړوند برخو کې اړیکې وساتي.  اقتصادي او ټولنیزه شورا مسولیت لري څو د ځانګړو موسساتو فعالیتونه سره هماهنګ کړي. دا اقتصادي موسسات عبارت دي له:

۱:  د زراعتي توکو د زیرمې او ساتنې موسسه۲:  نړیوال بانک ۳:   د کار نړیوال سازمان ۴: دبحري فعالیتونو اړوند سازمان۵: د روغتیا نړیوال سازمان ۶:  د پیسو نړیوال صندوق ۷: یونسکو ۸: نړیواله پوسته خانه ۹: د هوا پېژندنې نړیوال سازمان۱۰:  دهوا نوردی نړیوال

سازمان ۱۱: د اټومي ځواک نړیوال اژانس ۱۲: نړیوال مالي شرکت. همدارنګه د سوداګرۍ نړیوال کمیسیون، د بشر حقوق، مخدره مواد، ټولنیزه امور، نفوس شماري، د ښځو وضیعت، اړیکې او مخابرات هم په دې لېست کې شامل دي. په ورته وخت کې دې شورا داسیا، افریقا، لاتین امریکا،اروپا، لېرې ختیځ لپاره سیمه ییزه اقتصادي کمیسونونه رامینځ ته کړي دي.

## امنیت شورا

دا هم د ملګرو ملتونو د شپږو ارکانو له ډلې څخه دی. دا شورا پنځه لس غړي لري چې له دې ډلې . پنځه یې دایمي غړي دي. پنځه دایمي غړي یې امریکا، انګلستان، روسیه، چین او فرانسې څخه عبارت دي. د امینت شوار اصلي دنده نړیواله سولې او امنیت ساتل دي. ددې شوار غیر دایمي غړي د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له لورې ددوه کلونو لپاره ټاکل کیږي. د سازمان غړي د امنیت شوار د پریکړو په عملي کولو کې هوکړه او تعهد کړی دی. د عامه نظم په اړه د پریکړو لپاره د اکثریت رایې په نظر کې نیول کیږي خو په نورو زیات شمېر مسایلو کې د پنځه دایمي غړو هوکړه لازمي ده او دې اصل د ؛ ویټو؛ حق رامینځ ته کړی دی. (۱). په هغه مهال چې د مسلې حل دسولې له لارې کیږي نو هغه دولت چې د په طرف کې شتون ولري، د رای ورکولو حق نه لري.

دا منیت شورا د ملګرو ملتونو د منشور په رڼا کې نړیوالې سولې او امنیت ته د تهدید په پیژندلو سره حق لري چې په دې اړوند لازمې مشورې ورکړې او یا هم د سولې او نظم د بیا رامینځ ته کولو لپاره د نیغ په نیغه مداخلې پریکړه هم کولای شي. د امنیت شورا په داسې حال کې غړو هېوادونو ته توصیه کوي چې له تیرى کوونکي هېواد سره هرډول اقتصادي اړیکو قطع کړي او یا هم ښایي چې له هغوی وغوښتل شي چې ځمکني، هوایي او سمندري ځواکونو د لېږلو غوښتنه ترې وشي. د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه کولای شي چې په ټولیزه او یا هم فردي توګه د ځان څخه دفاع وکړي. د امینت شورا سازمان داسې رامینځ ته شوی دی چې همېشه او هروخت د نړیوالې سولې د ساتلو په موخه ګام واخلي.

نوټ: د ویټو حق یانې د ردولو، منع کولو او یا هم نه منلو حق. د امنیت شوراد د دایمي غړو د یوې منفي رایې په کارولو سره د ویټو حق په ځای کیږي او پریکړه رد کیږي

ZIONISMصهیونیزم

صهیونیزم  د یهودو هغه ملي خوځښت ته ویل کیږي چې په پایله کې یې د فلسطین په خاوره کې د یهودو خپلواکه ټولنه مینځ ته راوړه. ددې خوځښت نوم د صهیون د غره څخه اخستل شوی دی او په اورشیلم کې کې موقیعت لري چې د وخت په تیریدو سره یې نوم د فلسطین د ویاړ په څلي اوښتی دی.  د اورشلیم د نړیدلو له امله یهود د رومنیانو له خوا د نړۍ نورو برخو ته وویشل شول. ددې تیتولو سره سره یهودیانو خپل دین او فرهنګ ژوندی  وساته او په نورو ملتونو کې مدغم او ګډ نه شول او په همدې دلیل د تاریخ په اوږدو کې هغوی کله کله د د دیني لړګکیو او یا هم د نژادي اقلیت په توګه د نورو ملتونو له خوا شکنجه شوي دي. یهودیانو شوق درلود څو خپلې خاورې ته راوګرځي او په همدې موخه ډېر ګوندونه او خوځښتونه رامینځ ته شول خو ټول له ناکامۍ سره مخامخ شول. د نولسمې پیړۍ په وروستیو کې د په ختیځه اروپاکې د یهودیت په وړاندې د ضد په رامینځ ته کیدا سره  د اروپایي نسیونالېست ګوندونو د تاثیر لاندې نوی صهیونیزم  رامینځ ته شو. دا نوښت د تیودور هرتسل ژورنالست په نوښت سره رامینځ ته شو، نوموړی د هنګري څخه و.  دا خوځښت  په نړیواله کچه د یهودو له مرستې څخه برخمن شو او لومړی کنګره یې په ۱۸۹۷ کال کې رامینځ ته شوه.  د یهودو د ملي ګوند له  خوا  د فلسطین په خاوره کې  د وطن رامینځ ته کولو او د یهودو ځای پرځای کولو اقدامات له ناکامۍ سره مخ شول، هغه وخت د فلسطین خاوره د عثمانیانو په واک کې وه خو د یوه یهودي روښنفکره (وایزمن) د هڅو په مټ چې نوموړی د اسرایلو لومړنی ولسمشر هم وټاکل شو، د انګلستان  حکومت یوه بالفور اعلامیه خپره کړه او د یهودو غوښتنې سره یې هوکړه وکړه.  په دې وخت کې په اروپا کې مېشت یهود مهاجر فلسطین خاورې  ته ولیږل شول څو د نوي دولت تشکیل رامینځ ته کړي. دې مهاجرت د محلي عربو له غبرګون راپورته کړ او د عرب او یهود پراخه جګړې باندې واوښت. ددوهمې نړیوالې جګړې وروسته ملګري ملتونو د فلسطین په خاوره کې د یهودي دولت په رامینځ ته کولو سره هوکړه وکړه.  دې دولت  په کال ۱۹۴۸ کې د انګلسیانو د وتلو وروسته  رامینځ ته شو. که څه هم چې د صهیونیزم اصلي موخه   اسرایلي دولت رامینځ ته کول ول، ترلاسه کړله خو دا خوځښت اوس هم په نړیواله کچه د اسرایلي دولت د نفوظ ساتلو او پراخولو لپاره کار کوي او د یهودو د ملاتړ څخه برخمن دی.

## فاشیزم

فاشیسم یو سیاسي خوځښت دی چې موخه یې  د پارلماني نظام په وړاندې د یوه دیکتاتوره نظام مینځ ته راوړل دي چې اساس یې ددامې یوه دولت رامینځ ته کول دي

چې د ډموکراسي، لیبرالیزم او سوسیالیزم سره ښکاره دښمني وکړي. دا خوځښت او ددې خوځښت د ایډیالوژي ریښه په ایټالیه پور ې اړه لري خو د نړۍ په کچه  پلویان لري. په هسپانیه کې فلانشیزم، او په ارجنټاین کې د ؛ پرون؛ حکومت یې د فاشیست رژیمونو نمونې دي.موسلیني، د فاشیزم اصول په دوو برخو ویشلي دي. ۱:  فاشیزم  په دوام داره سوله باور نه لري او سولې په ګټو هم اعتقاد نه لري. د هغوی په نظر سوله یو زیان ورکونکی فرض دی . ۲:  فاشیزم د مارکسیزم او نورو سوسیالستي فکرونو سره په ټکر کې دی په دې ترتیب سره فاشیزم هم د تیوري له لحاظه او هم په عمل کې د ډموکراټیکه او سیاسي او اقتصادي لیبرالیزم سره هم مخالفت لري.

حیاتي فضا

د حیاتي فضا شعار د المان د ناسیونالستانو له خوا ورکول کیده، په ځانګړي ډول د کال ۱۹۳۳ م څخه تر کال ۱۹۴۵ م پورې. د حیاتي فضا تیوري اساس له دې امله رامینځ ته شوی دی چې المان د زیات نفوس په درلودلو او د ناکافي مځکې په درلودلو سره د خوړو د کمښت څخه د مخنیوي لپاره یې تدابیر ونیول. د نازیانو په وخت کې غوښتل چې د خیتځ خواته نوره مځګه لاندې کړي. دا تیوري ځینې نور احزاب هم په ځینې نورو هېوادونو کې پرمخ وړي.

قیمومیت

قیمومیت یو نړیوال تاسیس  دی چې له امله یې د ملګرو ملتونو د څار لاندې دولتونه  د ساتونکي ترنامه لاندې  د ځانګړو مځکو د ساتلو  او هغه جغرافیې ته د خپلواکۍ د ورکولو لپاره تعهد ورکړی که  څه هم چې کیدلای شي چې موخه نوموړې جغرافیې ته استقلال ورکول نه وي خو قیم/ساتونکی هېواد حق نه لري چې د قیمومیت لاندې خاوره د خپلې خاورې په نوم ونوموي.

کاپیټلېزم

دا هغه ډول اقتصادي سیستم دی چې په هغه کې د اقتصادي فعالیت لویه برخه په ځانګړي توګه مالکیت او د توکو د تولید لپاره پانګه اچونه د  شخصي موسساتو او افرادو په لاسونو کې وي. هغوی د اقتصادي رقابت او د ګټې د انګېزې تر اغېز لاندې فعالیتونه هدایت کوي. د کاپیټلیزم کلمې ته سوسیالستانو زیات رواج ورکړ. د کاپیټلیزم څخه د

هغوی موخه د هغه سیسټم څخه ده چې شخصي افراد پکې د تولید د وسایلو مالکان وي او نومورې ګټه مزدورانو ته د مزد د ورکولو وروسته لاس ته راځي.

د پانګې اچونې تکامل باید درې دورې سرته ورسوي.

لومړی دوره: دا هغه دوره ده چې د پانګې رشد او پرمختګ د تجارتي کاپیټلیزم سره پیل کیږي چې په هغه کې عمده پانګه اچوونکي د مبادلې ( بازار) پر بهیر باندې مسلط کیږي.

دوهمه دوره: دا دوره په صنعتي انقلاب سره پیلیږي. په دې دوره کې د فابریکاتوڅښتن په معدنونو او نورو اقتصادي زیرمو باندې تسلط پیدا کوي.

دریمه دوره: په دې دوره کې د سرمایې/پانګې لاسته راوړل عملي بڼه اخلي.په دې برخه کې اقتصادي تسلط ورو په ورو بانکدارانو او پیسه لرونکو ته انتقالیږي او دوی د پیسو په واسطه په اقتصادي موسساتو باندې تسلط پیدا کوي. کله کله د څلورمې مرحلې څخه هم یادونه کیږي او هغه ته دولتي کاپیټلیزم ویل کیږي.لینین،څلورمه مرحله هغه داسې چې دولت د تولید اداره او وسایل دولت د هغه چا په اختیار کې ورکوي چې ددولت واګې په لاس کې لري . د غیر سوسیالستاي اقتصادپوه په نظر کاپیټلیزم د تولید وسایلو په مالکیت او شخصي پانګه اچونې هغه سیسټم دی چې که چیرې ددولت له لوري لاس وهنه راټیټه شي نو تولید پکې حداکثر ته رسیږي او همدارنګه کم پیدا کیدونکي منابع او فعالیتونه د ټولنې په طبقو باندې په منطقي شکل ویشي.

کاپیټالاسیونCAPITUALATION

کاپیټلاسیون د سازش او تسلیم په مانا دی او داسې تړون ته ویل کیږي چې دیوه دولت اتباع په بل دولت کې د خپلو قوانینو تابع وي. دا ډول قوانین په بل دولت کې د قونسل له خوا پلي کیږي په همدې دلیل په فارسي کې ورته؛ حق قضاوت کنسولي؛ ویل کیږي. ایران په کال ۱۹۲۸ کې د کاپیټالاسیون قانون لغوه کړ.

کمیونیزم

کمنیزم هغه تیوري ته ویل کیږي چې د ګډ او مشترک ژوند څخه ملاتړ کوي او په ټولنه کې د مراتبو د سلسلې خلاف دی. دا سیسټم د ژوند د سهولت د وسایل او نور ټول اموال په مساوي توګه د ټولنې په اختیار کې ورکوي. کمونستان باور لري چې سوسیالیستي د کمونیزم لومړنی مرحله ده او وایي چې کمونیزم ته درسیدا لپاره باید لومړی د

سوسیالستې له مرحلې تیر شي. د پخواني شوروي د ۱۹۵۳ کال دایراه امعارف کمیونیزم دا ډول تعریف کوي.  د پانګې اچونې( سرمایه داری) تر بل هرڅه  غوره ځایناستی سیستم دی چې د سوسیالیزم په عملي کولو او د هغه څخه له عبور مینځ ته راځي. د کمونستان په باور  د سوسیالیزم په ځواکمن کولو سره پرته له انقلابه  کمونیزم مینځ ته راځي او د کمونستي لاندې د تولید ټول وسایل/توکي شخصي نه بلکه عمومي وي او ټول په فداکارانه توګه کار کوي او دولت چې د ټولنې ته د لوړې مرحلې څخه هدایت کوي، له مینځه ځي.

## FEDERATIONفدراسیون

فدراسیون د یوه واحد دولت د جوړیدا په موخه د څو سیاسي واحدونو یوځای کیدلو په پایله کې مینځ ته راځي.  په فدراسیون کې کوچني واحدونه د خپل ځان او اتباعو لپاره محدوده اختیار/واک او اقتدار لري او  بهرنۍ کړنلاره عمومي فدراسیون په واک کې وي. د فدراسیون  یا د فدرال دولت اساسي قانون  د کورني واحدونو چې معمولا ایالت بلل کیږي، کورني اختیارات ټاکي همدارنګه ددې ترڅنګ د فدرال دولت له خوا پر ایالت باندې د ځار او نظارت حدود هم ټاکي. هر یو غړی  دولت باید د قانون جوړونې خپل مجالس لري خو قوانین یې باید د فدرال دولت  د قوانینو سره په ټکر کې نه وي. د فدرال دولت نامتو دولتونو بېلګې د امریکې متحده ایلات، کاناډا، استرالیا، ارجنټاین،مکسیکو او همدارنګه هندوستان دي.

## CONFEDERATIONکنفدراسون

ددفاع او همکارۍ په خاطر د څو دولتونو یو ځای کیدلو ته کنفدراسیون ویل کیږي. کنفدراسیون  مرکزي قدرت د متحده دولتونو پر اتباعو باندې مسلط نه وي او همدارنګه متحد دولتونه  په کورني او بهرني سیاست کې خپلواکه وي. دکنفدراسیون غړي هېوادونه په نړیوالو اړیکو کې  د جدا او خپلواکو هېوادونو په نوم فعالیت کوي خو په خپل مینځ کې د جګړې څخه ډډه کوي.

## کودتا

کودتا د دولتي  اود نظامي مقاماتو د زور په مټ ناڅاپي بدلون راوستلو ته وایي. د کودتا او انقلاب ترمینځ توپیر دا دی چې کودتا د نظام له مینځه  د حاکمې طبقې په وړاندې سرته رسیږي خو انقلاب د ټیټو طبقو او د خلکو له خوا ددولت په وړاندې پاڅون ته ویل

کیږي. کودتا معمولا د د راډیو تلویزیون،د مخابراتو د مهمو مرکزونو، د هوایي ډګرونو، د اورګاډو له مهمو مرکزونو او همدارنګه نورو مهمو دولتي تاسیساتو په نیولو سره اجرا کیږي.

## لیبرالیزم

دا هغه سیاسي نظریه ده چې د دولت ، موسسه او یا هر بل سازمان چې د بشر د ازادۍ لپاره خطر وي او د هغوی له لوري د ټولنې پر طبقاتو باندې د تسلط څخه خپلواکي غوښتونکې ده.لیبرالیزم د یوه خوځښت په څېر باور لري چې ددولت اتباع ظالم نه دي باید قانون ددې خلکو څخه په شخصي ژوند کې هم ملاتړ وکړي او همدارنګه په عمومي مسایلو کې خلک باید د هغه جرګې له خوا چې د خپلواکه ټاکنو له لوري مینځ ته راغلی وي، څارنه او نظارت وکړي.

د اقتصاد له لحاظه لیبرالیزم یانې پر اقتصادي ژوند باندې ددولت له لوري د هرډول تسلط په وړاندې مقاومت ته ویل کیږي. دوی په ځانګړي توګه ددولت له هغه پریکړې سره چې د وارداتو د راتیټولو لپاره پرواردادتو باندې مالیه پورته کوي او همدارنګه ټولې هغه اقتصادي مداخلې چې د د تولید او د شتمني پر وړاندې پر وړاندې نامناسب وي، مقاومت او مخالفت کوي.مذهبي لیبرالیزم په دې مانا دی چې هرکس وکولای شي چې خدای(ج) ته د عبادت کولو د لارې لپاره پوره حق ورکړل شوی وي.

## ماکیاولیزم

دا سیاسي مکتب نیکولو ماکیاولی پورې اړه لري چې د ایټالیې دی. ماکیاولیزم په سیاست کې موخې ته درسیدا د طرز له څرنګوالي بحث کوي. ماکیاول په سیاست کې موخې ته رسیدا لپاره د هرې وسیلې څخه کار اخستل روا ګڼي او په دې ترتیب اخلاق له سیاست څخه جلا کوي نو له دې امله ماکیاولیزم یانې په سیاست کې موخې ته د رسیدا لپاره له غیر اخلاقي سلوک څخه هم کار اخستلو ته ویل کیږي.

ماکیاول باوري و چې که چیرې مشر غواړي چې بقا تجربه کړي او همدارنګه بریالی وي نو پکار ده چې د شرارت څخه په ویره کې نه شي او د شرارت ممانعت ونه کړي ځکه پرته له شرارته د دولت ساتل شونتیا نه لري. مشر باید د قدرت لاس ته راوړلو، د قدرت زیاتولو او همدارنګه د هغه زیاتولو لپاره هرډول تقلب، خیانت، دوعدې ماتول، او چالاکي کولای شي.

## د ملګرو ملتونو عمومي غونډه

دا هم د ملګرو ملتونو د شپږو ارکانو له ډلې څخه یوه یې ده او د ملګرو ملتونو هر غړی دولت یوپکې یو نماینده لري. هر غړی هېواد کولای شي چې  په عمومي غونډه کې پنځه نماینده او پنځه علا البدل غړي ولري خو یوازې یوه رایه کارولای شي.  د ملګرو ملتونو عمومي غونډه د ملل متحد یوازېنی رکن دی چې په هغه کې غړي هېوادونه کولای شي چې نماینده ولري. عمومي غونډه د ملګرو ملتونو نور ارکان یا په خپله او یا هم د امنیت شورا یې ټاکي او د ملګرو ملتونو د منشور په رڼا کې په ټولو موضوعاتو کې د بحث حق لري.  د امنیت شورا، اقتصادي او ټولنیزه شورا، د قیمومیت شورا، د ملګرو ملتونو سکرتریت  کلنی رپوټ عمومي غونډې ته ورکوي او او عمومي غونډه یې د کتنې وروسته  د څرنګوالي په اړه  اړوند رکن ته لازمه مشوره ورکوي.

## NATIONALISMنشنلیزم

نشنلیزم  د ډلیزه خبرتیا(اګاهي) یو ډول احساس دی یانې په ځانګړي ملت باندې د تړاو خبرتیا او د ځانګړي ملت د غړیتوب خبرتیا ته ویل کیږي. دا ډول خبرتیا ته ؛ ملي خبرتیا؛ ویل کیږي. لکه څرنګه چې هر ملت  د ځانګړې جغرافیې سره تړاو لري، هغې خاورې ته وفاداري، او فداکاري او د هغو څخه تجلیل د نشلیزم له ارکانو څخه شمېرل کیږي. نشلیزم هغه ایډیالوژي ده چې ملي دولت  د سیاسي سازمان لپاره ترټولو غوره شکل بولي.

د نشنلیزم لاندې مبارزې د بهرني تسلط او یا هم  تیري په وړاندې د ملي دولت د ساتلو او یا هم رامینځ ته کولو لپاره ترسره کیږي.

د ډله ییزه خبرتیا په توګه نشنلزم  دملي یووالي  احساس دی او دا حس د ذهني او څرګنده دلایلو په اساس وي لکه مشترکه ژبه، اخلاقي ارزښتونه، دین، ادبیات، فرهنګ، د ګډو ښښو او ښښانو تاریخ او همدارنګه ګډې تجربې دي. نشنلزم د ملت د راتلونکې او سرنوشت په وړاندې ته وفاداري او د هغه په وړاندې پاملرنې سره تړاو لري چې پر نورو ټولو مسولیتونو لکه د کورنۍ لپاره وفاداري پر دې ټولو باندې لومړیتوب لري نو پر دې اساس  د نشنلزم لاندې ملي دولت ته خیانت  ملت ته خیانت ګڼل کیږي.  نشنلزم د ملي غوښتنو او ملي رفا خپل مسولیت ګڼي  او ترقي او پرمختګ د ملت په عمل پورې تړلی بولي او په ورته وخت کې هر فرد د ملت  او ټولنې په وړاندې د ملي غرور، ملي ویاړونو، تاریخي سوابقو او همدرانګه د ملي کلتور  د ساتنې لپاره د خپلې دندې په اجرا کولو کې مسول ګڼي.

## VETTOوټو

وټو د یوې پریکړې د کیدلو څخه مخنیوي ته ویل کیږي یانې د وټو حق د منع کولو حق ته ویل کیږي نو په دې اساس د وټو حق د یوه هېواد قانوني حق دی څو بل هېواد د قانون په چوکاټ کې د وټو رای په کارولو سره د عمل او یا هم پریکړې څخه مخنیوی وکړي. دا لفظ د ملګرو ملتونو د قانوني فعالیتونو په بهیر کې ځانګړې مانا لري. په دې ځای کې وټو د ملګرو ملتونو د پنځو دایمي غړو حق دی چې تصویب شوې موضوع د بل غړي له خوا د مخنیوي لپاره دا رایه کارول کیږي.

## یونسکو

یونسکو د ملګرو ملتونو علمي، فرهنګي او روزینزه سازمان دی چې په کال ۱۹۴۶ د نومبر په میاشت کې مینځ ته راغی. ددې سازمان د اساسنامې له مخې موخې یې د علمي او فرهنګي روزنې او همکارۍ په وړاندې کولو سره د ملتونو ترمینځ د سولې او امنیت په راوستلو کې مرسته او همدرانګه د حکومت قانون ته د احترام زیاتول، عدالت پلي کول، انساني حقوق او ازادي ته کار کول چې د ملګرو ملتونو د منشور څخه تصدیق شوي دي. د یونسکو فعالیتونو په ۸ برخو کې ترسره کیږي.

۱: تعلیم او تربیه: د ناپوهۍ له مینځه وړل او اساسي تعلیم او پوهه عام کول؟، د تعلیم او تربې د کچې لوړول او همدارنګه د بشر حقوقو ته احترام کول

۲: طبیعي علوم: د متفکرانو ترمینځ د همکارۍ زیاتونه او پوهې ته نوره هڅونه

۳: اجتماعي علوم: د مطالعې لپاره هڅونه، د دیني او نژادي تعصب په وړاندې مبارزه او تفاهم رامینځ ته کول

۴: فرهنګي فعالیتونه: د غړو دولتونو ترمینځ د فرهنګې راکړې ورکړې پراخول اوهمدارنګه هنري، ادبي، او فلسفي اثارو ته د خلکو د علم زیاتولو په موخه لاسرسی.

۵: د غړو دولتونو ترمینځ په بهر کې د کار او همدارنګه د تحصیل د زمېنې لپاره اړیکې نیول

۶: ډله ییزه اړیکې: د یونسکو له کارونو د هرچا خبرول او همدرانګه د تعلیم او تربیې په اړه د اړینو پېښو څخه د خلکو خبرول، همدارنګه پوهې ته دخلکو سره په لاسرسي کې مرسته کول.

۷: بیاجوړونه: د ښوونځیو، کتابتونونو، او علمي موسساتو سره چې دجګړې د اغېز له امله ویجاړ شوي وي د بیا جوړونې مرستې کول.

۸: مسلکي مرسته: د تعلیم او تربیې ، د مسلکي زده کړو، د عموم زړه کړو، د ښوونکي په روزنه، د علمي تحقیق په برخه او همدارنګه علمي مشاورو په برخه کې د مسلکي روزونکو وړاندې کول.

یونیسف

یونسف یانې د ملګرو ملتونو له خوا د ماشومانو لپاره د فوق العاده صندوق دی. دا موسسه د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزه شورا تر څار لاندې کار کوي او دندې یې د ماشومانو روغتیا او دهغوی په ابادۍ کې مرسته کول دي په ځانګړي توګه د هغه هېوادون سره چې ددوهمې نړیوالې جګړې څخه یې زیان موندلای دی. په دې وروستیو کې یې د یونسیف علاقه هغه هېوادونو ته اوښتې ده چې لږ پرمختګ یې کړی وي. د یونسف د خدمت یوه نمونه د اردن د بې سرپنا ماشومانو سره د شیدو مرسته ښودل کیږي.

# دوهمه برخه:

نړیوال تخصصي سازمانونه

د نړیوالو بنسټونو تدریجي پرمختګ

د نړیوالو بنسټونو په راتګ سره تحول د ټولنې ښکاره اړتیا ده چې ددولتونو ترمینځ د اړیکو په درلودلو سره مینځ ته راځي. د نړیوالو راوابطو پرمختګ ددولتونو ترمینځ د اړیکو د حجم د زیاتیدا په مانا دی چې د یوې متمدنې ټولنې په شتون دلالت کوي.

که ماضي ته وګورو، پوهیرو چې یونانیانو او رومنیانو هم د کنسولۍ او نړیوالو روابطو په درلودلو باندې باور درلود او د هغو پر پایلو ته یې ارزښت ورکاوه. د هغو په نظر کنسول د دولت له یوه رسمي مقام څخه عبارت و چې په نوموړي هېواد کې یې د خپلو خلکو چې د سوداګري او د توکو په راکړه او ورکړه باندې بوخت ول، ملاتړ وکړي. ددې لپاره چې کنسول یوازې د خپلو خلکو څخه چې په پردي هېواد کې د سوداګرۍ پر چارو بوخت دي،

ملاتړ وکړي، هغه  نور کارونه چې کیدلای شول ددوه هېوادونو د اړیکو په پراختیا کې یې مرسته کړې وای، کوم کار نه شو کولا ځګه کنسول به یوازې د ګمرک اړوند، د راکړې ورکړې اړوند او همدارنګه د سرحد اړوند موضوعاتو باندې تمرکز کاوه. معمولا دا موضوعات به جدیت لوري ته تلل او دولت به ددې موضوع د حل لپاره لوړپوړی چارواکی چې په پرتلیزه ډول ډیر واک به یې درلود، همدې هېواد ته لېږه.

په داسې حال کې چې نړیواله همکاریو په تدریجي ډول پرمختګ کاوه  او دولتونه ددې اړیکو په اهمیت باندې پوه شول  نو د نړیواله بسنټونو په جوړولو کې پراخې هڅې پیل کړلې چې له دې ډلې  یې ځینې نړیوالې اتحادیې او کنوانسینونه لکه د سرې میاشتې نړیوال بنسټ، د سوداګرۍ نړیوال اطاق او ځینې نور بنسټونه ول چې له یوه او بل ورسته مینځ ته راغلل.

د نړیواله خصوصي بنسټونو په رامینځ ته کیدا سره ځو دولتونه په خپلو کې اغېزناکه اړیکو لپاره ګامونه پورته کړي او  د ریفورم او سمون په موخه  د دولتونو ترمینځ  د اړیکو د پراختیا سبب شوه.  که وغواړو چې د نړیوالو بنسټونو او د هغوی د فعالیتونو په اړه ډیر مالومات ولرو نو پکار ده چې پوه شو چې کوم سازمانونو سره د ځو ملتونو ملاتړ دی او کومو سازمانونو سره د ملتونو ملاتړ نشته( یانې د واک په تناسب کوم سازمان لږ او کوم ډیر واک لري. ژباړن) . ددې لپاره چې د سیاست د علم زده کړیالانو ته اړینه ده چې د نړیوالو حقوقو په برخه کې کلمو سره باید اشنایي ولري  نو په همدې موخه غواړم چې ځینې نړیوال بنسټونو او پر فعالیتونو یې رڼا واچوم ځو هم له کلمو سره او هم د بنسټونو سره اشنا شئ.

هغه سازمانونه چې محدود واک لري.

ILOد کار نړیوال سازمان یا

د کار نړیوال سازمان چې د پخوانۍ نړیوالې ټولنې څخه دی، ددوی اصلي موخه د کار  په شرایطو کې اسانتیا راوړل، د کار و ړاندې کولو تنظیمول، د بیکارۍ څخه مخنیوی کول، د ناروغۍ په وړاندې د کارګر څخه ملاتړ کول، د کار په بهیر کې کارګر ته تاوان رسیدل او د کار اړوند مسلکي او غیر مسلکي روزنو چمتو کول یې هم له دندو شمېرل کیږي.

TACOد دولتونو ترمینځ نړیوال هوایي سازمان یا

دا سازمان  په کال ۱۹۴۴ کې د شیکاګو د کنوانسیون په لړ کې رامینځ  ته شو. ددې سازمان موخې د دولتونو ترمینځ د هوانوردۍ د اړیکو  اصولو او قوانینو ته پراختیا ورکول دي.  همدارنګه د سوله ییزه موخو لپاره د الوتکو څخه د کار اخستلو لپاره هڅونه ، د هوانوردی چوپړتیاوو ته پراختیا ورکول، د ضرر رسوونکي رقابت څخه مخنیوی، د نړیوالې هوانوردی د چوپړتیاوو په برخه کې د تبعیض په وړاندې مبارزه او همدارنګه سمندري سیمه ییزه او نړیوال چوپړتیاوو ته پراختیا ورکول یې هم د اساسي دندو څخه دي.

د بیا جوړونې  او پراختیا نړیوال بانک (T.B.R.D

دا بانک په کال ۱۹۴۴ کې  مینځ ته راغی. ددې بانک موخه د ځمکو سره پانګې اچونې د سهولت د وړاندې کولو، د پانګې اچونې ارتقا، د ضمانت له لارې بهرنۍ او کورنۍ پانګه اچونه ، سیمه ییزه او نړیوالې سوداګرۍ د پرمختګ سره مرسته، په ټول کې د اقتصادي بهبود د پروګرامونو څخه ملاتړ کوي او  هڅه کوي څو جګړه ییزه اقتصاد په سوله ییزه اقتصاد باندې واړوي.  ددې بانګ عملیات کاملا مسلکي دي او د څرنګوالي په اړه یې په اساسنامه کې تفصیلات ذکر شوي دي.

د پیسو نړیوال صندوق IMF

دا بنسټ په حقیقت کې د بانک یوه برخه ده.  ددې صندوق دندې عبارت دي له:  د پیسو په برخه کې د مرستې، د نړیوالې متعادلې سوداګرۍ د پرمختګ، د پیسو د تبادلې  ثابت ساتل او د پیسو د ارزښت د راټیټولو د رقابت مخنیوي لپاره د یوه دوامداره او ثابت سیسټم رامینځ ته کول او همدارنګه  د سوداګرۍ لپاره د څو خواوو په ګډه د پیسو د ورکړې پراختیا او پر هغه شراکت باندې محدودیت چې د سیمه ییزه او نړیوالې سوداګرۍ مخه ډبوي،او همدارنګه د غړو هېوادونو په  واک کې مالي منابع ورکول چې وکولای شي چې د پولي ورکړې پر مهال تعادل رامینځ ته کړي  د ددې صندوق له ځینو اساسي دندو شمیرل کیږي.

**نوټ:** دپسیو نړیوال صندوق له اړینو دندو یې ځینې په لاندې ډول دي. ۱: د هر هېواد مالي او اقتصادي پرمختګ، د مالي بحران مخنیوي لپاره د هېواد کړنلارې څخه نظارت دی. ۲: نړیوال صندوق همدارنګه هغه هېوادونو ته چې د مالي  بحران سره مخ وي د تخنیکي ستونزو سره د مبارزې په برخه کې مرسته او همدارنګه د ټیټ عاید لرونکو هېوادونو ته هم د قرض ورکړه ددې صندوق  موخه ده او دریم دا چې  دا صندوق په فني او مسلکي برخه کې هر غړي هېواد ته  تخنیکي مرسته وړاندې کوي. ( ژباړن)

## F.A.Oد خوارکي توکو او زراعت نړیوال سازمان

دا سازمان په کا ۱۹۴۳ کې مینځ ته راغلی او دندې یې عبارت دي له: د تغذیې، د غذایي موادو او د زراعت د پراختیا په اړه د رپوټ راټولونه، تحلیل کول او همدارنګه خپرول دي. د تغذیې او غذایي موادو اړوند له ادارو څخه د پرامختګ په موخه ملاتړ، د طبیعي منابعو د تولیداتو د بهبود څخه ملاتړ، هغو ته د بازار پیدا کول او توزیع کول، د مسلکي مرستو وړاندې کول، د بشري ټولنې له لوږې څخه د ساتنې لپاره نړیواله مبارزه.

## UNESCOد ملګرو ملتونو د فرهنګي، علمي او روزنیزه سازمان

د یونسکو اساسنامه په کال ۱۹۴۵ په لندن کې طرح او لاسلیک شوه. ددې سازمان موخې عبارت دي له: دملتونو ترمینځ د روزنې له لارې، د علم او فرهنګ له لارې د سولې او امنیت د ساتلو سره مرسته. دې موخې ته د رسیدا لپاره دملتونو ترمینځ د ټولنیزه امکاناتو څخه په ګټې اخستنې د علم او تفاهم د کچې په لوړیدا سره همکاري کوي او خپلو موخو ته د رسیدا لپاره د غړو هېوادونو سره د لازمو شرایطو پرځای کولو لپاره هوکړه لیکونه لاسلیک کوي.له دې پرته یونسکو د بشري میراث د خوندي ساتلو په موخه د ملتونو ترمینځ د هڅونې له لارې، د همدې میراث د ساتلو لپاره ذهني مبارزه او هر غړی هېواد هڅوي څو همدا بشري میراث نورو د لېږد په موخه چاپ کړي او یونسکو پراختیا ورکړي.

## WHOد روغتیا نړیوال سازمان

دروغیتا په برخه کې نړیواله همکاري اوږد شالید او سابقه لري. دروغیتا نړیوال سازمان چې د جولای د ۲۲مې او په کال ۱۹۴۶ کې د اساسنامې په اساس مینځ ته راغلی، په حقیقت کې د روغتیا د ځانګې د نړیوال عمومي دفتر د وارث په توګه کار او نمایندګي کوي. د ټولو خلکو روغتیا ته لاسرسی ددې سازمان د موخو څخه شمېرل کیږي. دا سازمان د کاري لایحې په اساس دوه ویشت دندې لري چې ټولې یې د دولتونو سره د مسلکي همکاریو په برخه کې مرسته، د دارو او دوایانو په برخه کې نړیوال معیارونو د لوړولو لپاره د یو لړهوکړه لیکونو رامینځ ته کول، د هغوی په اړه د مطالعاتو ترسره کول او په پای کې د اطلاعاتو او رپوټونو وړاندې کول دي.

## ITUد مخابراتو نړیواله اتحادیه

په کال ۱۸۶۵ م کې د تلګراف یوه اتحادیه رامینځ ته شوله چې په برلین کې د کال ۱۹۰۶ م د کنفرانس څخه وروسته، رادیو یې هم د خپل پوښښ لاندې ونیوله. د کال ۱۹۶۵ څخه د یو

لړ سمون وروسته  پکې ځینې اساسي بدلونونه رامینځ ته شول. ددې اتحادیې موخې عبارت دي له د مخابراتو په برخه کې د نړیوالې همکارۍ زیاتیدا او د هرډول مخابراتي الې د رامینځ ته کولو  کې د هغوی فني مرسته ده. دا اتحادیه د هر هېواد رادیویي څپو ته ځانګړې فریکونسي ورکوي  او د هغه هېواد د نوم لاندې یې رجستر او ثبت کوي څو د هرډول مضره فریکونسي مداخلې څخه یې خوندي وساتي.  دا اتحادیه د مصرف کوونکو لپاره( د تلفوني او نور خدمات) د ارزانې بیې لپاره د هېوادونو ترمینځ همکاري څخه ملاتړ کوي او همدارنګه په دې برخه کې مطالعات کوي او مطالعاتو خپرول هم سرته رسوي.

د عمومي واک لرونکي سازمانونه

نړیواله ټولنه

د نړیوالې سولې په موخه  هېوادونو څخه د یوې ټولنې رامینځ ته کولو فکر  د پخوا څخه په فلسفي او حقوقي لیکنو کې هم څرک لګیده.  د نړیوالې ټولنې د رامینځ ته کیدا فکر هغه وخت عملي شو چې په کال ۱۹۱۹ کې د پاریس په کنفرانس کې ددې متن به اړه بحث رامینځ ته شو. وروسته په برتانیا کې د فیلي مور په کمیټه کې یې شرایط تکمیل شول. د نړیوالې ټولنې د تاسیس موخې عبارت وې له:

د نړیوالې همکارۍ زیاتیدا او همدارنګه د نړیوالې سولې او امنیت لپاره هڅې.

ددې ټولنې په منشور کې د عمومي نظم په اړه راغلي ول چې د هېوادونو ترمینځ اختلافات باید د سوله ییزه لارې څخه حل شي، بې وسلې کول او همدارنګه د جګړې غیر قانوني کول او همدرانګه د غړو هېوادونو د خپلواکۍ ډاډه کولو او همدې موخو د اجرا کولو لپاره  ضمانتونو ایښودنه. د ټولنې له لارې د بې وسلې کولو پروګرام له ناکامۍ سره مخ شو.   د هغه څه مطابق چې ددې ټولنې په اړه یې وړاندوینه شوې وه  دداسې اختلافاتو حل چې نړیوالې سولې ته یې زیان رساوه  اجباري  ول .په دې برخه کې طرفین د اختیار څښتن ول یانې هغوی د اختلاف په صورت کې کولای شول چې لومړی ټاکل شوي حیّت ته مراجعه وکړي، دوهم د قضا له لارې حل کړي او دریم  د ټولنې شورا یې کولای شوه چې د اختلافاتو د حل لپاره ټاکلې وای.  همدارنګه د ټاکل شوي  نماینده رایه یا  د شورا رپوټ هم جبري ول او په ورته وخت کې هېوادونو هم ژمنه کړې وه چې اړوند رای باید ومنل شي او اړوند هېواد په وړاندې جګړې ته وړاندې نه شي. ددې ټولنې ټولو غړو هېوادونو منلې وه چې د هېوادونو ارضي تمامیت اوخپلواکي ته باید احترام قایل وي او همدرانګه بهرني تیري په وړاندې  د ساتنې په موخه اقدام واخلي.

د یوه غړي هېواد  د سوله یزه حل په اړه د ژمنې پرخلاف  د  وعدې ماتول دجګړې پریکړه د ټولو غړو هېوادونو په وړاندې  د یوه جنګي  ګام په توګه منل او یا نه منل د غړو هېوادونو واک او اختیار  و. شورا کولای شول چې ددې  هېواد په وړاندې د نظامي ضمانت په اجرا کولو سره د نظامي ګام په اخستلو پریکړه کړې وای خو دا مشروط د شورا د ټولو غړو په رای و.   په کال ۱۹۲۵ م کې دا شورا د یونان او بلغاریه ترمینځ  د ستونزې د سوله ییزه حل د بریا وروسته د ځو ناکامیو سره مخ شوه چې بېلګه یې د منچوري په وړاندېد جاپان تیری، په کال ۱۹۳۱ م کې د ایټالیا اوایتوپیا جګړه، په ۱۹۳۵ م کې د په ایرلنډ باندې د الماني پوځ له خوا تیری، په ۱۹۳۶ کې د پخواني شوروي اتحاد له خوا په فنلنډ باندې تیری یې بیلګې کیدلای شي.  ددې بحرانونو په بهیر کې یوازې د ایټالیه په وړاندې سپک اقتصادي ضمانت د اجرا ځخه کار واخستل شو د نورو ټولو په بهیر کې هیڅ ډول ګام  پرځای نه شو.  ددې ټولنې ناکامي د منشور په کیفیت او ځرنګوالي کې نه بلکې د غړو هېوادونو له خوا د خپلو ژمنو په اجرا کولو کې بې میلي  او بې تفاوته پاتې کیدل ول. ددې ټولنې د غړو هېوادونو د بې تفاوتي په پایله کې ددې ټولنې په انحلال تمام شو او په کال ۱۹۴۶  د اپریل په میاشت کې یې رسمي شکل واخېست.

ملګري ملتونه

د نړیوالې جګړې په مخنیوي کې ددې ټولنې د ناکامي وروسته  د نړیوالو باور له دې ټولنې واړوه او باوري ول چې یونړیوال سازمان کولای شي چې د نړیوالو جګړو په مخنیوي کې اغېزمن تمام شي. ددوهمې نړیوالې جګړې ځخه وړاندې یوځای هېوادونو هم لا له وړاندې خپل اتحاد ته د ملګرو ملتونو ویل. په کال ۱۹۴۳ کې له مسکو ځخه اعلامیه خپره شوه په هغې کې داسې راغلي ول؛ د یوه داسې نړیوال سازمان د تاسیس اړتیا لیدل کیږي چې د برابري په اصل باور ولري او د نړۍ پرمخ د کوچنیو او لویو سوله دوسته هېوادونو ځخه  تشکیل شوی وي ځو نړیواله سوله او امنیت خوندي وساتلای شي.؛ ددې سازمان په اړه د دقیق پروګرام لپاره  په کال ۱۹۴۳ کې په تهران کې پر چمتوالي باندې کار وشو، همدارنګه په ۱۹۴۴ کې په دمبارتن کې، ۱۹۴۵ په یالتا کې  او په پایله کې په کال ۱۹۴۵ کې د سنفرانسیسکو په کنفرانس کې  د پنځوسو دولتونو د نمایندګانو په شتون کې په داسې حال کې چې په جګړه کې بریالیو ځلورو هېوادونو له خوا د ملګرو ملتونومنشور چمتو شو.  د ملګرو ملتونو منشور په حقیقت کې ځو جانبه مهاعده ده چې حقوق او شرایط چې په اړوند هېوادونو باندې ایښودل شوي دي پر هغه باندې هروخت تاکید کیږي. منشور په ورته وخت کې  د ملګرو ملتونو  اساسنامه هم ګڼل کیږي او برخلاف د ځو جانبه

معاهدې، دا منشور په خپل ذات کې ځواکمن دی. هغه سازمان چې ددې منشور په پایله کې لاس ته راغلی دی یو څو ملیته ځواک او یاهم کوم نړیوال حکومت نه دی بلکه دا سازمان له هرڅه وړاندې یو امنیتي ټولیزه سیسټم دی چې د پخوانی نړیوالې ټولنې څخه یې تمرکز ډیر زیات دی.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا کولای شي چې داسې پریکړې ونیسې چې د غړو هېوادونو لپاره یې منل جبري وي. د همکارۍ هغه برخې چې د دولتونو ترمینځ یې دا منشور عملي کوي او د اړیکو سنتي برخې هم تکمیلوي او همدارنګه په اقتصادي او ټولنیزه برخه کې پراختیا رامینځ ته کوي، هغه څه دي چې دا منشور یوازې د امنیتي سیسټم څخه وباسي. ددې سازمان ټول امور د غړو هېوادونو څخه داوطلبانه په مخ ځي، یوازې په ځینو برخو کې د امنیتي شورا له لوري ځینې مسایل اجباري کیږي. دا چې هر غړی د خپل غضویت وروسته خپل حاکمیت هم خوندي ساتي ، ملګري ملتونه د یوه هېواد په کورنیو مسایلو کې د مداخلې حق او اختیار نه لري په دې اساس د منشور دوهمه ماده داسې بیانوي: په دې منشور کې هر درج شوی غړی ملګرو ملتونه ته دکورني مسایلو او صلاحیتونو لپاره د مداخلې او لاس وهنې اجازه نه ورکوي.

کله چې یو غړی هېواد د یوې ځانګړې مسلې په اړه نړیوال تعهدات ومني نه شي کولای چې بیا ووایي چې دا مسله کورنۍ مسله ده. همدارنګه په شپږمه ماده کې راځي چې دا سازمان ضمانت کوي چې هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، له هغو سره د نړیوالې سولې او امنیت لپاره ددې اصولو مطابق عمل کیږي. ددې مادې سیاسي توجیه داسې کیږي چې د نړیوال سازمان ګټې د فردي ګټو څخه غوره دي او دنړیوالې سولې او امنیت ساتلو ته لومړیتوب ورکول کیږي او ددې اصل څخه انکار نه شي کیدلای نو په دې اساس د ټولو ګټې د یوه فرد په وړاندې چې یو سیاسي واحد کیږي، لومړیتوب لري.

## د ملګرو ملتونو ارکان

د ملګرو ملتونو سازمان د یوه نړیوال سازمان په توګه د څو ارکانو څخه تشکیل شوی دی چې هر یو یې د ملګرو ملتونو د عمومي منشور په رڼا کې پر دندو باندې سمبال دی چې دملګرو ملتونو سره د موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. دا ارکان عبارت دي له ۱: عمومي غونډه ۲: د امنیت شورا ۳: د قیمومیت شورا ۴: اقتصادي او ټولنیزه شورا ۵: عمومي سکرتریت ۶: د نړیوالې محکمې دیوان .

## عمومي غونډه (اسمبلي)

د ملګرو ملتونو عمومومي غونډه( جرګه) د ملل متحد له مرکزي ارکانو څخه شمېرل کيږي او د ټولو غړو هېوادنون څخه تشکيل شوې ده. هر غړی هېواد د يوې رای لرونکی دی خو کولای شي چې د پنځه هېوادونو په نمايندګي سره په جلسه کې ګډون وکړي. په عمومي غونډه کې د ټولو هېوادونو ګډون په پايله کې ويلای شو چې ملګري ملتونه ترکومه نړيواله جنبه پيدا کړې ده او همدا دليل دی چې د نړيوالې جرګې نوم هم ورکړل شوی دی. د ډير کلونو لپاره ملګري ملتونه د نړيوال کيدلو څخه محروم و او غړيتوب يې د ځانګړو شرايطو په منلو سره و. د منشور څلومره ماده داسې وايي:

۱: ددې سازمان سره هغه هېوادونه چې سوله خوښوي چې په دې کې درج شوې ژمنې پرځان مني ،ددې سازمان د رای په پايله کې کولای شي چې غړيتوب ترلاسه کړي.

۲: ملګرو ملتونو سره ددې هېوادونو غړيتوب دعمومي غونډې( اسمبلۍ) په رای باندې مشروط دی او امنيت شورا د وړانديز په اساس ترسره کيږي.

نو په دې اساس يوازې يو هېواد د غړيتوب لپاره کافي نه دی. د غړيتبوب غوښتونکی بايد د ملګرو ملتونو سره دا ژمنه وکړي چې لومړی سوله غوښتونکی هېواد دی، دوهم په منشور کې درج ټول شرايط يې قبول کړي او ددې شرايطو او ژمنو په ترسره کولو سره قادر او منونکی دی.

### په عمومي غونډه کې د پريکړو څرنګوالی

د ملګرو ملتونو منشور په ۱۸مه ماده کې د پريکړې د څرنګوالي په اړه داسې راغلي دي.

په غونډه کې د شته غړو له خوا د اړينو پريکړو لپاره د دريو څخه دوه مثبت رايو په اکثريت سره پريکړه صادريږي او د نورو ټولو اړينو مسايلو لپاره د اکثريت رايو په اچولو سره پريکړه نيول کيږي. په ځينو برخو لکه د ټول ټاکنو لپاره مخفي رايې اچول کيږي.

### د عمومي غونډې دندې او واکونه

عمومي غونډه داسې يو ارکان دی چې خپلې پريکړې ترډيره د توصيې او مشورې شکل لري نه جبري. د عمومي غونډې او د ولسي جرګې پرتله کوم ناسم دي ځکه د مقننه مجلس او د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې ترمينځ يو ځانګړي توپير ته بايد پاملرنه وکړو. عمومي غونډه د غړو لپاره د راى په کارولو سره نه شي کولاى نيغ په نيغه قانون وضع کړي. که څه هم چې د عمومي قاعدې په توګه مشورې او توصيې د لازميت/جبري شکل نه لري خو ځينې ځانګړي موارد شتون لري چې له مخي يې د غړو هېوادونو ژمنې حقوقي بڼې لري د بيلګې په توګه د ملګرو ملتونو د بودېجې تصويب ته اشاره کيدلاى شي چې د غړو هېوادونو له خوا د غړيتوب حق يې جبري کيدلاى شي او همدرانګه د عمومي غونډې له لوري د امنيت شورا لپاره د غړي په ټاکنه کې پريکړې او يا هم د نورو ټولو ارګانونو لپاره پريکړې کيدلاى شي چې جبري شکل ولري.

دا ډول مسايل د مشورې او توصيې خلاف چې يو غړي ته په خصوصي توګه صادريږي، د سازمان په کورنيو امورو پورې اړه لري. په هرحال که څه هم چې دا ډول نيمه تقنيني دندې اړينې دي عموموي غونډه بيا هم د مشورتي شکل څخه نه وباسي ځکه د غړو د نه شتون او هوکړې د نه شتون په صورت کې عمومي غونډې ته يو قانوني ارګان نه شو ويلاى.

د منشور ۲۰ مه ماده د مشورتي ماهيت څرنګوالی په غوره توګه بيانوي. ددې مادې په اساس بايد عمومي غونډه په ترتيب سره کلنۍ غونډې دايرې کړي. د اړتيا پر مهال عمومي منشي د امنيت شورا د غوښتنې او يا هم د عمومي غونډې د اکثريت رايو په اساس اضطراري غونډه دايره کړي. د غونډې دا ډول سلوک د عمومي غونډې او امنيت شورا ترمينځ توپير په ګوته کوي ځکه دا شورا چې د سازمان اجرايي ارګان شمېرل کيږي، غونډې بايد په هغه شکل دايرې شي چې شورا په دوام داره توګه وکولاى شي چې خپلې دندې پرمخ بوځي.

د غونډې واکونه په منشور کې په تفصيل سره ذکر شوي دي او له دې ډلې دا هم پکې راغلي دي چې د هرډول پوښتنې او يا هم د مسلې د حل په موخه مذاکره د منشور په رڼا کې حل او کنه اړوند ارګان ته بايد ور وسپارل شي. پر نورو ټولو ارګانونو باندې د عمومي غونډې له لورې د څارنې نقش باندې تاکيد شوی دی. عمومي غونډه د اقتصادي او ټولنيزه ( اکوساک) او همدارنګه د قيموميت د شورا پر فعاليتونو باندې هم څارنه کوي. ځينې واکونه يې عبارت دي له:

۱: د نړیوالې سولې او امنیت اړوند د اصولو څخه څارنه او همدارنګه په دې برخه کې  په نړیواله کچه د مذاکرې او مسلې د حل لپاره هرډول همکاري کول دي. اړوند مسلې لپاره چې د سولې او امنیت په برخه کې ممکنه خطر  پیښولای شي توصیه صادروي څو طرفینو نړیوالې سولې او امنیت ته پاملرنه وکړي.

د هغه کچې په پرتله چې عموم منشور  یې ذکر کړی دی، ددې غونډې د کارونو په سرته رسولو کې د رول زیاتیدا هغه څه دي چې د امنیت شوراد او ددې غونډې ترمینځ یې د صلاحیتونو پر سر ټکر رامینځ ته کړی دی.  د سولې لپاره د اتحادیې برابرولو لپاره د قطعنامې صادرول ددې غونډې یو له اړینو دندو څخه شمېرل کیږي. دا قطعنامه عمومي غونډې ته دا واک چې کله او چیرې سوله تر پوښتنې لاندې ده، ورکوي له دې سره تړلی واک یې د غړو هېوادونو له خوا اجباري عمل او همدارنګه شورا واک لري چې غړي هېوادونه په داسې یوه وخت کې نظامي غبرګون ته هم اړباسي البته دا واک په هغه وخت کې عملي کولای شي چې کله غړي هېوادونه د نړیوالې سولې د ساتلو په موخه یوه هوکړې ته ونه رسیږي. په حقیقت کې د سولې لپاره د اتحادیې د جوړولو قطعنامه عمومي غونډې ته د نړیوالې سولې په ساتلو کې ثانوي واک او مسولیت دی.

د نړیوالې سولې او امنیت د نقض په صورت کې عمومي غونډه د امنیت شورا د نهو غړو د غوښتنې په اساس اظطراري جلسه دایروي. بېلګه: په کال ۱۹۵۶ کې امریکا عمومي غونډې له خوا د اظطراري غونډې په دایرولو او د منفي رای په ورکولو سره بریتانیا او فرانسه د مصر په وړاندې د نظامي عملیاتو څخه راوګرځول.

د سویس په کانال کې عمومي غونډه د اوو کمیټو څخه تشکیل شوې ده. ۱:  د سیاست او امنیت کمیټه ۲: د سیاست ځانګړې کمیټه ۳: اقتصادي او مالي کمیټه۴:  د قیمومیت/ساتنې کمیټه ( هغه مځکې چې  ښکاره څښتن نه لري او یا یې توان نه لري ۵: اداري او د بودیجې اړوند کمیټه۶: حقوقي کمیټه ۷: د ضمانتونو کمیټه

کله چې  د عمومي غونډې وظایفو او لایحې ته کتل کیږي داسې ښکاري چې عمومي غونډه د امنیت شورا د ضعف څخه په ګټې اخستنې په منشور کې د ذکر شوو موخو ته د رسیدا لپاره خپل واک پراخوي او هڅه یې کړې څو د درج شویو موخو ته د رسیدا لپاره د واک پراختیا او خپلو اقداماتو ته مشروعیت وروبښي.

د امنیت شورا

د دمبارتن اوکس په کنفرانس کې د وړاندیزونو له جملې یو یې دا و چې داسې اجرایي ارګان ته اړتیا لیدل کیږي چې محدو غړیتوب ولرې او د نړیوالې سولې او امنیت ساتل یې وظیفه وپیژندل شي. هغه څه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا تر عنوان لاندې په نظر کې نیول شوی و دداسې یوه ارګان څخه عبارت و چې تشکیل یې کوچنی وي خو د نړیوالې سولې او امنیت د ساتلو لپاره د اړتیا په وخت کې د منشور په رڼا کې چټکې او اغېزمنې پریکړې ونیولای شي.

د امنیت شورا د غړو ترکیب

د منشور ۲۳مه ماده کې کاږل شوي چې د امنیت شورا له پنځلسو غړو تشکیلږي چې پنځه یې باید دایمي غړوي وي. پنځه تل پاتې غړي یې چین، امریکا، روسیه، انګلستان او فرانسه دی. د امنیت شورا پنځه غړي په شورا کې ددایمي غړیتوب څخه پرته بل امتیاز چې د ؛ وټو؛ رایې په نوم دی هم لري. دې هېواودونو ته ددایمي غړیتوب امتیاز ددې لپاره چې قدرت پر سر په خپل مینځ او همدرانګه د نورو هېوادونو سره یو لړ اختلاف شتون درلود، ورکړل شوی دی. که له بلې زاویې وکتل شي، د نړیوالې سولې او امنیت لومړی درجه مسولیت ددې هېوادونو پر اورو باندې وي او نړیوالې سولې د ساتلو په موخه د پریکړې څرنګوالی او سرته رسول هم ددوی پر اوره وي.

په کال ۱۹۴۵ کې د لویو قدرتونو په نوم ددې پنځه هېوادون پیژندل هم د حقایقو په شتون کې یوه سیاسي پریکړه وه خو هغه وخت کې هم وړاندیز نه شو کیدلای چې همدا پنځه هېوادونه به د تل لپاره د نړۍ پنځه اړین قدرتونه پاتې وي. همدا علت دی چې په نړۍ کې د هېوادونو د ځواک په څرنګوالي کې د بدلون په رامینځ ته کیدا سره دا سازمان پیاوړیتوب له لاسه ورکوي. په منشور کې د بیا کتنې شرایطو دې موضوع پیچلتیا نور ه هم زیاتوي. د بیا کتنې په شرایطو کې راغلي دي چې بیا کتنه یوازې د پنځه دایمي غړو په رضایت سره ترسره کیږي او ښکاره دی چې هیڅ غړی به د خپل ځواک د ټیټیدلو او د امتیازاتو د صلب لپاره رضایت ونه ښیي. د امنیت شورا لس نور غړي ددوه کاله غړیتوب وروسته د عمومي غونډې له خوا ټاکل کیږي، نه شي کیدلای چې یوې دورې ماموریت څخه وروسته پرلپسې ددوهم ځل لپاره هم وټاکل شي. د لس غیرموقتي غړو هېوادونو لپاره دوه ځلې ټول ټاکنې کیږي. هر کال د دوه پر دریو برخې د رای په اخستلو سره پنځه غړي د امنیت شورا لنډ مهاله غړیتوب لپاره ټاکل کیږي. د منشور ۲۳مه ماده د امنیت شورا د ټاکنو لپاره ځانګړي شرایط ذکر کړي دي. یو یې د نړیوالې سولې او امنیت سره د

مرستې او د ملګرو ملتونو نورو ټولو موخو سره د مرستې او د جغرافيې له لحاظه عادلانه چوکۍ په نظر کې ونيول شي، دی. د امنيت شورا لس لنډ مهاله چوکۍ د اوس مهال لپاره د جغرافيې په اساس په لاندې ډول ويشل شوي دي.

افريق او اسيا : ۵ کرسي

ختيځه اروپا: ۱ کرسي

لاتيني امريکا: ۲ کرسي

لويديځه اروپا او نور ې ټولې سيمې: ۲ کرسي

د امنيت شورا د پريکړې نيونې سلوک

د منشور په ۲۷مه ماده کې د امنيت شورا د پريکړې د څرنګوالي په اړه  ذکر شوی دی.

۱: د امنيت شورا هر غړی هېواد يوازې د يوې رای حق لري .

۲: د تشريفاتي مسايلو په اړه پريکړه د مثبت نهه رايو په اخستلو سره نيول کيږي.

۳:  د امنيت شورا د نورو ټولو مسايلو لپاره پريکړې د مثبت نهه رايو په ترلاسه کولو سره چې پنځه دايمي غړي هم ددې يوه برخه ده ، نيول کيږي خو  د منشور د اووم فصل، د دريم بند او ۵۲مې مادې په رڼا کې  چې د اختلاف طرف دی بايد د رای ورکولو څخه ډډه وکړي.

د امنيت شورا دندې او واکونه

دا وظايف او واکونه د منشور له ۲۴مې تر ۲۶مې مادې پورې ذکر شوي دي. د شورا په لومړنۍ دنده چې د نړيوالې سولې او امنيت ساتل دي د امنيت شوار د ټولو غړو هېوادونه سره هوکړه کړې چې د هغوی په نمايندګي به عمل کوي نو په دې اساس بايد عمل يې بايد د هغوی د غوښتون سره مطابقت ولري. له دې ورهاخوا امنيت شورا موظفه ده چې د سازمان د موخو سره په مطابقت کې عمل وکړي نو د هرډول ګام اخستل يې پرته له څارنې او پوښتنې نه شي سرته رسولای. په ورته وخت کې کله چې امنيت شورا د سازمان د اصولو په رڼا کې پريکړه ونيسي، غړو هېوادونو باندې يې اطاعت لازم دی. د منشور د ۲۵مې مادې پر اساس چې د سازمان د اصولو په رڼا کې هر غړی اړی دی چې پريکړې يې ومني البته يوازې د امنيت شورا پريکړې نه توصيې.  د

امنیت شورا اصلي دنده چې د نړیوالې سولې او امنیت ساتل دي له دوه لارو تطبیق کیږي.

لومړی هغه اختلافات چې نړیوالې سولې او امنیت ته په ګواښ بدلیدلای شي، د سوله ییزه لارې حل کول او دوهم دا چې هغه سلوک او رویې عملي کول دي چې اجباري شکل لري خو دا یوازې په هغه وخت کې عملي کیږي چې لومړی لاره یې ناکامه شي.

د سوله ییزه لارې د اختلافاتو دحل څرنګوالی

منشور د امنیت شورا لپاره ګڼ شمېر مشورې لري چې له مخې یې کیدلای شي اختلافات په سوله ییزه بڼه حل کړلای شي. د منشور په شپږم فصل کې نړیوال منل شوي حقوقي اصلونه دي چې له مخې یې طرفین کولای شي چې ترې ګټه واخلي. له دې پرته شورا یوازې د هغه اختلافاتو سره کار لري چې نړیوالې سولې او ثبات ته ترې زیان اوړي او نورو ټولو موضوعاتو سره کار نه لري. هغه ارګانونه چې کولای شي موضوع د امنیت شورا ته وړاندې کړي عبارت دي د ملګرو ملتونو له عمومې غونډې، عمومي منشي، د سازمان غړي هېوادونه او همدارنګه هغه هېوادونه چې غړيتوب نه لري البته د ذکر وړه چې د موضع د وړاندې کولو لپاره هغه هېوادونه چې غړيتوب نه لري، باید لومړی په منشور کې د سوله ییزه لارې د اختلافاتو په اړه ددرج شوي شرایط ومني. وروسته له دې چې کومه موضع د حل لپاره شورا ته وړاندې شي، په اتومات شکل پرې کار نه پیل کیږي بلکه شورا په همدې موضوع باندې د کار کولو او یا هم نه کولو لپاره د مجلس ۹ رایې راټولوي. کیدلای شي چې شورا د موضع له څیړلو وروسته موضوع د خپل کار د لړ لېست څخه ددې لپاره چې موضع نړیواله نه وي باسلای شي. هر وخت چې امنیت شورا د مسلې د کتلو لپاره څیړنې پیل کړی، د ۳۲مې مادې په اساس له دواړه خواوو څخه غوښتنه کیږي څو په اړوند بحث کې د رای د حق له لرلو پرته په غونډه کې حضور پیدا کړي. امنیت شورا همدارنګه له نورو غړو هېوادونو هم غوښتنه کوي څو په دې بحث کې ګډون وکړي. هرې پریکړې لپاره د امنیت شورا ۳۳مه او همدرانګه ۳۵مه ماده باید په نظر کې ولري. همدارنګه امنیت شورا باید په نظر کې ولري چې نړیوال حقوقي موضوعات د ملګرو ملتونو نړیوالې محکمې دیوان ته هم باید راجع شي.

د امنیت شورا له خوا د جبري ګامونو اخستل

د ملګرو ملتونو د منشور د ۳۹مې مادې په اساس امنیت شورا د ټولو نماینده په توګه حق لري چې په ځانګړو وختونو لکه نړیوالې سولې ته د خطر، یا تیري پرمهال پریکړې

ونیسي او د منشور د ۲۵مې مادې په اساس غړي هېوادونه اړ دي چې  د پرېکړې احترام وکړي او د پرېکړې هدایت ته غاړه کېږدي.  د امنیت شورا کولای شي چې له دوه لارو جبري ګامونه واخلي. لومړی دا چې د ۴۱مې مادې پر اساس  هغه جبري لاري دي چې پرته له زوره  عملي کیږي او دوهم دا چې هغه ګامونه دي چې د هوا، مځکې او سمند له لارې عملي کیږي.  د امنیت شورا د پرېکړې نیولو څخه وړاندې شورا باید ډاډه کړي چې د ۳۹مې مادې په اساس ایا ګواښ په حقیقت کې د سولې، تجاوز او یا هم داسې عمل دی چې سوله ګواښي او کنه؟  دا پریکړه د نورو پریکړو په څیر د ملګرو ملتونو د منشور د اصولو په رڼا کې باید ونیول شي. په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د دوام داره غړو رای اړینه وي.

امنیت شورا نه شي کولای چې د ملګرو ملتونو د دوام داره غړو په وړاندې جبري ګامونه واخلي او په همدې موخه د وټو د رای حق هم هغوی ته ورکړل شوی دی. د منشور یوه برخه د لویو قدرتونو په ګټه باندې راڅرخیږي. دا چې د امنیت شورا  د دایمي غړو په وړاندې جبري ګامونه نه شي اخستلای ، په منشور کې ځینې ذکر شوي ګامونه  بې ثمره وي ځکه د ځینو هېوادونو له خوا د یو او بل په وړاندې د تجاوز شاهدان یو چې په داه په خپله نړیوالې سولې او ثبات لپاره یو تهدید دی. د منشور د ځینې اساساتو په خلاف تر بل هرچا د امریکې متحده ایلات او د همدارنګه روسیه هغه قدرتونه دي چې ددې مصونیت څخه ناوړه ګټه اخلي.

د اقتصادي او ټولنیزه شوار یا اکوساک د غړو ترکیب

اوس مهال اقتصادي او ټولنیزه شورا د ملګرو ملتونو د اصلي شوراوو له ډلې څخه یې یوه ده چې په ټول کې ۵۴ غړي لري او د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا ټاکل شوي دي. د امنیت شورا خلاف ددې شورا  دایمي غړیتوب د حق په توګه نه شمېرل کیږي.  د منشور ۶۱مه ماده  واضح کوي چې ددې شورا غړي باید په پنځه ډلو کې وټاکل شي. د افریقا ډله، د اسیا ډله، لاتیني امریکا ډله، لویدیځه اروپا ډله او همدرانګه د ختیځې اروپا ډله.

په اقتصادي او ټولنیزه شورا کې د پریکړې نیولو څرنګوالی

په دې  شورا کې هر غړی هېواد یوه رایه ورکولای شي. ددې شورا پریکړې د ساده اکثریت په اساس نیول کیږي.  شورا په عادي حالت کې دوه نوبتي غونډې لري چې هره غونډه یې د یوې میاشتې  په اوږدو کې رامینځ ته او سرته رسیږي.

## د اقتصادي او ټولنیزه شورا وظایف او واکونه

دا شورا هغه ارګان دی چې پراخ کار لري خو محدوده مالي واکونه لري . ددې ارګان زیات اقتصادي او ټولنیزه کارونه د خصوصي ارګانونو له خوا ترسره کیږي خو اقتصاي او ټولنیزه ارګان ترډیره د خصوصي سازمانونو پاتې کارونه او یا هم هغه کارونه چې پخوا ترسره شوي نه وي، دا شورا ایې اجرا کوي. د اقتصادي او ټولنیزه شورا واکونه په لاندې ډول دي.

۱:د مطالعاتو سرته رسول:

دا سازمان هڅه کوي چې د وروسته پاتې هېوادونو په اړه مطالعات ترسره کړي چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي نه وي ترسره کړي او پایلې یې عمومي منشي، سیمه ییزه اقصتادي کمیسونونو ته، ځانګړو کمیټو ته، کار پیژندونکو ډلو او یا هم خصوصي سازمانونو ته لیږل کیږي. ډیری وختونه د همدې مطالعاتو په اساس هېوادونو ته د ملګرو ملتونو له خوا توصیوي لیکونه استول کیږي.

۲:د توصیه نامو صادرول

شورا کولای شي چې د مشوره-لیک په صادرولو کې هڅه وکړي. د ۶۲ مې مادې له مخې د مشورې بڼه لکه چې د نوم څخه یې پیژندل کیږي جبري نه وي او غړو هېوادونو باندې الزامي بڼه نه لري. ځینې مشوره لیک د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته هم لیږل کیږي، دا ډول خصوصي سازمانونو هم لیږل کیږي.

۳: د کنوانسیونونو لپاره پیش نوییس لیکنه

شورا کولای شي چې عمومي غونډې ته د تصویب او تصدیق لپاره د کنوانسیونونو لپاره مسودې( پیش نویس) ولیکي او د لیکلو لپاره یې اړوند هېوادونو ته هم ولیږي. د بېلګې په توګه د مجرمینو د ډلیزه وژنې څخه د مخنیوي کمیسون په همدې توګه مینځ ته راغی.

۴: کنفرانسونو ته د غړو هېوادونو بلنه:

دا شورا کولای شي چې د اړتیا په وخت کې ددولتونو ترمینځ د کنفرانس لپاره غړو ته بلن لیکونه ولیږي او کنفرانس د اړوند موضوع په اړه دایر کړي. دا کنفرانس کیدلای شي چې سیمه ییزه او یا هم نړیوال وي. په حقیقت کې دې شورا د روغتیا، سوداګری او کار، لېږد رالېږد،بې ځایه شوي خلکو په اړه کنفرانسووه دایر کړي دي . همدارنګه د همدې

موضوعاتو په اړه یې مسلکي کنفرانسونه  دایر کړي دي، د بیلګې په توګه د منابعو د ساتلو او کارولو په اړه یې مسلکي کنفرانس دایر کړی دی.

۵: له ټولو نورو ارګانونو او خصوصي سازمانونو سره همکاري

اقتصادي او ټولنیزه شورا ددوه اصلي ارګانونه سره هروخت همکاري کوي. دوه اصلي ارګانونه عبارت دي له  امنیت شورا او عمومي مجلس. همدارانګه د عمومي غونډې څخه د تاید په صورت کې کولای شي چې په ځانګړو حالاتو کې د هېوادونو او خصوصي سازمانونو سره همکار ي وکړي.

۶: د تخصصي سازمانونو ترمینځ د هماهنګی‌رامینځ ته کول

دې شورا د رامینځ ته کیدا پر مهال یوه اساسي دنده د خصوصي سازمانونه چې د هماهنګی د نوم لاندې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې رامینځ ته شوي دي، ترمینځ د هماهمنګی‌ رامنځ ته کول دي. دداسې اړیکو ډاډه کولو د یو لړ هوکړه لیکونو په پایله کې رامینځ ته کیږي چې  ځانګړي شرایط په کې ذکر شوي وي. د هوکړه لیک بین الدولي کیدل یانې د هغه سازمان د تاسیس په مانا او همدارنګه هغه دولت او سازمان څخه ژمنه اخلي څو خپل مسولیتونه په اقتصادي، ټولنیزه، فرهنګي، روغیتایي او داسې نورو برخو کې زیات کړي.  باید په یاد ولرو چې همدې هوکړه لیک خاکه لومړی‌ د ملګرو ملتونو د خصوصی او مسلکي سازمانونو د کتنې وروسته د مذاکراتو کمیټې ته سپارل کیږي.په اوس وخت ملګرو ملتونو د دولسو خصوصي سازمانون سره د همکاری‌ هوکړه لیکونه امضا کړي دي چې د مخابراتو نړیواله اتحادیه، د پست رسونې نړیواله شبکه، د کار نړیوال سازمان، د خوراکي توکو نړیوال سازمان، د پیسو نړیوال صندوق، د بیا جوړونې او پراختیا نړیوال بانک، نړیواله مالي اتحادیه، د ملګرو ملتونوروزینیزه علمي او فرهنګي  بنسټ( یونسکو) د روغتیا نړیوال سازمان، د هوا پیژندنې نړیوال سازمان او ددولتونو ترمینځ د سمندر ي پولو په اړه مشورتي سازمان څخه عبارت دي.

د قیمومیت/ساتنې شورا

د قیمومیت شورا د یوې تاریخي سابقې درلودونکې ده. د قیمومیت نظام په حقیقت کې د سرپرستی‌ نظام ته د دوام په مانا دی چې د نړیوالې ټولنې څخه هم وړاندې سابقه لري. د قیمومیت شورا او همدرانګه د سرپرستي نظام  دواړه د یوې داسې ځمکې  چې اوسیدونکي یې د تکامل، خودمختاري او خپلواکي مرحلې ت نه وي رسیدلي، پر ځای

کیږي. قیمومیت یوه داسې هېواد ته ورکول کیږي چې خپلواکه وي او د کنترول لاندې سیمه باندې حاکمیت وساتل شي او نړیوالې ټولنې په وړاندې مسوله واوسي. هغه مځکې چې د نړیوالې ټولنې د سرپرستۍ لاندې وي ( غیر مستقل) د لومړی نړیوالې جګړې وروسته د عثماني ترکیې او د هیټلر د غزیدلې واکمنۍ څخه پاتې مځکې وې. نړیوالې ټولنې دا ځمکې د پراختیا د کچې په میزان له مخې د الف، ب، ج په نوم طبقه بندي کړلې.ددې ځمکو په سر د قیمومیت دورې د پای او یا هم ددې ځمکې د خپلواکو کیدلو په اړه د ملګروو ملتونو له خوا کوم ځانګړي متن شتون نه درلود خو په ضمني توګه ذکر شوي ول چې د الف طبقې لپاره بې الاخره خپلواکي ورکول کیږي. هغه ځمکې چې د ؛ب؛ لاندې دي خپلواکي یې کم رنګه ښکاري خو د ج طبقه ځمکې به په پایله کې د اداره کوونکو هېوادونو د بشپړ کابو لاندې راځي.

د ملګرو ملتونو د ادارې لاندې د قیمومیت سیسټم  د نړیوالې ټولنې د میثاق  د ادارې په پرتله پراخ او ډیر واک لري. د قیمومیت سیسټم د مځکو په اړه  ددریو ځانګړنو پر مهال تطبیق کیږي.

الف: هغه مځکې چې په حاضر وخت کې د سرپرستۍ لاندې دي.

ب: هغه مځکې د دوهمې نړیوالې جګړې پرمهال د هېوادونو څخه جلا شوې دي.

ج:  مځګې د دولتونو له خوا د خپلې خوښې پر مهال د قیمومیت لاندې راوستل کیږي. تراوسه پورې یواځې هغه ځمکې چې د الف او ب ځانګړنې یې درلودلې د قیمومیت لاندې راغلي دي. د ؛ ب؛ کتګورۍ لاندې مځکې د سومالي لنډ په نوم ځمکه وه چې اوس مهال یې خپلواکي لاسته راوړې ده.

د قیمومیت لپاره هوکړه لیک

د قیمومیت د نظام  لاندې هیڅ ځمکه ترهغې چې د قیمومیت لپاره هوکړه لیک نه وي امضا شوی، نه راځي او دا ډول هوکړه لیک معمولا د هغه هېواد(قدرت) له لوري لاسلیک کیږي چې نوموړې ځمکه یې له پخوا اداره کړې وي. د ملګرو ملتونو د منشور ۷۹مه ماده په واضح توګه کاږي چې د قیمومیت په اړه هوکړه لیک نیغ په نیغ باید د هغه هېوادونو له لوري لاسلیک شي چې په نوموړي ځمکه پورې یو ډول اړوند وي. د قیمومیت/ساتنې لپاره هوکړه لیک د ملګرو ملتونو د حقوقي څارنې له مخې او د قیمومیت ارګان د اصولو په رڼا کې رامینځ ته کیږي.

## د قیمومیت د نظام موخې

دا موخې د منشور په ۷۶ مه ماده کې ذکر شوي دي. ځینې موخې یې د نړیوالې ټولنې د سرپرستۍ سره ورته والی لري هغه عبارت دي له دې چې د قیمومیت له نظام څخه موخه یوازې د نړیوالې سولې او ثبات سره مرسته ده. ۸۴مه ماده ترډېره په همدې موضوع باندې بحث کوي. د ملګرو ملتونو د منشو رڅخه پرته هم د مځکو د ویشلو د صولو له مخې چې ځمکې د ستراتیژیکه او غیر سترتیژیکه لاندې راځي، ویشل کیږي. توپیر د لومړی ډول ځمکې ددوهم ډول ځمکې سره دادی چې د عمومي غونډې پرځای د امنیت شورا د لومړي ډول ځمکې څخه د ملګرو ملتونو په نمایندګي نظارت کوي. په ۷۶مه ماده کې د قیمومیت څخه یو هدف دادی چې ځمکه د شرایطو اوضاع او حالاتو د غوښتنې او همدرانګه د اوسیدونکو د ارادې په اساس بیا ورکول کیږي.

## د قیمومیت پر نظام باندې څارونکې اداري

پر قیمومیت باندې د ملګرو ملتونو واکونه د هغه د منشور او د قیمومیت د اصولو څخه رښا اخلي. د دې دواړو ترمینځ د اختلاف په صورت کې د منشور حکم لومړیتوب لري. د قیمومیت لاندې ځمکو باندې څلور ارګانه د څار حق لري. ۱: عمومي غونډه ۲: د امنیت شورا ۳: د اقتصادی او ټولنیزه چارو شوار ۴: د قیمومیت شورا.

## عموعي غونډه

منشور د ۸۵ مې مادې له مخې د ملګرو ملتونو عمومي غونډه د قیمومیت لاندې د ستراتیژیکې ځمکې څخه پرته نور پر ټولو ځمکو باندې د څار لپاره موظفه ده او د منشور د ۸۷ مې مادې له مخې د قیمومیت لاندې ځمکو باندې د رپوټونو څیړنه، د شکایاتو منل، دوره یي لیدنې او نور اړوند مسایل څارلای شي.

## د امنیت شورا

دا ارګان د سټراټیژیکو منطقو څخه د څارنې دنده پر مخ وړي په عمل کې امنیت شورا نیغ په نیغه د څارنې او نظارت دندې نه اجرا کوي خو ۸۳مې ماده کې د وضع شوو واکونو څخه د څارنې لپاره ګټه اخلي.

## اقتصادي او ټولنیزه شورا

اقتصادي او ټولنیزه شورا یوازې یو فرعي رول پر مخ وړي ځکه چې د منشور په ۹۱مه ماده کې ذکر شوي دي چې د قیمومیت شورا د اړتیا پر مهال  کولای شي چې د اقتصادي او ټولنیزه شورا او همدارنګه د خصوصي سازمانونو د مرستې څخه برخمن شي.د اقتصادي او ټولنیزه شورا په اساسنامه کې د دا ډول مرستو څرنګوالی ذکر شوی دی.

## د قیمومیت شورا

د سانفرانسیکو په کنفرانس کې پریکړه ونیول شوه چې د قیمومیت څخه د ښار لپاره داسې یو ارګان رامینځ ته شي چې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته مسول وي. د ستراټیژیکه سیمو د ښار په اړه د قیمومیت شورا یوازې د امنیت شورا تر چتر لاندې ښارنه کولای شي.

## سکرتریت

دملګرو ملتونو سکرتریت د منشور د اوومې مادې مطابق  یو د اصلي سیاسي ارګانونو څخه پېژندل شوی دی چې د یوه سکرتر او د لازمه شمېر پرسونل چې د ملګرو ملتونو سازمان یې لازم وګڼي تشکلیږي.

د سکرتر جنرال دندې او واکونه

د سکرتر جنرال وظایف او واکونه د منشور په ۹۷، ۹۸، ۹۹، ۱۰۰ او ۱۰۱ ماده کې ذکر شوي دي. دا دندې او واکونه کیدلای شي چې په دوه ډولونه وویشو.

۱: د سکرتر جنرال عمومي دندې چې د اداري، مالي او فني برخو څخه تشکیل شوې دي.

۲: د سکرتر جنرال هغه دندې چې د سیاست اړوند دي.

لومړی د سکرتر جنرال وظایف او واکونه

د منشور د ۹۷مې مادې له مخې سکرتر جنرال د ملګرو ملتونو د سازمان له ټولو لوړ ادار مقام دی او لومړنۍ دندې یې عبارت دي له:  د هغه ارګانونو، کمیټو او کنفرانسونو راټولونه چې د ملګرو ملتونو د سازمان له ځانګړي ملاتړ څخه برخمن دي.  په دې برخه کې سکرتر جنرال لنډمهاله کاري هدایت ورکوي.  هېوادونه او نور ټول بنسټونه له دې راټولیدنې خبروي.

پرسونل او اړوند اسانتیاوې چمتو کوي

د نمايندګانو باروليکونو مطالعه کول او په پای کې ددې باروليک اړوند ارګان ته وړاندې کول.  ددې سکرتريت يوه بله دنده  د سازمان د بېلابېلاو  ارګانونو، خصوصي سازمانونو کاري برخو ترمينځ د هماهنګۍ رامينځ ته کول دي. د سکرتريت وروستۍ دنده د منشور د ۹۸مې مادې له مخې د ملګرو ملتونو د کال کاري رپوټ تسليمول دي. په دې رپوټ کې د ملګرو ملتونو د سازمان د ترسره شويو کارونو لنډه راټولونه وي.

د سکرتر جنرال عمومي واکونه

سکرتر جنرال ته واکونه د منشور د ۹۹ مادې له مخې ورکړل شوي دي.  ځينې ممتاز واکونه په درلودلو سره سره سکرتر جنرال له دې واکونو څخه  په نادر وختونو کې ګټه اخستې ده.  له دې ځانګړې وخت څخه يې بېلګه  د ۲۵ جون کال ۱۹۵۰ کې پر کوريا باندې تيري  له کبله امنيت شورا ته  اطلاع ورکړه او همدرانګه په کال ۱۹۶۰ کې يې امنيت شورا د کانګو د بحران د حل د څرنګوالي په اړه د امنيت شورا راوبلله.

که څه هم چې د ۹۹ مادې له مخې د دا ډول واکونه  امنيت شورا ته محدود دي خو د عمومي غونډې  پر اساسنامه کې يې د عمومي غونډې د موخو په رڼا کې يې سکرتر جنرال ته يو لړ ځانګړي واکونه ورکړي دي چې هغه مسايل چې سياسي بڼه لري دا واکونه په هغه ډګر کې نوره پراختيا هم مومي.  همدارنګه سکرتر جنرال د نړيوالې سولې او امنيت اړوند د ابتکار په موخه د خپل نظرد عملي کولو لپاره څو سوله ډاډه کړي، يو ځانګړی واک لري. جنرال سکرتر بل واک دادی چې ددولتونو ترمينځ د منځګړي په توګه رول ولوبوي او ټولو اړخونو ته د مشارو دنده اجرا کړي. سکرتر جنرال له دې دندو ورهاخوا د ملګرو ملتونو د عمومي سازمان څخه د نماينده په توګه هم دنده ترسره کوي.  دا رول يې نه يوازې په هغه وخت چې په عام محضر کې د خبرو پر مهال د ملګرو ملتونو څخه نمايندګي کوي بلکه په ځانګړي توګه په هغه وخت کې چې دوه دولتونه د هوکړه ليک لپاره  په ځانګړو شرايطو باندې سره هوکړې ته رسوي، نوموړی د ملل متحد نماينده کوي. سکرتر جنرال د هوکړه ليک، مذاکراتو، ژمن ليکونو، تړونونو څخه ورهاخوا په نور برخو لکه د ملګرو ملتونو د سازمان لپاره د پرسونل د استخدام په برخه کې هم رغنده رول لوبوي. د جنرال سکرتر رول په قضايي برخه کې هم د ياد داښت وړ دی. هغه وخت  چې مسله د ملګرو ملتونو او د طرف  ترمينځ  د حل په موخه د ملګرو ملتونو نړيوالې محکمې ديوان ته وليږل شي، سکرتر جنرال د ملګرو ملتونو د ټولو غړو څخه نمايندګي او دفاع کوي.

د سکرتر جنرال نړيواله پېژندنه

د نړيوالې اداري په توګه باید نړیوالې اداري چوپړتیاوې وړاندې کړي. دا ځانګړنې د منشور په ۱۰۰امه ماده کې ذکر شوي دي او تاکید کوي چې لومړی باید د سازمان اړوند دندنې اجرا کړي او په دوهم ګام کې د غړو هېوادونو دندې او کارونه باید ترسره شي چې همدا لامل دی چې ددې اداري نړیوال انځور ساتي. دا ماده ځینې نور مواد هم لري، د بېلګې په توګه د پرسونل د ګومارنې پر مهال له هغو څخه د وفادارۍ سوګند هم اخستل کیږي. د استخدام مقررات، قواعد او اصول د ملګرو ملتونو د چوکاټ په رڼا کې پلي کیږي او په همدې توګه نړیوال هم په همدې سازمان کې جذب کیږي.

## ګمارنه، انتصاب او چوپړتیاوې

د مقرارتو په اړه دوهمه ماده په لاندې ډول تاکید کوي: په ټاکنه، لېږد او یا هم د پرسونل په ارتقا کې باید لوړ کاري معیار، قابلیت او ربښتینوالی په نظر کې ونیول شي او د پرسونل په ټاکنه او ګومارنه کې باید پراخه جغرافیایي پاملرنه هم په نظر کې ونیول شي. ددوهمې مادې د ګټو په نظر کې نیولو ترڅنګ د ګومارنې دوه اصله هر وخت باید پلي شي. لومړی دا چې د داوطلب کارکوونکو د واک او صلاحیت واضح کول، همدارنګه د کارکووني د ګومارنې وړاندې باید اړوند جغرافیه په نظر کې ونیول شي. دوهم اصل چې باید عملي شي هغه دا چې هروخت چې سیاسي ګومارنه او ټاکنه ترسره کیږي، دا وړاندیز عمومي غونډې ته وړاندې کیږي او د عمومي غونډې پنځمې کمیټې له خوا یې تاید اړین وي.

د پرسونل پر ټاکنې او ګومارنې باندې بل عمده عامل چې پرته له شکه ډیر اغېز لري هغه د غړو هېوادونو له خوا سازمان ته د کلنۍ بودیجې د ورکړې کچه ده. هره اندازه چې ملګرو ملتونو سازمان ته د غړي هېواد له لوري د بودیجې ورکولو کې زیاتیدا راځي په همغه کچه یې د هېواد څخه د پرسونل به ګومارنې او ټاکنې ته لومړیتوب ورکول کیږي د بېلګې په توګه د توګو او افغانستان هېواد یوازې د دریو ټاکنو حق لري خو امریکا بیا دا شمېره ت ۴۳۶ پورې رسیږي.

سکرتر جنرال د ۱۰۱ مادې پر اساس د بېلابېلو دندو لپاره د پرسونل ټاکنه او ګومارنه کولای شي که څه هم چې ځینې نور ارګانونه په ټاکنه کې مداخله کوي ولي په ټول کې دا د سکرتر جنرال حق دی. د پرسونل ټاکنه د عمومي غونډې له خوا تصویب کیږي او د سکرتل جنرال عمي قواعد او اصول یې د تصویب پر مهال په نظر کې نیول کیږي.

دایمي ټاکنه

دا ډول ټاکنې د خدماتي پرسونل ځانګړې ګومارنې دي چې د تقاعد ترمهاله دوام کوي او هر پنځه کاله وروسته یې وړتیا، ربنتینوالی کتل کیږي.

لنډمهاله ټاکنې

دا ډول ټاکنې په درې ډوله دي:

لومړی هغه ټاکنې دي چې د پای وخت یې مالوم نه وي یانې مامور نه پوهیږي چې د خدمت دوره یې څه وخت پای ته رسیږي او دوهم ه هغه یې د مامور د خدمت دورې پای مالوم وي.

امتحاني ټاکنه/انتصاب

د دا ډول ټاکنو موده په عمومي توګه له دوه کلونو څخه ډیره نه وي. دا ډول ټاکنې پر مهال د مامور ظرفیت هم څارل کیږي او دا شونتیاچې ښایي له امتحاني څخه په رسمي او یا هم دایمي مامور بدل شي، هم شتون لري.

مهالي ټاکنه

دا هغه ډول سیمه ییزه کار کوونکي دي چې د پخوا یې په بریالیتوب سره داوطلبانه او امتحاني دندې په بریالیتوب سره پای ته رسولي دي.

## دریمه برخه

## د سیاسي کلماتو پېژندنه

دولت

دولت عبارت دی د یو شمېر خلکو څخه چې په یوه مشخصه ځکمه باندې د تل لپاره اوسیږي او دداسې یو حکومت څښتن وي چې د قانون په وضع او اجرا کولو سره ګام اخلي او دداسې حاکمیت څښتن وي چې لوړ قدرت یې له بهرني او کورني تعرضاتو څخه خوندي وي.

ددې تعریف په اساس هر دولت له څلورو عنصرو تشکیل شوی دی. ۱: خلک ۲: ځکمه ۳: حکومت ۴: حاکمیت.

## حکومت

حکومت هغه بنسټ ته ویل کیږي چې په نړیواله کچه له دولت څخه نمایندګي کوي او د حق اخستلو او تکلیف ګاللو مسولیت لري. حکومت له دریو برخو تشکیل شوی دی. ۱: مقننه قوه ۲: قضایه قوه ۳: اجرایه قوه

## مهاجرت

مهاجرت له یوه ځای څخه بل ځای ته تلل او هلته ژوند کولو ته وایي. مهاجرت یانې له خپل ښار او هېواد څخه لیرې والي ته ویل کیږي.

## انصاف

انصاف یو طبیعي او حقوقي مفهوم ته ویل کیږي او د عدالت له مانا څخه را اخستل شوی دی. د ملګرو ملتونو د نړیوالې محکمې دیوان تکرار هڅه کړې ده چې په یو شمېر مسلو کې چې د ځمکو د اداراه کوونکي ارګان په توګه مسولیت لري، انصاف او عدالت پلی کړي. د نړیوالې محکمې ددیوان د تعریف له مخې انصاف یو بیلوونکی او پټ تعریف نه بلکه باید د وضع شویو قوانینو سره مطابقت ولري.

## د حکومت بدلون

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول، حکومت ددولت له مفهوم څخه محدود دی نو په دې اساس حکومت د دولت موخو د ترلاسه کولو لپاره یوه وسیله ده او په همدې موخه یې حکومت نمایندګي کوي. حکومت دولت ته ښکاره او عملي صورت وربښي. د نړیوالو حقوقو او اصولو مطابق د حکومت په بدلون سره دولت ته بدلون نه ورکول کیږي یانې دولت معمولا په خپل ځای وي خو حکومت د یو لړ سیاسي او ټولنیزه خوځښتونو په پایله کې بدلون مومي.

## پناه ورکول د دولتونو له حقوقو څخه شمېرل کیږي

هغه خلکو ته چې دخپل حکومت له خوا د عقیدوي او سیاسي تعقیب په پایله بل دولت ته پناه وړي، پناه ورکول د دولت حق شمېرل کیږي. دا اصل پناه غوښتونکي ته اجازه

ورکوي چې د خپلې خوښې دولت ته پنا یوسي او له هغه ځایه د ملاتړ برخمن شي. کله چې د پناه غوښتونکي پناه ومنل شي، د نورو مهاجرو سره د برابرو حقوقو څخه برخمن کیږي. که چیرې شخص د مهاجرت د قواعدو په رڼا کې واجد د شرایط وي، هغه ته پناه ورکول د حقوقو څخه سرغړوی نه دی بکه ددولتونو یو له حقوقو څخه شمېرل کیږي او د پناه غوښتونکي اصلي دولت باید د پناه ورکوونکي دولت دې پریکړې ته د سرغړوي په توګه ونه ګوري.

د بشر حقوقو د نړیوالې اعلامیې په ۱۴مه ماده کې هم همدې موضوع ته اشاره شوې ده. د پناه ورکولو دنړیوال معیار مطابق هغه خلک چې د جنګي جنایت، د بشري جرم او د سولې  نقض کوونکی وي له  دې حقوقو څخه برخمن نه دی او پناه نه ورکول کیږي. د پناه ورکولو قانون تراوسه پورې جبري شکل نه دی غوره کړی ولې دولتونو د قوانینو په رڼا کې هغه خلکو ته چې د ژوندي پاتې کیدلو هڅه کوي، پناه ورکړي.

شړل شوي او یا هم بې کوره خلکو سره  باید د پردیو په توګه چلند ونه شي مګر یوازې په هغه وخت کې چې عامه نظم او د هېواد سولې ته پرې زیان رسیږي.

د دولتونو د حقوقو پیژندل

دا چې نړیواله ټولنه ثابته نه ده، ځینې دولتونه له مینځه ځي او یا هم د کودتا په صورت کې بدلون مومي نو ددې لپاره باید تازه تاسیس شوی حکومت  د ټولو دولتونو له خوا په رسمیت وپیژندل شي.  په رسمیت پیژندل په دې مانا چې د شته دولت او د نوي تاسیس شوي دولت دواړه خواوې د دولتونو(حکومتونو) د حقوقو او تکلیفونو د ګاللو ته غاړه ایږدي. د نوي حکومت پیژندل په دې مانا چې نوموړی حکومت نړیوالو ژمنو او اصولو ته هم احترام لري. د یوه دولت د تشکلیل لپاره د نورو دولتونو له خوا د رسمیت پیژندنه خواره اړینه او لازم شرط دی.د پیژندنې نړیوال قوانین یې د دولتونو د شتون د اعلان لپاره وضع کړي دي. رسمیت پیژندنه یوازې د دولت او حکومت پورې محدوده نه ده بلکه د ځمکې پیژندل هم ډیر اړین دي. نړیوال حقوق دولتونه مکلف کړي چې د هغه ارضي او ځمکې په رسمیت پیژندنې څخه ډډه وکړي چې په زور نیول شوي وي.

بل ډول پیژندنه د شرخوښو او جګړه کوونکو ډلو پیژندل دي. د جګړه کوونکو ډلو په رسمیت پیژندنه د هغوی اعمال د غیر قانوني بڼې څخه راباسي او سیاسي انګیزه ورکوي. د جګړه کوونکو ډلې هغه وخت په رسمیت پیژندل کیږي چې د قانوني دولت سره په دوام داره توګه د جګړې په حالت کې وي او یوه اندازه ځمکه یې هم د تل لپاره په خپل واک

کې وي. په دې صورت کې هغوی د کنترول په قلمرو کې د هرې واقعې مسول بلل کيږي. د جګړه کوونکو ډلې کيدلای شي چې د دوفاکتو د چوکاټ لاندې او برحال حکومت د دوژورو د چوکاټ لاندې په رمسيت وپيژني.

## دوفاکټو یا هم واقعي پيژندنه (De facto )

دوفاکټو پيژندنه د هغه نوي حکومت کيږي چې تر اوسه نه شي کولای او یا هم نه غواړي چې نړيوالو ژمنې اجرا کړي. دوفاکتو يوه لنډ مهاله پيژندنه ده. دوفاکتو يوازې د يوه هېواد د شتون پيژندنه ده نه د هغه حقوقي او قانوني بڼه. د دوفاکتو په پيژندنې سره دولتونو نه اړکيږي چې ډيپلوماټيکې اړيکې باید ورسره قايمې کړي او د هغوی نمايندګان سياسي مصونيت نه لري.

## دوجورې یا قانوني او حقيقي پيژندنه (De Gure

دوجورې پيژندنه يانې د يوه هېواد او دولت پرته له قيده د يوه خپلواک هېواد او دولت په توګه پيژندنې ته ويل کيږي چې په خپل قلمرو کې نړيوالې ژمنې پلې کولای شي او غواړي چې نړيوالې ژمنې سرته ورسوي. د دوجورې تر پيژندنې لاندې پوره ډيپلوماټيکې اړيکې او همدارنګه د سياسي نمايندګانو مصونيت لري.

## د اثارو پيژندنه

د اثارو پيژوندنه په لاندې توګه تشريح شوې ده.

۱: د اثارو پيژندنه ددې سبب کيږي چې په نوموړي مملکت کې قوانين، مقررات د محکمې په رڼا کې کتل کيږي.

۲: د دولت له خوا د اثارو پيژندنه ددې سبب کيږي چې پيژندل شوی دولت پر پيژندونکي دولت باندې په محاکمو کې د اثارو دعوا ثبت کړي.

۳: پيژندل شوی دولت د پيژندونکې دولت د محاکمو له صلاحيت څخه خلاص دی.

۴: پيژندل شوی دولت حق لري چې د پيژندونکي دولت په خاوره کې د خپلو اموالو غوښتنه وکړي.

## ددولتونو د حاکميت صلاحيت

صلاحیت د حاکمیت له ځانګړې ځیرې څخه ګڼل کیږي او د دولت له عمومي او حقوقي توان او زور څخه عبارت دی.  ددولت صلاحیت پر وګړو، اموال او امورو باندې پلی کیږي. دا قدرت ممکن د وګړو او د اموالو پر توقیف او ذبت لپاره هم وکارول شي .

## د ځمکې( خاورې) صلاحیت

دولت ته ورکړل شوی صلاحیت په خپله خاوره کې د دولت له خوا پر وګړو، اموالو باندې یې کارول په نړیوالو حقوقو کې پیژندل شوی دی. ځمکنی صلاحیت یوازې په وچه پورې نه محدود کیږي بلکې د هېواد اړوند ټولو پولو او بندرونو( سمندر) کې هم د پلي کیدو وړ دی.

## د ځمکني صلاحیت اصل

ددې اصل پر رڼا کې دولتونه کولای شي چې هغه جرایم چې د وګړو له لوري یې په بله خاوره کې شروع او سرته رسولای وي، ددې لپاره چې په هغه ځانګړي هېواد کې یې عمومي نظم او اقتصاد ته زیان اړولای وي ، پر هغوی باندې د قانون صلاحیت څخه ګټه واخلي.  دا ډول ځمکنی اصل د هغه شرکتونه سره چې څو ملیته وي د قانون په عملي کولو کې ډیر ترآو لري. ځمکنی قانون هرڅومره چې په خپلو وګړو تطبیق کیږي په همغه کچه په بهرنیو وګړو چې په همدې هېواد کې وي، دپلي کیدو وړ دی. نو په دې اساس بهرنی تبعه نه شي کولای چې د محلي قانون څخه مستثنا وي مګر یوازې په هغه وخت کې چې دوه دلایل ولري لومړی دا چې  سیاسي او کنسولي مصونیت ثابت کړي او دوهم دا چې ثابته کړي چې په اړوند موضوع کې محلي قانون د نړیوال سره مطابقت نه لري.

## په مجرمینو باندې د ځمکني قانون حدود

ډیر شمېر هېوادونو د ځمکني قانون او واک نظریې ته د ډیسپلین اړوند قانون په سترګه ګوري. په هغه هېواد کې چې جرم ترسره شوی وي د نورو ټولو هېوادونو څخه جرم ته د لاس رسي په اړه ډیر واک لري نه یوازې په دې اساس چې د اړوند هېواد ټولنیز نظم مختل شوی دی بلکه له دې چې د جرم اړوند اړین اسناد او شواهد پرته له دې چې مجرم  د همدې هېواد تبع،مساپر او یا هم د بل هېواد تبع خو د همدې هېواد اوسیدونکی وي، په نظر کې ونیول شي.

## د ځمکني واک د کارولو څخه استثنا

دا لاندې طبقې خلک د ځمکني واک او صلاحیت څخه مصون او خوندي دي.

۱: د بهرنیو دولتونو مشران

۲: د بهرني هېواد سیاسي نمایندګان او کونسلاران

۳: د بهرنیو هېوادونو بیړۍ

۴: د بهرني هېواد وسلوال ځواکونه

شخصي واک او صلاحیت

شخصي صلاحیت هغه واک دی چې په شخص پورې اړوند موضوع لکه د هېواد تابیعت پورې تړلی وي. په دې اساس دولت چې شخص د ځار لاندې نیولای وي په حقیقت کې یې شخصي واک کارولای دي. شخصي صلاحیت بله بڼه هم لري هغه داچې کله چې ددولت یو تبعه په په بهرني هېواد کې وځورل شي او یا هم زیان ورته ورسیږي او نوموړی دولت( هغه دولت چې تبعه پکې ځوریدلی وی) د وګړي ددفاع لپاره په ځورونکي شخص قانون وضع نه کړي نو دولت د شخصي واک څخه کار اخلي او له نوموړي دولت سره د خپل وګړي څخه ددفاع لپاره موضوع ځاري.

حمایتي واک

هر دولت حق لري چې هغه جرمونه چې د هېواد د خپلواکۍ، امنیت ، ملي او اقتصادي ګټو پر خلاف ترسره کیږي ، ترڅیړنې او تعقیب لاندې نیول کیږي. دا ډول صلاحیت چې په حمایتي صلاحیت شهرت لري د ګڼ شمېر هېوادونو په جزایي قانون کې ځای ورکړل شوی دی.

عام یا نړیوال واک

هغه جرم چې د عامه صلاحیت او یا هم د نړیوال واک لاندې راځي هغه دی چې په نوموړي دولت کې ترسره شي او ددې لپاره چې دا ډول جرمونه د نړیوالې ټولنې پر وړاندې جرم شمېرل کیږي،پرته له دې چې سیمه او تابیعت په نظر کې ونیول شي، هر بل دولت یې د ځار او تعقیب حق لري. له دې ډول جرمونه کولای شو چې په دوو بیلابیلو ډولون کې دلته ذکر کړو.

۱: سمندري غلا

۲: جنګي جرايم

ټولو دولتونه حق لري چې سمندري غله په ازادو اوبو کې پرته له دې چې محل او د مجرمینو تابیعت په نظر کې ونیول شي تعقیب ، توقیف او مجازات کړي.  په کال ۱۹۴۹ په جینوا کې جنګي جرمونو څخه مخینوی یانې د جګړې پرمهال د ملکي خلکو څخه دفاع، ناروغ او یا هم ټپي پرسونل څخه ملاتړ دی او برعکس یې هغه نړیوال جرم او په نړیوال کچه مجازات کیدلای شي.  په کال ۱۹۶۲ کې د اسرايلو دولت له خوا د ایشمین وتښتول شو او په اسرایلو کې ددې لپاره چې جنګي مجرم پیژندل شوی و، او د عام او نړیوال صلاحیت په کارولو سره  محاکمه شو.

نوټ: اډولف ایشمین  د نازیانو د ملي امنیت د څانګې مشر و چې د جګړو په مهال یې تر شپږ ملیونه یهود( زیات شمېر یې اروپایي یهودان ول) ووژل. د برتانیې د یهودو څانګې کنډک او همدارنګه د یهودو بله ځانګړې ډله چې د ؛ بدل اخستونکي؛ په نوم وه د نازیانو د پیدا کولو ترور او محاکمه کولو دنده یې پرمخ وړله. دې ډلګۍ په زرګونه نازیان په پټه ترور کړل چې ایشمین ترې ارجنټین ته خلاص شو، بیا ورته  سره صلیب د ایټالیې په مرسته  په بدل نوم پاسپورټ جوړ کړ خو په پایله کې د پوهنتون د کوم محصل له خوا دتحقیق په بهیرکې د ایشمین د ښځې سره د خبرو پرمهال د هغه پاسپورټ ته پام او خبره یې د اسرایلو تر څارګره اداري ورسیدله چې هغوی وروسته له ډیرو اسنادو او شواهدو په داسې وخت کې چې نوموړی د خپل واده  د کلیزې لمانځلو لپاره له بس څخه ښکته او د کور په لوري روان و، ونیوه. له هغه ځایه د ارجمټاین د حکومت په بې خبرۍ کې  اسرایلو ته وتښتوه او په پایله کې هلته  اعدام کړ- ژباړن

## ازاد سمندر

د ازاد سمندر تعریف د سمندر ټولې هغې برخې دي چې د یوه هېواد د کورني واک او صلاحیت له برخې نه شمېرل کیږي.  د ازاد سمندر په اړه د په کال ۱۹۵۸ کې کنوانسیون داسې وايي:

د ازاد سمندر خپلواکي په دې ماناهیڅ ځانګړی هېواد نه شي کولای چې د ازاد سمندر کومه برخه باندې  خپل کورني صلاحیت عملي کړي ځکه دا سمندر د دولتونو ترمینځ مشترک سمندر دی. ددې دپاره چې ازاد سمندر د ټولو ګډه سیمه ده هیڅ هېواد نه شي

کولای چې خپل  قانون، صلاحیت او پولیس پرې وګماري او خپل صلاحیت پرې عملي کړي.

البته دا په دې مانا نه دی چې ازاد سمندر باندې هیڅ قانون باید شتون ونه لري، دا چې ازاد سمندر یوه نړیواله حقوقي موضوع ده نو  د عامه نظم د ساتلو لپاره کنوانسیونونه ټاکل شوي دي .

په نړیوال سمندر باندې د دولتونو باندې د حاکمیت استقرار د منع دلیل دادی چې د هر دولت اړوند ساحل او د نړیوالو اوبو اړوند ساحل د قوانینو د ټکر مخنیوی شوی وي. ددې کنوانسیون ۸۷ مه ماده چې په کال ۱۹۸۲ کې رامینځ ته شو د ازادیو په اړه داسې شرح ورکوي.

۱: د بیړیو ازاد تګ راتګ

۲: په ازاد سمندر باندې ازاده الوتنه

۳: د اوبو لاندې د کیبلو او نورو اړوند پایپونو د تیرولو ازادي

۴: په نړیوالو اوبو کې د مصنوعي جزایرو جوړول

۵: د ماهي نیونې ازادي

۶:  په ازاد سمندر کې د علمي تحقیقاتو لپاره خپلواکي

باید پاملرنه وشي چې د نړیوال سمندر ازادي ذکر شویو ازادیو ته محدودې نه دي او نورې خپلواکۍ هم درلودلای شي.

ازاد اسمان

د ازاد سمندر پر سر ازاده هوا د هیڅ دولت د ځانګړي حاکمیت تابع نه دی  او د شمالي او جنوبي قطب په څیرې په کې ازادې الوتنې کیدلای شي.

پر الوتکو باندې صلاحیت

دولتونه  پر الوتکو باندې ځمکني او شخصي صلاحیت ونه لري.  یوه الوتکه د هغه دولت تابیعت لري چې پکې نومورې ثبت شوې وي نو په دې اساس تابیعت لرونکی هېواد کولای شي چې په الوتکه کې مدني او ډیسپیلنري صلاحیت تطبیق کړي.

## د الوتکو تښتول

د ۱۹۷۰ کال د کنوانسیون مطابق په الوتکه باندې هرډول کنترول چې د زور او یا هم د قانون دماتولو له امله رامینځ ته شي ، نوموړي افراد او ډله د الوتکې تښتوونکو په نوم پیژندل کیږي. همدارنګه د مونټریال دا کنوانسیون بیانوي چې په الوتکه کې شته خلکو په وړاندې هرډول خشونت کیدلای شي چې الوتکې ته خطر پېښ کړلای شي نو په دې اساس یې دا ډول عمل جرم ګڼلی او د الوتکې د تښتونکو ترجرم لاندې په محاکمه کیږي.

## تړون

د هېوادو ترمینځ نړیوالې هوکړې ته تړون ویل کیږي. په وین کې د کال ۱۹۶۲ قانون د ۲مې مادې له مخې تړون هغه ډول هوکړې ته ویل کیږي چې هېوادونو ترمینځ په لیکلي بڼه ژمنې منل شوې او د نړیوالو حقوقو تابع وي.

د تړون لومړی شرط دادی چې ګټې یې باید د نړیوالو حقوقي مقرراتو تابع وي. تړون یا په دري کې ورته عهدنامه ویل کیږي د هغه قرارداد چې یوه دولت او یوه شرکت او یا هم دولت او فرد ترمینځ کیږي، توپیر لري. تړون یا عهدنامه کیدلای شي چې بېلابېل عنوانونه ولري چې هر یو یې په لاندې بڼه ذکر کوو.

۱: معاهده: معمولا هغه اسنادو ته چې رسمي وي او ځو اړخیزه بڼه ولري او همدارنګه ځو جانبه ژمنې ولري چې د نړیوالو سازمانونو لکه د کار نړیوال سازمان څخه تصویب شوی وي، معاهده بلل کیږي.

۲: پروتوکول:

هغه هوکړه لیک ته ویل کیږي چې د معاهدې څخه یې رسمي بڼه ټیټه وي او هیڅ وخت ددولتونو د مشرانو له خوا د سندپه توګه نه کارول کیږي.

۳: موافقتنامه:

موفقتنامه هغه سند دی چې د معاهدې او پروتوکول څخه یې رسمیت کچه ټیټه وي او د اغېز برخه یې هم محدوده او د زیات وخت ددولتونو ترمینځ په فني او مسلکي برخه کې د همکاریو لپاره لاسلیک کیږي.

۴: د تفاهم لپاره یادداښت:

د تفاهم لپاره یادداښت پخوا د یوه ډیپلوماټیک کنفرانس  د بهیر د ځرنګوالي د درج او ذکر لپاره کارول کیده خو اوس د دوه هېوادونو له خوا چې خپلواکه بڼه ولري د یو لړ هوکړه لیکونو په ډول کارول کیږي  او معمولا قانوني تصویب ته اړتیا نه لري.

لنډ مهاله موافقتنامه:

دا ډول موفقتنامې هغه موافقتنامو ته ویل کیږي چې د لنډ مهال لپاره کارول کیږي او په راتلونکې یې ځای اوږدمهاله هغه نیسي نو په دې اساس قانوني تصویب ته هم اړتیا نه لري.

د مبادلې یادداښت:

دا ډولو یادښت دولتونه  د خپلو ژمنو د رسمیت پیژندنې لپاره کاروي. قانون تصویب ته اړتیا نه لري. دا ډول یاد داښتونه کله کله د هېواد د نظامي او سیاسي نمایندګانو تر مینځ هم لیکل کیږي.

وروستی سند:

دا ډول سند هغه سند دی چې  د معاهدې لپاره د یوه کنفرانس بهیر او پایلې پکې ذکر کیږی.  وروستی سند یوازې د کنفرانس د ماموریت ځرنګوالی، د هېوادونو نومونه او یا هم د اړوند دولتونونومونه او ځانګړنې چې په دې کنفرانس کې ګډون کړی وي او څه یې په تصویب رسولي وي، ذکر کیږي.

عمومي معاهده

دا ډول معاهده هغه معاهده ده چې کیدلای شي رسمي او غیر رسمي بڼه ولري. د بېلګې په توګه په کال ۱۹۲۸ کې چې د مصر دعوا پکې په سوله ییزه بڼه حل شوه او وروسته  دملګرو ملتونو عمومي غونډې په کال ۱۹۴۹ کې د بیا کتنې وروسته  تصویب کړه.

الحاق

الحاق په دې مانا چې کله د هېوادونو ترمینځ  معاهده لاسلیک شوي نه وي خو د لنډمهال لپاره الحاق لاسلیک کیږي یانې په راتلونکې د اړوند موضوع لپاره د هوکړه شویو

شرایطو د منلو په مانا دی.  د یادولو وړه ده چې  د وین په کنفرانس کې د معاهدې د شرایطو په اړه په دوهمه ماده کې ذکر کیږي چې الحاق او منل د تصویب او د معاهدې د شرایطو د منلو په مانا دی او دا هغه یوازې طرفینو ته د سند رسیدلو وروسته صورت نیسي.

## د معاهدات لازم الاجرا

لازم الاجرا د طرفینو ترمینځ د تړون او معاهدې په موادو پورې اړه لري.  دا چې یوازې منل او یا هم که تصویب ته اړتیا وي  د نړیوالې  حقوقو په اساس هغه وخت لازم الاجرا کیږي چې کله ددواړو خواوو له خوا لاسلیک شي یانې د لاسلیک وروسته د تړون مادې د پلي کیدو وړ وي.

## ثبت او خپرول/انتشار

د ملګرو ملتونو د منشور ۱۰۲ مه ماده غړي هېوادونه اړ کوي چې ددولتونو ترمینځ معاهدات او تړونونه د لاسلیک وروسته د ملګرو ملتونو د عمومي سکرتریت سره یې ثبت کړي څو په دې معاهداتو کې ذکر مادو څخه سرغړونه ونه شي او غړي هېوادونه نه شي کولای چې ملګرو ملتونو د ارکان د بېلګې په توګه نړیواله محکمه له پامه وغورځوي. د عمومي سکرتریت له خوا دا معاهدات چاپ کیږي او د ملګرو ملتونو د عمومي تړونونو سره درج او ثبت کیږي.

## د معاهداتو اجرا

د معاهداتو وروستۍ مرحله یا ادغام او د همدې هېوادونو په کورنیو حقوقو کې یې ورځای کول او همدارنګه ددې معاهدې د ترسره کیدلو پرځرنګوالي باندې د نړیوالو ارکانو له خوا څار دی چې دا عمل ورته سیمې ته د نمایندګانو په لېږلو باندې اجرا کیږي.

## مدني خپلواکي

مدني خپلواکي او ازادۍ هغه حقوق دي چې په خپله ډیر ارزښت لري او د یوې مدني او ازادې ټولنې د خوځښت او فعاله ساتلو لپاره ډیر اړین دي. دا خپلواکۍ کیدلای شي چې د

فکر ازادي، د بيان ازادي، د مذهب ازادي، د ځای پرځای کيدنې او د ځای بدلونې ازادي، د حزب او کانون په تاسيس کولو کې ازادي، د بل حزب سره د يو ځای کيدلو ازادي، د ازادې محکمې د حق ازادي او همدرانګه د وګړي او شخص ازادي د مدني ازاديو له ډلې څخه شمېرل کيږي. دا حقوق او ازادۍ په حقيقت کې د حکومت د خپل سرۍ د کابو کولو لپاره ډيرې اړينې دي.

په ځينو نظامونو کې دا ډول ازادۍ د هغوی په اساسي قانون کې ذکر او پرې تاکيد شوی وي. مدني ازادۍ او بشري حقوق يو له بل سره نږدې تړاو لري او له همدې امله ټول دولتونه يې په پراخولو او رعايت کولو کې مکلف دي. زيات شمېر دولتونه پر دا ډول ازادی باندې لفظي تاکيد کوي خو حقيقت دا دی چې په نړۍ کې محدود شمېر هېوادونو دا ډول حقوق پلي کړي او رعايت کړي دي.

## ستراتيژي او تکتيک

ستړټيژي او تکتيک اصلا دواړه نظامي کلمې دي چې د نظاميانو ترمينځ مروجې دي خو بيا هم دا دواړه کلمې په يو شمېر نورو برخو کې هم کارول کيږي.

ستړتيژي د يوه پراخه، اوږ مهاله او هراړخيزه پلان د چمتو کولو په مانا ده او په دې لحاظ سياست پوهان هم په دوو برخو ويشل کيږي. ځينې يوازې د يوه تکتيک په کارولو باور لري چې لنډ مهال وي د بېلګې په توګه له کومو لارو کولای شي چې په ټول ټاکنو کې بريا ترلاسه کړي خو بله ډله هغه کسان دي چې اوږدمهال پلان لري د بېلګې په توګه د هېواد اقتصاد د رکود په حالت کې دی، څنګه کولای شي چې د منظمه پلانونو له مخې هغه ته په بدلون ورکولو سره نجات ورکړي؟

بايد وويل شي چې د نظاميانو په مينځ کې ستراتيژي سياسي ځانګړنه لري او تکتيک د نظاميانو له خوا فني عملياتو ته کارول کيږي چې له کومو لارو کيدلای شي چې د سياسي مشرانو له خوا ټاکل شويو موخو ته د عمل جامه ور واغوندي.

## پرستوريکا PERESTORICA

پرستوريکا او ګلاسنوست د پخواني شوري اتحاد په جماهيرو کې د سمون لپاره د ميخيال ګورباچوف د نقشې دوه اصلي محوره وټاکل. پروستوريکا په جوړښت کې د بدلون په مانا دی چې په لنډ وخت کې يې عقيدتي بڼه پيدا کړه او په ټول شوروي کې شهرت وموند. پروستوريکا د کال ۱۹۸۷ په جنوري مياشت کې د سيمې په کچه په حکومتونو کې د

ډموکراسي لپاره د ګام اخستلو او همدارنګه د اقتصادي سازمان د سمون په جلسه کې د کمونست ګوند به مرکزي کمیټه کې د جلسې پر مهال مطرح شوه .

دې مواردو د يو او بل سره تړاو درلود( موخه يې د اقتصادي او سياسي ازاديو څخه ده. ليکوال) ځکه ګورباچوف مرکزي سياسي دفتر په دې قانع کړی و چې  په شوروي کې د اقتصادي سمون د ناکاميو يو علت د خلکو په مينځ کې د ډموکراسي او سياسي ازاديو نه شتون دی.

په دې دليل پروستوريکا حتی په صنعتي کچه هم سياسي جنبه لرله. د بېلګې په توګه د مديرانو لپاره په ټول ټاکنو کې کارګرانو برخه اخستله او همدارنګه د بانکونو لپاره مديرانو په ټاکنه کې ې هم د کارګرانو هوکړه لازمه ګڼله. کله چې کارګرانو ته د ټول ټاکنو لپاره په سيمه ييزه کچه برخه اخستنه محدوده شول هغوی ته دا ازادي هم ورکړل شوه چې کولای شي چې د حزب له لوري وړپيژندل شوي مشرانو او يا هم  هر هغه څوک چې ددوی خوښ وي، هغه که د حزب د انتخاب څخه بهر هم وي، کولای شي چې دوی يې د ټول ټاکنو په پايله کې و ټاکي. همدا علت و چې پروستوريکا پراخه او د خلکو په مينځ کې شهرت وموند. په ټول کې پروستوريکا هغه څه دي چې د صنعتي تصديو مشرانو د کار لپاره د کارګرانو په مينځ کې د انګيزې په پيدا کولو کې يې اړين رول درلود. برعکس ګلاسنوست چې خپله لاره يې په ټولو برخو کې پيدا کړه، پروستوريکا په پرتليز ډول لږ پرمختګ وکړ.

ګلاسنوست  GLASNO-S-TE

ګلاسنوست د خلاصي سياسي فضا په مانا دی چې د ميخايل ګورباچوف له خوا په کال ۱۹۸۵ م کې د سياسي او اقتصادي سمون په راوستلو کې خپلو هڅو ته د پراختيا په موخه د پروستوريکا سره يوځای  مطرح کړ. ګلاسنوست د خلاصې سياسي فضا او د خلکو سره د اړيکې په مانا دی.  خو ډېر ژر يې د ازاد بحث،  په مطبوعاتو، هنر او ادبياتو کې د ټولو محدوديتونو څخه خلاصون او همدارنګه لمن يې نوره هم پراخه شوله او ټول هغه محدوديتونه چې استالين او ملګرو يې په خلکو باندې تحميل کړي ول ، خلاصون وموند.  د ټولو ازاديو له مينځه د مطبوعاتو ازادي، د انتقاد کولو ازادي او د مذهب ازادي چې د شوروي اتحاد خلکو څخه سلب شوې وه، بيا ورکړل شوه.  بايد وويل شي چې ګلاسنوست هم په اسانۍ سرهم عملي نه شوله. هرڅومره چې د مسکو څخه واټن ليرې کيده په همغه کچه د ګلاسنوست يا د ازادې سياسي فضا سره د حزب او واکدارانو له خوا مقاومت

زیاتیده. له دې ټولو ګواښونو سره سره په ټولو بنسټونو کې مطرح شوه او د ډیرو داسې قوانینو د لغوه سبب شوه چې د ازادۍ خلاف ول. ګلاسنوست کاملا له وړاندې شته فکر ته عملي بڼه ورکړه په دې خاطر چې ګورباچوف پوهیده او غوښتل یې چې مطبوعاتو ته د هغه شرکتونو په اړه چې ډیر اغېزمن نه ول او ددولت سره یو ځای کیدل، فضا روښانه کړي او پروستوریکا یانې په جوړښت کې بدلون ته هم عملي بڼه ورکړي.

## ګورباچوف څوک و؟

میخایل سرګی ویچ ګورباچوف د پخواني شوروي اتحاد وروستی مشر او په دې هېواد کې د وروستیو ټولو بدلونون مسول و. ګورباچوف په کال ۱۹۳۱ کې د روسیې د ققفاز په سیمه کې دنیا ته راغلی دی او هغه مسیر چې د هغه د وخت پر مهال نورو سیاست پوهانو طی کړی و ، نوموړي هم طی کړ. هغه په یوه مسلګي فارم کې د  یوه ماشین  دفني کاګر په توګه تجربه لاسته راوړه. هغه په یوه زراعتي موسسه کې تحصیل ته دوام ورکړ او له دې اړینه دا چې له یوه دولتي پوهنتون څخه د د حقوق په برخه کې لوړې زده کړې وکړلې. له هغې وروسته ژر ترژره حزب ته لار ومونده او ځینې مسولیتونه یې په محلي او ملي کچه باندې ومنل او ګام په ګام یې د خپل روزونکي او ترټولو خوښ یوري اندروپوف چې د کال ۱۹۸۲ څخه تر ۱۹۸۴ پورې د شوري اتحاد رهبر و، ځان ورنږدې کړ. د اندروپوف د مرګ وروسته چې ګورباچوف په هغه وخت کې ۴۹ کلن و، د کمونست ګوند د سیاسي دفتر غړیتوب یې واخېست او په کالک ۱۹۸۸ کې د حزب ریس او د هېواد رسمي رهبر وټاکل شو.

پرته له شکه چې ګورباچوف په شوروي کې بدلونونه د خپل ځان په شتون کې لیدل  او د شوروي اتحاد د اقتصادي وضعې پیچلتیا یې لیدله او حالاتو ته په انګیزه ورکولو یې باور درلود. هغه په ځانګړي ډول دا حالت چې شوروي اتحاد په یوازیتوب نه شي کولای چې بهرنی او کورنی جګړه ییزه سیاست  پرمخ بوځي. ګورباچوف دا ومنله چې په هېواد کې کاري عادتونه او  د صنایعوسوسیالیستي بڼه باید بدلون ومومي او کارګرانو ته انګېزې ورکولو لپاره باید بدلون رامینځ ته شي. ګورباچوف هڅه وکړه چې دا ډول بدلونونه د پروستوریکا او ګلاسنوست په عملي کولو سره چې دده خپله نظریه وه، رامینځ ته کړي. ګورباچوف یو سوله غوښتونکی کس و، هیڅ وخت یې ددولت او حزب نیغ په نیغه کنترول لپاره هڅه نه کوله. ګورباچوف د خپل حکومت څخه  چې ۱۹۸۵ څخه پیل و د هغه تر استعفا پورې چې په ۱۹۹۱ د ډسمبر په ۲۶مه نیټه یې ترسره شوله

په دې کچه لړه موده يوه داسې رژيم پايښت چې ۱۱ نور جمهوريتونه ورسره يو ځای ول دا حقيقت څرګندوي چې  مستبد او ديکتارو رژيم دوام نه شي کولای، يا بايد سياسي تحمل ولري او يا هم  خلکو ته رښتينې ازادي ورکړي، دريمه لاره  شتون نه لري.

هغه څه چې روښانه شول هغه دا ول چې په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د سياسي لښکر او همدارنګه د هېواد سياست يې له کابو وتلای و او په دې سره د هغه سياسي ژوند پای ته ورسيد ځکه په هېواد کې ناروين وروستۍ کچې ته رسيدلای و او روسانو په خپله ماضي پسې لاسونه مروړل او يوازې څه چې له لاسه يې پوره ول، هغه افسوس و.

سړه جګړه

سړه جګړه هغه کلمه ده چې ددوهمې جګړې وروسته يې شهرت موندلو او  د دوه لويوځواکونو د دښمنۍ هغه افراطي حالت ته ويل کيږي چې  وسله ييزه او سياسي مسابقې په خپلو کې ترسره کوي، هرډول له کرکې ډک غبرګون او فعاليت ديوه او بل په وړاندې ترسره کوي. يوازې نظامي جګړه يو دبل سره نه کوي. سړه جګړه په کال ۱۹۴۷ کې د برلين په محاصرې سره د شوروي اتحاد له لوري پيل شوه او په برلين او کيوبا کې د م بيزايلو د بحران له امله تر کال ۱۹۶۰ پورې تر وروستي حد پورې ورسيدله. د کال ۱۹۶۰ وروستی برخې پورې يې شدت را ټيټ شو او ځای يو او بل ته ننګونو وينوو.

 په دې کې شک نشته چې د ۱۹۸۰ کال په اوږدو کې هم د وسلو مسابقې هم ترخپلې کچې ورسيدلې، نظامي بوديجې لوړې شولې اود دوو لويو ځواکونو ترمينځ سياسي اله ګولو شدت وموند التـه ګورباچوف په شوروي کې قدرت  ته په رسيدا او ولمشر ريګان د امريکې د مشر په توګه راڅرګنديدلو وروسته نظامي او دفاعي  بوديجې راټيټې شولې او سړه جګړه پای ته  ورسيدله.  په دې وخت کې د اټومي وسلې د کابو کولو لپاره دداسې يوه ځواک چې اروپا هم په کې شامله وي، بحثونه ترسره شول التـه په دې کې شک نشته چې د ګورباچوف له لوري په بهرنۍ ګړنلاره کې هغه بدلونونه چې د وسلې پر کنترول يې ډير اغيز کاوه ددې سبب شو چې سړه جګړه د ډير وخت لپاره پای ته ورسوي.

هغه څه چې سمدستي يې د سړې جګړې د پای علت شو هغه په ختيځه اروپا کې د دوو بلوکومو ترمينځ کشمکش چې پايله يې د ناټو او وارشو ترمينځ په مخالفت تبديل شو. د سړې جګړې د پای ته رسيدلو علت  کيدلای شي چې دا ووايو چې د فارس جګړه چې روسيې د ملګرو ملتونو څخه په ملاتړ د متحده ايلاتو په مشرۍ سره د عراق په وړاندې پيل

کړه، بې لاخره روسیه د اوسني متحد المان څخه خپل ځواکونه وباسل چې  سړې جګړې  د میدان څخه یې نظامي بڼه لیرې کړه چې د سړې جګړې به دوام یې  لوی اغېز وکړ.

ځارګریزه(پولیسي) حکومت

دا هغه ډول سیاسي نظام دی چې د قدرت په راز کې چارواکي  پر خلکو باندې واک د پټو پولیسو، نظامیانو او یا هم د پټو او شخصي پوځیانو له لارې عملي کوي څو استبدادي حاکمیت په ټولنه باندې جاري وساتي.  دا ډول پټ حکومتونه د پردیو حکومتونو له لارې ساتل کیږي.

د هېواد جاري قانون  ته احتران نه لري او همدارنګه مدني قانون هم محترم نه ګڼي.  د دا ډول حکومت ځانګړنې دا وي چې اجرایه ځواک یا هغه چا سره چې دا ډول استبدادي واک وي د خلکو او یا هم د ځانګړو ډلوپه وړاندې پرته له دې چې جرم یې پر محکمه کې ثابت شي، هرډول سزا حتی د مرګ پریکړه هم کوي.

د دا ډول سرغړونو پایله دا وي چې د همدې دیکتاتوره ډلې لاسونه د هرډول زور لپاره خلاص وي، کله کله نیغ په نیغه عمل کوي او کله کله هم د سیاسي رهبرانو له لوري دا ډول عمل اجرا کوي چې په ټولنه کې د فساد او وحشت د پراختیا سبب کیږي.

د دا ډول نظامونو بېلګې یوه یې د المان د نازیانو حکومت و چې د پټې ادارې ګاشتاپو او د استالین په وخت کې د پخواني شوروي  سوسیالستي اتحاد نظام و چې د کې جي بي په مرسته یې په مستقیمه توګه او یا هم هغه څوک چې د سیاسي نظام مخالفت کې ول او حتی داسې څوک چې دا نظام یې نه خوښیده هم له مینځه وړل. په دې دواړو نظامونو کې په څرګند ډول قضایي پروسه طی کیدله  خو قضا د شته نظام  له نفوظ لاندې او هیڅ ډول واک یې نه درلود پرته له دې چې په پټه د نظام په خوله په مظنون باندې هرډول  پریکړه وکړي. کله کله به یې د محکمې لپاره دومره بېړه وه چې د کار ظاهري بڼه به یې هم نه طی کیدله.

د فشار ډله

د فشار ډلې هغه  ځانګړي سازمان ته ویل کیږي چې  د خپلو ګټو او یا د یوې خاصې ډلې د ګټو د ساتلو لپاره رامینځ ته کیږي او یا هم غواړي چې  کوم ځانګړي سیاست څخه ملاتړ وکړي او یا هم  کومه ځانګړي سیاسي موضوع څخه ملاتړ وکړي.  د فشار دلې په بیلا بیلو بڼو باندې کار کوي او د نظام په ځینو حساسو نقطو باندې فشار راوړي خو معمولا دوی نه

غواړي چې ددولت کوم ځانګړي موقف ته ورسیږي . د فشار هغه الې چې دا ډول ډلې یې په لاس کې لري څو ډوله دي.

د کارګرانو د خوراکي او کاري اعتصاب څخه نیولې او بیا هغه ډلو له خوا پر حکومت باندې فشار چې ځانونه په سیاسي لحاظ په حاشیه کې بولي او د خلکو یوه لویه برخه د حکومت سره د همکارۍ څخه لاس په سر کوي. معمولا دا خلک فشار د اله ګولې، شور او تبلیغاتو له لارې کوي او د حکومت په وړاندې په عملي تخریب کې لږه ونډه اخلي.

## عمومي سرغړونه

عمومي سرغړونه هغه اعتراضي ستراتیژي ده چې مهاتما ګاندي د لومړي ځل لپاره د جنوبي افریقا د قوانینو په وړاندې پیل کړه او وروسته یې د انګریزانو د مشرانو په وړاندې عملي کړه او د خلکو په مینځ کې یې شهرت وموند. دا چې دا ډول ستراتیژي د ګاندي له نوښتونه څخه ده او کنه په دې باندې اوس هم بحثونه کیږي خو ټول په دې پوهیږي چې دا لاره د ګاندي له امله شهرت وموند.

د مدني عمومي سرغړونې موخه داده چې زیات شمېر خلک په ښکاره راوغوښتل شي، له یوه ځانګړي قانون سرغړونه او نقض یې کړي او د هېواد له رسمي مقاماتو د اوامرو څخه نافرماني وکړي. عمومي سرغړونه دوه موخې لري: لومړی دا چې د ناسمو کړنو لپاره د ټولو پاملرنه او توجه لاس ته راوړي او دوهم دا چې دولت اړکړي څو د اعتراض اړوند امر څخه احتجاج ته اړ کړي.

په دې ترتیب چې پر دولت باندې کوم فشار وارد کیږي، په هغه کچه پراخ وي چې هغه اړ کړي چې خپله رویه او سلوک کې بدلون راولي.

په دې ٌصورت کې کله چې ددولت له خوا اړوند موضوع لپاره د بدلون وعده ونه شي نو دراتېول شوو خلکو اعتراضونه نور هم پراخ کیږي او احساسات رامینځ ته کیږي چې د ټولنې نور برخې هم له ځان سره کولای شي چې یو ځای کړي. د مدني عمومي نافرماني مهم اصل دادی چې دا ډول مبارزه پرته له تشدد څخه او د شونتیا ترکچې د قانون پرچوکاټ کې رامینځ ته کیږي. دا پدیده د یو ډول تکتیک په توګه کارول کیږي نه دا چې د عمومي سرغړونې او سولې ترمینځ کومه اړیکه شتونه لري. عمومي سرغړونې په نړۍ کې څو ځله رامینځ ته شوي دی، دولتونه په دې پوهیدلي دي چې لومړی باید ددې داډول سرغړونو په وړاندې جدي غبرګونه ونه ښودل شي او دوهم دا چې ددې باعث نه شي چې

د ټولنې د نورو برخو احساسات هم وازمويل شي.  په دې بايدپوه شو چې عمومي نافرماني د سوله ييزه اعتراض سره چې په ډموکراټيکه قوانينو کې حق ګڼل شوی دی، توپير لري.

## واټرګيټ

واټرګيټ په واشنګټن کې هغه عصري هوټل دی چې د کال ۱۹۶۳ او ۱۹۷۱ م ترمينځ جوړ شوی دی چې د هوټل په اجرايه برخه کې د کانګرس د مهمو غړو د شتون له امله خورا شهرت لري. د کال ۱۹۸۰م رادايخوا دا هوټل څو ځلې پيرل شوی دی. په کال ۱۹۹۰ کې يې ځينې برخې د څښتنانو ترمينځ سره وويشل شولې او څو نورو باندې يې ځينې نورې برخې هم خرڅې کړلې. په کال ۱۹۷۲ م کې د ډيموکراټ ګوند دفتر چې په هغه مهال په شپږم منزل کې و، لوټ شوله. اسنادو څخه يې انځورونه اخستل شوي ول، تلفونونه يې ټول اوريدل کيدل. د لوټ مارۍ په پايله کې وښودل شوه چې د ولسمشر نيکسون د ادارې لوړپوړو چارواکو ددې لوټ مارۍ اجازه ورکړې وه او بيا يې دا موضوع پټه کړې وه.
دواټرګيټ د موضوع دا سپکاوی  ددې علت شو چې ولسمشر نيلسون د اګست په نهمه کال ۱۹۷۴ کې له دندې استعفا وکړي. له هغه وروسته د واټر ګيټ کلمه د امريکې په سياست کې د سياسي سپکاوي او تهمت مترادفه کلمه شوه او ورته پيښوته د واټر ګيټ له کلمې سره تشبيح ورکول کيږي.